
**خط د تاریخ مبدا او پیل دی.**



# په افغانستان کې د خط او میناتور پېژندنه

**( دخومقالو ټولګه)**



**پوهاند محمد بشیر دودیال**

۱۴۰۰ ل. کال

کابل




د استاد میرزایی د خط بیلګه

**د مننې څرګندونه**

له نن څخه څلوېښت- پنځوس کاله مخکې هنر اوخطاطی د علاقې وړ هنرو. تر دې لا دمخه انځورګری او میناتور ډېر مینه وال لرل.بالعموم ښکلی خط سره ډېرو سواد لرونکو مینه لرله او ښکلی خط یې یو عالی مهارت باله. کلاسیک شاعرانو د خط ښکلا ستایلی او زیاتره یې ادبی صنایعو اوتشبه ګانو کی راوستی. اما له تاریخی پلوه خط او منیاتور تر دې هم اوچت ارزښت لري. دغه هنر څه موده مخکې د فرهنګی میراث په توګه د یونسکو د پام وړ وګرځیده، خو دثبت پر مهال، د افغانستان نوم هیر شو، دغې موضوع افغان فرهنګیان وځورول. د هرات فرهنګیانو دا موضوع په خپلو غونډو کی تر بحث لاندې ونیوله او نیوکه یې وکړه، ښاغلی حامدنوید هم دې برخه کې یوه مقاله خپره کړه. ما هم اووه پرله پسې مقالې په دې برخه کی نشر کړی او د هرات د میناتوری سبک می د ځانګړی سبک په توګه معرفی کړ چې هره ځانګړتیا یی جلا جلا ښودل شوی ده. دا دی له نیکه مرغه همدا نن (۱۴۰۰/۴/۱۰)خبر خپور شو چې یونسکو دافغانستان خط او میناتوری په فرهنګی میراث کې ثبت کړه.

له خط او خطاطی سره می له کوچنیوالی مینه وه او دښکلی خط برخه کی می د یوه اماتور په توګه ډیرې خواریٓ کړي دي. په دې لړکې دغه قلمهم دخپلو معلوماتو او مشاهداتو له مخې؛ پرله پسې اووه مقالې په دې هکله ولیکلی چې ځینو خپرونو نشر کړی، په دې توګه له دغو بیلابیلو خپرونو څخه مننه کوم چې زموږ د لرغونی هیواد دغه تاریخی میراث یې له هیریدو وژغوره.د ۱۳۹۹ل. کال په کب میاشت کې د ولسشمردوکتور محمد اشرف غنی په حکم په هرات کې (د امیر علیشیر نوایی افکارو ته نوې کتنه) تر سرلیک لاندې د دغه نامتو شاعر، ادیب، لیکوال، هنرمند او مدبر وزیرد زیږیدو د۵۸۰ م کال په مناسبت نړیوال سیمنار دایر شو. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د دغه نړیوال سیمنار لپاره دمقالو د لیکلو خبر خپور کړ. ما په ۱۳ مخونو کې (د افغانستان دخط او میناتوری سبک او په دې برخه کې دامیرعلیشیرنوایی رول) ترعنوان لاندې یوه مقاله ولیکله او د تدارک د کمیسیون منشی آغلی خور محبوبی بابکر خیل ته مې وسپارله. څو ورځې وروسسته قدرمن ورور عزیزالله آرال خبر راکړ چې مقاله سیمنار ته د منل شویو آثارو په لست کې ومنل شوه، د ۱۴۰۰ل. کال د وري په میاشت کی دغه مقاله د دغه نړیوال علمی سیمینار د مقالوپه ټولګه کې، له پیغامونو او په پنځو ژبو نورو لیکل شویو مقالو سره چاپ شوه.

په دې توګه د افغانستان تاریخ او کلتور ته د ولسمشر له ځانګړې پاملرنی مننه کوم او ددوی توجه دې برخه کی د درناوی وړ بولم. همدا راز د افغانستان دجمهوری ریاست دعالی مقام د دفتر رییس محترم محمد شاکرکارګرڅخه مننه کوم چې د دغه علمی سیمینار ټولې آسانتیاوی یی برابرې اوخپل پیغام یې استولی و، د امیرعلی شیرنوایی د تلین د نمانځنې د کمیسیون له ټولو غړو، په تیره بیا د دغه کمیسیون

درئیس جناب عزیزاللهآرال، آغلی خور محبوبه بابکر خیل، د اطلاعاتو او فرهنګ دوزارت د مقام د دفتر رییس صاحبجناب احمدزی څخه مننه کوم چېدسیمنار تر وروستۍ ورځې یې د دغه نړیوال سیمنار چارې ډیرې ښې او منظمې مدیریت کړی.د افغانستان دملی آرشیف له رییس محترم محمد افسررهبینڅخه مننه کوم چې دملی آرشیف دخطی آثارو او تاریخی اسنادو په کتنه کې یې راسره مرسته وکړه. په تهران کې د افغانستان له لوي سفیر ښاغلی ډاکتر عبدالغفورلیوال څخه مننه کوم چې په ایران کې یې د افغانی میناتور او خط آثارو سره بلد او یو شمیر افغان هنرمندان او د دوی آثار یې راته وښودل چې په دی رساله کې یې بیلګې راغلي دی. له دغه ویبسایدڅخه د زړه له تل څخه مننه کوم چې د دغې رسالې ډېر عالی ډیزاین، دیجیتل او آنلاین کولوچارې یې سمبال کړی. د ټولو دې کور ودان وي.

په درناوي

۱۴۰۰/۴/۱۰

**سريزه**

هنر او هنری ابداعات د انساني فعاليتونو هغي مجموعي او آثارو ته ويل کيږي چې پر عواطفو او احساساتو باندې د اغېزې کولو او د ځانګړې معنا او مفهوم لېږدوونکی او د باريک تخيل زيږنده وي. په دې توګه هنر د طبيعت له نورو ښکارندو سره په دې باندې توپير لري، چې په دغه باريک او له رمزو ډک تخليق کې د هنرمند احساس او تخيل دخيل وي. هنری ايجاديات د بشر د هستوونکی خلاقانه ځواک څخه رامنځته شوی ابداعات دي. په دې کې خطاطی، ميناتور او تذهيب تجسمی هنري فعاليتونو دي چې له ادب، تياتر او موسيقی پرته د هنر جلا ځانګړې څانګې جوړوي. په افغانستان او يو شمير نورو اسلامی هيوادو کې د هنرونو دغه څانګه په سپيڅلو اماکنو، د قران عظيم الشان په تذهيب او تجليد او ډيرو نورو مواردو کی د درناوی وړ هنر دی.

هنر په عامه توګه د ښکلي، ګټور او يا هم ښکلي او هم ګټور محصول د توليد لپاره پر عمل باندې د علم تطبيق کول دي. دښکلی خط او ميناتور يا تذهيب دهنر موخه ښکلا مجسم کول وي. ښکلی خط او ميناتوری د هنر د کورنۍ مهم غړي دي، چې په شرقي ټولنو کی د هنری اوصافو ترڅنګ معنوی جاذبه هم لري. د افغانستان په ښکلو هنرونو کی يو هم ميناتوری او خطاطی ده چې د دغه هيواد ډيرو سيمو او ښارونو کې لرغونی تاريخ لري او اوس هم ډير مينه وال لري، خو د هرات دميناتوری او خط سبک نړيوال پيژندل شوی سبک دی. دغه سبک په تيره بيا؛ د ګوډ تيمور له خونړی يرغل وروسته، کله چې په هيوادکې بيرته حالاتو ټيکاو وموند او ولس يو څوکاله د ارام سا واخيته، وغوړيد. په تيره بيا د خط، خطاطی، ميناتور، د قران عظيم الشان، تفاسيرو اوديوانونوکتابت،د اميرعلی شيرنوايی له خوا ډير وهڅول شو او د بايقرا ددغه منور وزير په پاملرنه اوج ته ورسيد. امير علی شير نوايی د دغه هنر په هڅونه، وده او غښتلتيا کی رغنده رول درلود. البته د سلطان حسين بايقرا دغه مُدبر او هوښيار وزير د اسلامی معاريفو، ودانی جوړولو، ادبی ايجادياتو اقتصادی، سوداګريزو او مدنی نورو لاسته راوړنو کې هم بريالی و. اميرعلی شير نوايی دپراخ نظر او بی تعصبه فکر لرونکی و. سره له دې چې تر دې مهاله په افغانستان کې په دری او پښتو اشعار او ديوانونه موجود وو، خو په تورکی ژبه چندان زيات آثار نه وو، نوايی په تورکی ژبه شعرونه وليکل او په دې ډول يې دژبو د انکشاف له پلوه د افغانستان وير فرهنګ ته يو لوی خدمت وکړ. نوموړی په عربی ژبه هم دخبرو کولو او هم دليکلو توانايی لرله. زموږ بحث د ادب او دهنر د نوروډولونو په هکله نه دی، خو د دغه وزير په دوره کې به د ښکلی خط او ميناتوری او دغه هنر ته د نوايی د پاملرنې په هکله خبرې وشي.

**فرهنګ د ملتونو د هويت وثيقه**

فرهنګ د هر ملت د ژوند هينداره او د ملی هويت وثيقه ده. افغانستان د يوه لرغونی او تاريخی هيواد په توګه د بډای مادی او معنوی فرهنګ لرونکی او له دی پلوه په سيمه کی، د آبداتو او فرهنګی بډای ميراث

له پلوه  یو بیساری هیواد دی. سره له دی چې په دی وروستیو کی  د دی هیواد فرهنگی میراث ته لوی زیان واوښت، خو بیا هم موږ دخپل باعظمته کلتوری میراث او  فرهنگی شتمنیو په خوندیتوب او نړیوالو ته د هغو په معرفی  کی دروند مسئولیت لرو. زموږ ملی مفاخر  او د فرهنگ ځلول او گاونډیو هیوادو سره فرهنگی مشترکاتو ته انکشاف ورکول  یو ملی مسئولیت او د افغانستان لپاره یو فرصت دی. د افغانستان د نورو کلتوری آثارو په لړ کې یو هم دمیناتور او خطاطی هنر دی. دغه هنر له پیړیو راهیسې  زموږ په هیواد کې دود و، مینه وال یې لرل او آن داچې په زموږ د اسلامی معاریفو او عرفان سره یې کلکه اړیکه لرله او لري یې. د ښکلی خط او میناتوری په برخه کې د هرات ځانگړی سبک نړیوال نوم لري، چې گڼ شمیر کورنیو او بهرنیومورخینو او لیکوالو په دې هکله څیړنې کړې او هغه یې معرفی کړی دی. د دغه سبک بنسټ د امیرعلی شیرنوایی پرمهال کیښودل شو. د امیر علی شیرنوایی رول د سلطان حسین بایقرا پرمهال د هرات د هنری او ادبی ایجادیاتو برخه کې ډیر جوت و، د نورو هنری، علمی او ادبی کارونو او ایجادیاتو ترڅنگ یې د هرات د خط او میناترو ځانگړیمکتب یوې مترقی مرحلې ته ورساو. دسلطان حسینبایقرا او د ده د مُدبر وزیر؛ امیرشیرعلی نوایی دوره، دتیموریانو د کورنی د نورو غړو په پرتله  یوه د رغاونې دوره  بللای شو چې د ډیرو بدیع، نویو او پرتمینو لاسته راوړنو لرونکی وه. په دې کې یو هم د خط او میناتوری هنر یادولای شو.

له بده مرغه په افغانستان کی هنر لکه د نورو ښکارندو په شان، د تاریخی ناوړه پیښو له امله له ډیرو بدلونو سره مخامخ شو، یعنی ځینی وخت د متعصبو کړیو له خوا زندۍ شو. لکه د بچه سقو پرمهال، دتنظیمی ډلو پرمهال اود طالبانو پرمهال او ډیر ځله تیری او تاړاک لاندی راغلی دی، لکه د چنگیز پرمهال. ځینی وخت متاسفانه تر کلتوری یرغل لاندی راغلی دی.

له تاریخی پلوه زموږ هیوادکی هنر او هنری ایجادیات او په هغې ډله کی میناتور او خط  د نورو ټولنیزو او کلتوری پیښنو سره یو ځای له نویوتحوالاتو، هڅونو، مادی او معنوی ملاتړ سره مخامخ شوی دی او ځینی وخت بیلابیلو تعصباتو سره مخامخ شوی دی.  دا د میناتور اوخط او په مجموع کې د هنر او زموږ د فرهنگی میراث  لوړې- ژورې دي.

 د افغانستان تاریخی تیر مهال ته په کتنی سره په دی باندی پوهیدلای شو چی دغه هیواد په بیلابیلو دورو کی د هنرپالنوبی و او د راز راز هنرونو په پرمختگ کی یې مهمه برخه درلودله. افغانستان په اسلامی دوره کی د بیلابیلو هنرونو رامځته کوونکی او د هنری بیلابیلو سبکونو او ډولونو سرچینه وه. د تاریخ په بیلابیلو دوړو کی زموږ په هیورادکې د میناتوری هنر، ادبیات، دښکلی خط هنر او نور هنرونه خپل لوړ پړاو ته رسیدلي دي.

د دغی څیرنی لومړنۍ موخه تر هر څه دمخه د افغانستان د میناتور پیژندنه او په دی برخه کی د ترسره شویو چارو ارزونه ده، په دوهم گام کی د افغانستان د یوشمیر خطاطانو او میناتور هنرمندانو معرفی ده. د هر هیواد د هنر په ارزونی سره کولای شو د اړونده ټولنی گڼ شمیر عقاید، فرهنگی اړخونه او گروهی وپیژنو. او د هیواد څو اوسنیو هنرمندانو څو آثارو ته په کتنی سره یی میناتور څیرلی دی

**د خط او میناتور اود میناتوری اقتصادی اړخ**

خطاطی او میناتوری یو ډیر باریک او ظریف  هنر دی. له یوې خوا یې خام توکي(په تیره رنګونه) ګرانبیه مواد دي، له بلې خوا د ډیر دقت، وخت او زحمت غوښتونکی تخلیق دی. میناتوریعنی ریزه کاری او په باریک مویک سره کار کول، دبیلابیلوتتو، روښانه، ګډو، خالص او مخلوط رنګونو جوړول او په هغو باندې منظرکشي. په تیره بیا د اسلامی دور دمیناتورپه هنر کی هم همدغه معنا نغښتی ده چی د عرفانی ژورو مفاهیمو د بیانولو لپاره له سمبولونو او رنګونو کار اخیستل کیږی، او سمبول د خبرو او کلماتوپه توګه کار ورکوی.د دغه کار په بهیر کې په سترګو ،ګوتو، اوږو او مغزو  ډیر فشا راځي. اما پایله یی د یوداسی نفیس او ښکلی اثر رامنځته کیدل دی، چې په مشکله ورته مقداری ارزش ټاکلای شو. موږ ډیر اوریدلي دي چی د یوې هنری تابلو د پلورلوپرمهال ډیر کسان د هغو د پیریدلو لپاره حاضر شوي دی او بیه یی وار په وار دمزایدی په ډول  له هغې بيې څو ځله اوچته شوې چې ورته ټاکل شوی وه. بهرنیو او زموږ. نږدې ګاونډیو هیوادو کې د دغې هنري څانګې ماهرین ډیر مرفه ژوند او په ټولنه کې درناوی لري. ډیر خلک هنری ذوق لري او حاضر دی چې یوه د خطاطی یا میناتوری تابلو، یو ښکلی انځور، یوه د رسامۍ منظره او دې ته ورته نفیس آثاروپیري او دخپل کور په ترټولو لوړ او مناسب ځای کې یې کیږدي. موږ د پذیرایی او د درنو میلمنو دناستې سالونونو کې ډیرې قیمتی منظری او تابلوګانی وینو. که فرهنګی صفت څخه تیرشو، ویلای شو چې د خطاطی او میناتوری د لوړ معنوی ارزش ترڅنګ یو کاروبار هم دی. البته هنرمند هیڅکله نه غواړي خپل تخلیقی اثرته مادی قیمت ورکړی یا یی د سوداګری په موخه وړاندې کړي، خو بیا هم یوشمیر خطاطانو او میناتورانو غوښتي چې د معنوی خدمت ترڅنګ، خپل هیوادوال او د هرونو مینه وال هم دخپل هنری ایجاد څخه محروم نه کړی. نو په دې دلیل، دغه بوختیا د یوه شوق  او ذوق ترڅنګ د یوه کاروبار حیثیت هم لری.دا ډول کارونه، په تیره بیا هغه بوختیاوې چې هنری اړخ هم ولري، له روانی پلوه ډیر تسکین بخش او له روغتیا سره مرسته کوونکی دي.

یو شاعر د خط فرهنګی ارزښت او د خط په واسطه د مادی احتیاجاتو د پوره کیدو په هکله وایی:

خط خوب از هنرهای بی نظیر است

چو روح اندر تن برنا و پیر است

اګر منعم شـــــــدی ارایش است

وګر محتاج ګشتی ، دستګیر است

یو بل شاعر ویلی دی:

ګرم است به هر زمانه بازار قلم

بهتر ز همه شـــغل بود، کار قلم

په اقتصاد کې دې ته کوچنی کاروبارونه وایی. کوچنی کاروبارونه  په حقیقت کې محلي شوي صنایع (localized industries)دي چې د یوه پرمختیایی هیواد لپاره د دوی  د لومړنی او نوي په پښو دریدلی صنعت( infant industry) یو پیاوړی بنسټ جوړوي.سره له دې چې چین ته دنړۍ فابریکه وایی او ټول تولید یی ماشنی او صنایع یی ډیرې پرمختللی دی، خو بیا هم په دغه هیواد کې  ددوی لاسی مستظرفه صنایع د دوی په اقتصاد جی مهم ځای لري.  آلمان د اروپا ډیر پرمختللی صنعتی هیواد اود ایرو په حوزه

کې د غښتلي اقتصاد لرونکې دی، خو اوس هم په دې هیواد کې زرګونه لاسی صنایع، کوچنۍ حرفې او مستظرفه تولیدی کارځایونه شته. نو دغو هیوادو ته په کتنې سره یې، یو اقتصاد پوه او د اقتصادی چارو شنونکی مادی اړخ ته هم اهمیت ورکوی، سره له دې چې ممکن فرهنګی څېړونکی ورسره موافق نه وي. راقم الحروف؛ د دې مقالولیکوال، دخط او میناتور هنر ته لومړی د یو هنر په توګه درناوی کوم او معنوی ارزښت یی لوړ ګنم، خو د اقتصاد د یوه شاګرد په توګه یی مادی اړخ هم د کتنې وړ بوولم.

افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د دې امکانات نلري، چې لوی او ثقیله صنایع چې اتومات، الکترونیزه او پوره میکانیزه وي، شروع کړي. بلکې لکه د نورو وروســـته پاتې هېوادونو غوندې د وړو کاروبارونو ( small business)ایجاد ورته مناسب او مهم دی. په دې کې شاید زیاته برخه یې لاسی او مستظرفه کاروبارونه وي، چې نن ورځ اوچت ارزښت لري. د اقتصادی نظریاتو تاریخ او د بیلابیلو هیوادو تجار ب ښيي چې، د پرمختیا په لومړیو پړاوونو کې د کوچنیو صنایعو او کاروبارونو ګټورتوب زیات دی؛ دا ځکه د داسې هېوادونو وګړي د سترو کمپنیو د جوړلو وس نه لري، نوهمدا کوچنی تجارتونه(بزنسونه) او کارونهورته ډېر مساعد دی. په افغانستان کې د وړو کاروبارونو د ایجاد اړتیا له دې څخه ثابتولای شوچې، ډیر افغانان بېکاره دي او کلونه کلونه د دندې په لټه کې دي، خو خپله ددې فکر نه کوي چې یو عادي کار وبار را پیل کړي. په نوره نړۍ کې د دولتي دندو سربیره، شخصي کمپنی (خصوصی سکتور) په زیات حجم سره کارمندان استخداموي چې په افغانستان کې دا برخه په نشت حساب ده، نو د استخدام د فرصتونو د ایجادولو لپاره لازمه ده چې کوچني کاروبارونه رامنځته شي. لکه نیکه مرغه دافغانستان یو شمیر کوچنی او لاسی کاروبارونه لکه ګڼ اوبدل، غالی، کاشی جوړول، زرګری، ټغر او لمڅي، میناتور، درسامی منظری او خطاطی ډیره ښه شهرت او مارکیټ لري. له بده مرغه همدا اوس دغه ډول آثار له ګاونډیو هیوادو واردیږی. آن داسې هم لیدل شوي دي چې د یو جومات یا دینی مدرسی او تکیه خانې او مصلا لپاره مو له بهر څخه میناتور او خطاط راغوښتی دی.

کوچني یا واړه کاروبارونه هغه دي چې په فردي ډول یاهم په ټولیز ډولتولیدات او خدمات ارایه کوي، چې موخه ورڅخه د عاید تر لاسه کول وي. دغه ډول کاروبار لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او غټې پانګونې په پرتله لږ وي، خو ځینې وخت یې بیه ډیره اوچته وي.په کوچنیو کاروبارونو کې د ګڼ کتلوی صنعت په پرتله کم شمیر کسان په کار بوخت وي. کله چې په اقتصاد کې د نویو تجارتونو په اړه خبرې کیږي، نو ډېر وخت د تجارت له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لپاره د پراخ ځای، او ډیر امکانات معنا او مفهوم ذهن ته تداعی کیږی. حال دا چې هر عاید لرونکی کاروفعالیت په خپله یوه سرمایګذاری او تجارت دی. توپیر په دې کې دی چې پرمختیایی هیوادونه له کوچنیو کاروبارونو شروع کوی او لوی ثقیله صنعت او لویې پانګونې ته رسیږی. زیاتره هغه هیوادونه چې اوس ښه اقتصاد لری له کوچنیو تجارتونو څخه یې پیل کړی و، دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د کوچنیو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي. په تیره بیا چې زموږ هیواد کې یې د پرمختګ ښه امکانات شته.

**د دغو مقالو د لیکلو انګیزه**

زه د دې کرښو لیکوال، د سپیني خاوری، د لرګي د دړې، سیاهی او د نیی قلم د دوری شاګرد یم. پلار به مي سرنامي او ملاطفي راته لیکلی او ما به څوڅو ځله ورلاندې د زده کړې په خاطر بیا بیا لیکلی. پلار می دینی عالم و او ډیرپوخ او ښکلی میرزایی خط یې درلود. دعاوسلام، با صد شوق تمام، به خیریت انجام، مانندریګ بیابان ... ازینطرف ... تر درساعت نیک برسد به یې عجیبه لیکنه کوله. دمور له خوا مي نیکه؛ مولوی عبدالواحد د سیمې یواځنی سواد لرونکی او په جریب کشی پوه سړی و. کله به یې چې

دجایداد او پټیو جریب کشی ورثه وو ته وکړه، بیا به یی له هغو څو محدود پانو څخه چې په ټوله سیمه کې به یواځې له ده سره وی یوه یا دوه به یې راواخیستی او(راپور) به یې په کې (درج) کړ، ورثه او یا دترکې طرفینو ته به یې بیل بیل نقلونه ترتیبول. دهغې ورځې په غرمه به د دغو زمکوالو میلمه و. عجیب وخت و!

نیکه مې یووخت بیا زموږ دسیمې لومړنی ابتدائیه ښوونځی جوړ کړ چې وروسته تر لسو کلونو د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پرمهال رسمی شو. دهغه وخت شاگردان یې دوه – درې تنه اوس هم ژوندي دی چې له هیواد بهر مهاجر دي. یو تن یی د هیواد نامتو ډاکټر په میوند روغتون کی موظف طبیب و چې څو کاله مخکې وفات شو. نیکه می دغه ښوونځی ته د کروتو په شان غونډاری غونډاری سپینه خاوره او پریمانه نیی راوړی وو چې شاگردانو ته یې ورکول. له دغو امکاناتو او انگیزو څخه ماسره د خط او خطاطی مینه پیدا شوه او د ښوونځی په دوره کی مې ټولیگوال خط ته حیران وو. تر اوسه هم خط او خطاطی سره مینه لرم او په خپل کور کې د میناتوری د تابلوگانو لیوال یم. په دغو مقالو کې مې په دې اړه یو خاطره هم شه. اما د دې مقالو دلیکلو مهمه انگیزه دا ده:

تقریباً څلور میاشتی دمخه یونسکو دخط او میناتور فرهنگی میراث د بشریت د معنوی یوې غوره پانگې په توگه ثبت کړ، چې متاسفانه دافغانستان نوم پکې نه وذکر شوی، دا په داسې حال کې چې پنځه سوه کاله مخکې زموږ هرات د میناتور او ښکلي خط د یو ځانگړي سبک مهد او ټاټوبی پیژندل شوی و. موږ ته د یونسکو په دې کار گیله پیدا شوه، هرات کی د میناتور اوخط قدرمنو هنرمندانو هم گیله وکړه، ښاغلی حامد نوید صیب یو لیک په اریانا افغان انلاین AAO()سایت کې خپور کړ او دغه سایت یوه اقتراح هم پیل کړه، دغه مقالی د همدې لپاره ولیکل شوی. وروسته بیا د اطلاعاتو اوفرهنگ وزارت د امیر علیشیرنوایی نړیوال سیمنار اعلان کړ، نو دهغې علاقې له مخی چې د دغه ښکلي هنر له مادي او معنوي اړخونو سره مې لرله د مقالو لیکل مې پیل او پرله پسې مې اریانا افغان انلاین ته واستولی، کور یې ودان ټولې یې خپرې کړي. له دې بابته له ښاغلیو انجنیر صاحب هومان اونوري صاحب څخه مننه کوم. دا دی اوس مې نیت وکړ چې د اطلاعاتو او فرهنگ د وزارت بلنې (فراخوان ) ته لبیک ووایم.

**اهمیت**

فرهنگی میراث، دهغه معرفی او ساتنه د هر ملت هیله ده. دملگرو ملتونو یو لوی سازمان (UNISCO)هم په همدې موخه له هیوادونو سره مرسته کوي او دبشریت د لویې کورنۍ دفرهنگی تنوع، بډایینې او معرفی موخی او ماموریت یې ځانته ټاکلی دی. د یونسکو د سازمان د اساسنامې یوه برخه کې لیکل شوی: "د دغه سازمان اهداف په نړۍ کې د تاریخی آثارو ساتنه، معرفی او د پوهنې وده، کلتوري میراث ساتنه، د هیوادونو ترمنځ په دې برخو کې د معلوماتو راکړه - ورکړه، ده". نو ځکه خط او میناتور، چې افغانستان یې د یو ځانگړی سبک دپیدایښت محل(مسقط الراس) دی، د یونسکو له اساسنامې او اهدافو سره سم؛ زموږ دنده ده چې معرفی یې کړو او د فرهنگی میراث په توگه یې ساتنې ته پاملرنه وکړو.

د دغی لیکنی یوبل اهمیت به  دا وي چې زموږ د فرهنگ یوه برخه (خط او میناتور) به معرفی او راتلونکو نسلونه ته به وروپسژندل شي او له هیریدو به  وژغورل شي. دخپل اصیل کلتور ساتنه د خپلې ملي جغرافیې  او ملی هویت د ساتنې معنا لري. د دغه اثر په لوستلوسره به دځوانانو مینه مطالعی سره زیاته، معلومات به یی پوره،  خپل بډای فرهنگ او یو شمیر تاریخی پیښو سره به آشنا او دخط او میناتور له هنر سره به  یې مینه زیاته شی.

ویښ ملتونه په دومدار ډول د خپل هیواد لاسته راوړنې، دخپلو ملی ادارو کاري بهیر، نړیوالو سره تعاملات او نور ټول سیاسی، ټولنیز، اقتصادی، کلتوری مسایل څیړي، کره کتنه ورباندې کوي، ښه والی پکې راولي او دبشپړتیا په لوری یې بیایي.

**هدف**

د مقالی اصلی موخه د هرات د میناتوری د سبک دځانګړنو پیژندنه، په افغانستان اولرغونی هرات کې د نامتو میناتورانو او خطاطانو پیژندنه او په پنځلسمه میلادي پیړۍ کې دې برخه کی د امیر علی شیرنوایی پر مهموخدماتو رڼا اچول دي. دمقالې بل یا دوهم هدف  دا دی چې دهرات میناتور یو ځانګړی مکتب و چې افغانستان یې په خپل نوم د پیژندنې حق لري. نو ځکه مې د دغه سبک ځینی مهمې ځانګړنې ومونډلی او دلته مې ولیکلی.

**میتود**

دغه لیکنه توصیفی – تحلیلی اړخ لریاو د کتابتونی څیړنیپه بنه بشپړه شوه چې د هغې په لیکلو کې له معتبرو تاریخی، علمی او ادبی آثارو استفاده شوی ده. دغه آثار د دغه کتابګوتې په پای کې معرفی شوي دي.

**تیرو ادبیاتو ته کتنه**

افغانستان له ډیر پخوا د ادب او هنرونو په برخه کې د نامتو څیرو او عالی استعدادونو لرونکی و. له بده مرغه دغه هیواد ډیرځله د ټولنیزو بحرانونو، د پردیو دتیری،  طبیعی ناوړه پیښو، تحمیلی جنګونو او داستعمار تربرید لاندې راغلی، خو کله یی چې وضعیت ثبات موندلی او ځان یی له استعماری ځواکونو څخه مستقل کړی، نو بیا یی په ډیرعالی ډول خپل مدنی او ټولنیز ژوند سمبال کړی اود مادی او معنوی ترقی ګامونه یې اوچت کړي دي. افغانانو د هربحران له تیریدو وروسته خپل ژوند ته بیا له سره کتنه کړی او د تاریخی پیښو جریانات یی هم ثبت کړي دي. دهغه وخت یو شمیر آثار لکه د خوندامیر مکارم الاخلاق ، د زین العابدین محمد بن امیری بدایع الوقایع، د حیدرمرزا تاریخ رشیدی،روضة الصفا، حبیب السیر او نور اوس هم زموږ په واک کې دی. په افغانستان کې د ښکلی خط او میناتور او په دې لړ کی د امیر علی شیر نوایی د دوری په هکله هم د کورنیو لیکوالو او څیرونکو او هم د بهرنیو څیرونکو او مورخینو آثار شته چې یو شمیر یې دادي:

آریانا دایرة المعارف دوهمه دوره پنځم ټوک، ۱۳۸۹د نبراسکا مطبعې چاپ د هرات میناتوری، دنوایی ژوندلیک او دمیناتور هنر ښودلی دی، همدارنګه عبدالحی ګردیزی هغه نامتو مورخ دی چې دافغانستان دتاریخ کلتوری ، ادبی او فرهنګی مسایل یی ډیر ښه توضیح کړي دي. د ده په آثارو کی د عرفان ،تصوف اواسلامی معاریف ترڅنګ، یوشمیر مسایل او له هغې جملی تعلیم او خط، مدارس او فرهنګی تعلیمی مرکزونه او د هغو وضعیت ترسترګو کیږي.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبی د افغانستان د هنر او ادب مشاهیر راپیژنی. د دغه پیاوړی او نامتو لیکوال ډیریې لیکنی د سیمی او په تیره د افغانستان په هکله دی چې په نورو ژبو هم ژباړل شوی دی او د ډیرو لیکوالو او مورخینو معتبر اخځ بلل کیږي. اروابناد حبیبی دهرات د اوومې پیړۍ حوادث او په دې ترڅ کې فرهنګی فعالیتونه ښه روښانه کړي دي. هغه ویلی چې هرات دا مهال د مدنیت او تجارت یو مهم مرکز و چې د هنر او پوهې رڼا یې ډیرو نورو سیمو پووري هم رسیدلې ده.

دهیواد نامتو مورخ، اروابناد میرغلام محمد غبار خپل نامتو اثر( افغانستان د تاریخ په تګلوري کې) د تیموریانو پردوره تفصلی لیکنه لري، چی یوه لویه برخه یې د تیموریانو او د امیرعلی شیرنوایی د فرهنګی چارو په هکله ده. دغه مورخ د تیمور یرغلونه او په خلکو باندې ظلمونه تشریح کړي دی، هغه یې یوداسې دکتاتور ښودلی چې په خپل شخصی فکر یې ډډه لګوله، خو دهیچا مشوره یې نه منله. وروسته تر مړینی یی ۳۶نارینه اولادونه پاتې شول. ده پسې شهرخ او هغه پسې الغ بیګ او بیا تر سلطان حسین پورې څو نوردافغانستان حاکمان شول، په دوی کې سلطان حسین مرزا چې په ۱۴۶۸ کې په هرات کې واک ته ورسید، یوڅه سوله خوښوونکی و، نو ځکه یې د وینی تویولو پر ځای ودانیزو چارو ته پاملرنه وکړه. څومره چې ثابته شوی ده، دا اصلاً دده د هوښیار وزیر امیرعلی شیرنوایی تدبیر و چې ده ته یې نیکی مشورې ورکولې. دغبار په حواله؛ دهرات ادبی مکتب او د دې ترڅنګ د خط او میناتور سبک په خپل وخت کې ممتاز او پیژندل شوی وو. په ۳۲۴ مخ کې دنامتو شاعرانو او لیکوالو نومونه داسې یادوي: معین الدین حسین، کاشفی واعظ، نورالدین عبدالرحمن جامي، میرخوند، مولانا لطیفی، مولانا بینایی او په خپله علیشیرنوایی، چې په دری او تورکی ژبو یې ۲۹ آثار لیکی وو. هغه پراخه زمکې لرلې چې دیوې ورځې حاصلات یې ۷۵زره دیناره کیدل او ده د دغو عوایدوډیره برخه په مدرسو، علماوو او دفرهنګ په وده او خپرولو لګوله، دغه وزیر دیرش کاله په دې لاره کې خدمت وکړ او ۳۷۰لویې خیریه چارې یې ترسره کړی، خو د دغو عامه چارو(امورجمهور) په وړاندې یې کومه حق الزحمه نه اخیسته. تاریخ لیکنه دا وخت د پام وړ وګرځیده، مثلاً روضة الصفا او حبیب السیر همدا وخت ولیکل شول، خوش نویسی دومره پرمخ تللی وه، چې دهغه وخت نامتو خطاط اوکاتب مولانا معروف به په یوه ورځ کې د شاعرانو د دیوانونو ۱۵۰۰ بیتونه چې ۱۵۰۰ کربښې کیدې، لیکلی. او د زرګونو خطی نسخو خطاطاان له افغانستان څخه شاوخوا نورو هیوادو ته خپریدل. دمشوانۍ او قلم جوړول اودکتابونو تذهیب او تجلید په سیمه کې بیساری و. دغه ډول ګڼ شممیر نور خطاطان، مذهبان، صحفان، او انځور ګر هم روزل کیدل. د افغانستان یو انځورګر غیاث الدین چې چین ته تللی و، هلته ینځه میاشتی دامپراتور په دربار کی بوخت پاتې شو، دا د دې معنا لري چې دافغانستان د میناتور هنر ډیر مینه وال لرل. اروابناد غبار په ۳۲۷مخ کې لیکی: استادبهزاد، میرعلی، سطان محمد او سلطانعلی یو هم د اروپا د رنسانس د دورې له هنرمندانو څخه کم نه وو.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبی خپل اثر(تاریخ خط ونوشته های کهن افغانستان ) د افغانستان د لرغونی فرهنگ دمعرفی په ترڅ کې خط او د خط ډولونه، ښکلی خط او یوشمیر ډبرلیکونه راپیژندلي دي. د استاد دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمی په ۱۳۵۰ ل. کال چې خپور کړی و.

حمیده انصاری زموږ د معاصر وخت هغه څیړونکی او د ښه قلم خاونده ده چې یوه مستقله رساله یې د(هنر میناتور در افغانستان) ترعنوان لاندی په ۱۳۹۴ش. کال کې لیکلی چې په کابل پوهنتون کې دافغانستان د معلوماتو مرکز چاپ کړی ده. آغلی حمیده انصاری په دې باور ده چې د افغانستان تاریخی تیر مهال ته په کتنی سره په دی باندی پوهیدلای شو چې دغه هیواد په بیلابیلو دورو کې د هنر په پرمختګ کې مهمه برخه درلودله؛ افغانستان په اسلامی دوره کې د بیلابیلو هنرونو رامنځته کوونکی او د هنری بیلابیلو سبکونو او ډولونو سرچینه وه. په لرغونی هرات کې په نهمه قمری پیړی کې د میناتوری هنر خپل لوړ پړاو ته رسیدلی و.د تیموری شهزادګانو سیالی د میناتوری په پرمختګ کې ډیر خدمت وکړ. د کتاب په سینګارولو له هنر څخه ګټی اخیستلو، د فکر د بیانولو او د سیاسی مفکورو د خپرولو د چارو اغیزی له تیموریانو څخه وروسته دوره کې هم تر سترګو کیدی.
بنجامین راولند یو بل لیکوال دی، هغه د ( هنر قدیم افغانستان) تر عنوان لاندی یو ډیر موثق تحقیق کړی چې ارواښاد احمدعلیکهزاد په دری ژبه ژباړلی دی، دغه اثر د وخت د اطلاعاتو ا و کلتور وزارت په کابل کې د فرانکلن دنشراتی موسسې په مرسته چاپ کړی و. هغه هم هرات د میناتوری دهنر ټاټوبی بللی دی.
معاصر انګریزی مورخ توینی دلرغونی افغانستان تاریخ کې دهنری ایجادیاتو مفکوره راسپړلی ده اودغه سیمه یې د راز راز هنری ایجادیاتو د راخپلولو او بیرته خپرولو یوه دایره بللی او په دغه خاوره کې یې مدنیتونه د بهرنیو افاقو (لاملونو) له اغیزی څخه رامنځته شوی ګڼلي دی.
حبیب الله رفیع دافغانستان د علومو د اکاډمی غړی په افغانستان کی د خط په هکله څیرنه کړی او له دې پرته په خپله یې څو کاله مخکې د خط یو لارښود پیښور کی لیکلی او خپور کړی یی و. نوموړی د ښکلی خط یو لوی مرکز افغانستان را معرفی کوي او دښکلی خط ډولونه یې هم ښودلي دي.
عبدالکریم رحیمی، په ځانګړی ډول د کمال الدین بهزاد د میناتوری په هکله لیکنه کړی او د . بهزاد هنری مکتب یې راپیژندلی دی. د ده دغه اثر د( انتشارات اتحادیه انجمن‌های هنرمندان افغانستان) له خوا کابل کې چاپ شوی دی.
ل.لیی جاناتان د( AFGHANISTAN (A History from 1260 to the Present )تر عنوان لاندید ۷۵۰پاڼو شاوخوا یو تاریخ لیکلی چې د هرات د میناتور انځورونه هم لري. ده د افغانستان د هنری آثارو ډیرې بیلګې بیلابیلو ولایاتو کې لیدلی او عکسونه یې هم دغه کتاب کې ځای کړي دي.
استاد سرمحقق محمد آصف ګلزاد دافغانستان د علومو داکاډمی نامتو څیړونکی دافغانستان د خط او میناتوری په هکله یو مستقل اثر کښلی چې څو کاله مخکی په کابل کی د ACKU دفتر له خواچاپ شوی و. استاد د هرات ځانګړی سبک خط او د هیواد نور نامتو خطاطان معرفی کړی دی.
مرتضی ګودرزی دهرات دمیناتور سبک یو مشخص او منفرد سبک معرفی کړی دی. د دغه سبک بشپړتیا او د هغه مهال اوضاع یی بیان کړی ده.

د پخوانی شوروی اتحاد دعلومو د اکاډمی نامتو څېړونکی عارف عثمانوف، ، چې دختیزو هنرونوپه هکله کافی مطالعه او اثار لری استاد کمال‌الدین بهزاد او دهغه هنر یې ممتاز او د خپل عصر بی مثاله هنر ګڼلی دی. ده هم دافغانستان دنقاشی او میناتور دهنر او هم دخطاطی او نقاشی په هکله څېړنه کړی ده.

راولند، بنجامین. هنر قدیم افغانستان. ترجمه‌ی احمدعلی‌کهزاد، وزارت اطلاعات و کلتور، با همکاری مؤسسه انتشارات فرانکلن کابل-نیویورک.

همدا رنګه په ۱۳۹۰ل. کال کې پوهاند محمد اکبرسلام چې په خپله د میناتوری او هنرونو دڅانګې استاد دی، د (په افغانستان کې هنر او ښکلی هنرونه) په نوم یو اثر لیکلی چی په هغه کې یی یو شمیر خطاطان دهغوی د آثارو له بیلګو سره معرفی کړی دی. دغه اثر په کابل پوهنتون کی د معلوماتو مرکز په دري او پښتو ژبو نشر کړی دی.

تیرو ادبیاتو ته په کتنې سره لاندینیو اثارو هم د افغانستان د خط او میناتوری په اړه ګټور او پراخه معلومات ورکړي دی. دغه هر اثر د دې موضوع دڅېړونکولپاره ډیر غوره اومعتبر ماخذ دي:

- ✓ توینی ، انګریزی مورخ- افغانستان .
- ✓ رفیع، حبیب الله. دهیواد دغه نامتو څېړونکی په افغانستان کی د خط په هکله څېړنه کړی او له دې پرته په خپله یې څو کاله مخکې د خط یو لاربښود پېښور کی لیکلی او خپور کړی یی و.
- ✓ رحیمی، عبدالکریم. مکتب هنری بهزاد. انتشارات اتحادیه انجمن‌های هنرمندان افغانستان، چاپ اول، کابل.
- ✓ AFGHANISTAN (A History from 1260 to the Present) , 2007 Jonathan L.Lee
- ✓ شهرانی، ع.ا. خوشنویسان(۱۳۶۴)، کابل.
- ✓ علی احمړ نعیمی او میر عبدالعلی شایق دواړو په ګډه په ۱۳۵۳ل. کال کې د(خطاطان ونقاشان هرات) تر سرلیک لاندی غوره اثر کې په افغانستان کې د ښکلی خط لرغونتوب او نامتو خطاطان را پیژندلي دی. دغه اثر په ۱۳۵۳ أړ کال کې په دولتی مطبعه کې چاپ شوی و.
- ✓ بازل، ګری ( دهرات دمیناتوری سبک) ۱۳۹۲.
- ✓ سرمحقق محمد آصف ګلزاد. دافغانستان د علومو داکاډمی دغه نامتو څېړونکی دافغانستان د خط او میناتوری په هکله یو مستقل اثر د(نګاهی به تحول خط وخطاطی درافغانستان) په نوم کښلی چې څو کاله مخکی په کابل کی چاپ شوی و.
- ✓ ګودرزی، مرتضی. در راه تکامل برخی ویژگی‌های مکتب هرات. مجموعه مقالات همایش بین‌المللی کمال‌الدین بهزاد، چاپ اول
- ✓ مهرګان، مجید. هنر کتاب‌آرایی دوره تیموری- نقش اسطوره‌ی کهن و نقاشی اقوام بومی در زیرساخت نقوش تزئینی و تذهیب( هنر کتاب‌آرایی) و ذکر حکمت معنوی.

له پورتنی اخځ څخه جوته شوه چې د شاهرخ او ملکې گوهر شاد په دوران کې او په مجموع کې هغه مهال چې د گوډتیمور دیرغل او لوټ –تالان او وینو تویولو څپه په کرار شوه، نو د میرک، بهزاد اوامیرعلی شیر نوایی په شان هنردوسته کسان لاس په کار شول او بیرته یی دفرهنگ دنړیدلی څلي په جوړولو پیل وکړ. هغو یو شمیر منورو څیرو چې په دې کار کې لومړنی گام کیښود، دا وو:
موسیمصور، میرخلیل، جنید، مولانا ولیالله ولی، روح الله میرک او بیا په دوی پسې نورې منورې او مشهوری څیرې رامیدان ته شوې.د شاهرخ مرزا زویشهزادهبایسنغرپه خپله هنرمند او گوهرشاد هم په لیک کې پوهه لرله، دوی د هرات دهنری گالری بنسټ کیښود. له خواجه میرک هروی، بهزاد، امیرعلی شیرنوایی او بهزاد پرته دا کسان هم د یادونې وړ دي: حیدرعلیهروی، انځورگردرویش محمد ، خیام هروی،احمد رومی او انځورگرمحمد بیگ، حیدرمیرزاچې تاریخرشیدی یې کتابت کړ او قاسم علی هروی.
دوی ټولو د هرات دمکتب (هنری سبک) بنسټ کیښود. دکمال الدین پلار شرف الدین هم خطاط و. بهزاد په۸۰۶ق. کال د غور د ساغر په کلی کی نړۍ ته سترگی پرانیستی او بیا هرات ته ولاړ. هرات کې یې په هغه لوی کتابتون کې په کار پیل وکړ چې د گوهرشاد بیگم په امر جوړ شوې و. د تجسمی هنر په ډگر کې د بهزاد میناتوری او په تصوفی ادب کې د عبدالرحمن جامی نوم تر اوسه پاتې دی. له دې وروسته په دغه هنری او ادبی سبک کې سلگونه لارویان وروزل شول.
هر ادبی جریان، هنری اثار، اوتخلیقاتیایې مجوعه؛ سبک نه دی، بلکې دا یوشمیر ممیزات او خاص اوصاف او دپوخوالی معارونه دي، چې ځانگړی سبک او مکتب وربانذی پیژندل کیږي. سبک د ستونزمن ریاضت، تجربی، پوخوالی، متداوم کار، استعداد اووخت، انرژی او فکرونو په لگښت ایجادیږی او معرفی کیږی. دهرات سبک دغه ټول خصوصیات لرل. دغه مکتب د خپل هنری جوړښت، د رنگونو د ترکیب او کارولو، تذهیباتواو د پاڼو دحاشیو د جوړولو، دروښانه او تیاره اړخ او په گډه یی انځورول او داسې نورو له مخې دروم دبیزانس له آثارو او بیا د قاجاری دورې او له دې وروسته د اصفهان د میناتور او خط سره ډیر توپیر لری. دهندوستان، منځنی اسیا او تبریزهنری آثار به له دې مکتب څخه اغیزمن وي، خو ساري يې ندی. هغه پوخوالی چی د هرات په سبک کی گورو، نورو کې نشته.
له بده مرغه دا یوه لنډه دوره وه، له دې وروسته یوځل بیا افغانستان د رکود دورې ته ولاړ. موږ تراوسه پورې څو ځله له دې ډول لوړو-ژورو سره مخامخ شوی یاستو. صعود-نزول، عروج – سقوط ، پرمختگ او بیا کړکیچ ... خو لا هم ملی هویت مو ثابت او تاریخی عظمت مو ساتلی دی.

لومړۍ مقاله:

## دافغانستان د خطاطی او میناتوری هنر

## (یوه خاطره او دموضوع سریزه)

پلارته می دي خدای(ج) فردوس جنت نصیب کړي، وروسته تردې چې شروط صلوة یی راباندې ولوست، پنج کتاب، خواجه حافظ او دهغه وخت نور کتابونه یی را وښودل، په دې لړ کې یې حسن خط ته کینولم. په اول کې به یی سپینه خاوره خپله راته جوړوله، د لرگي په تخته یې راته لیک کاو، ملافه به یې راته لیکله، وروسته یې سیاهی جوړول را زده کړل او نیی قلم به یې راته په تیره چاقو( سر) کاو. په سیاهی باندې پرکاغذ مشق تر سپینی خاورې ډیر په زړه پورې و. د خط ډولونه یې را وپیژندل: نستعلیق، کوفی، ثلث، شکست،...خو زما ډیره علاقه نستعلیق او ثلث سره وه. په همدې خاطر آن لا درېیم ټولگی کې وم، چې زموږ ښوونکی راته وویل چې د ترقی تعلیم او حاضری پر پوښ باندې ولیکم:

ترقی تعلیم صنف سوم الف

حاضری صنف سوم الف

نگران : ....

مکتب :....

دواړه می ولیکل. د معلم صاحب په هدایت مې د ښوونځی د دیوالي جریدې عنوان هم ولیک او په یوه بل شین بخن کاغذ مې (سوم الف) ولیکل چې د ټولگی پر سر یې لگولی و. ما به هره ورځ هغو ته په کتلو فخر کاو.

دوه –درې کاله وروسته، داستقلال د جشن په یوه شپه ، د جشن په ننداراتونو له پلار سره گرځیدم، دا وخت به شاید ځلورم یا پنځم ټولگی گې وم، یوه نندارتون ته ننوتو، مخامخ د اعلیحضرت او ملکه حمیرا عکسونه وو، یوه برخه کې د افغانستان د خطاطی او میناتوری بیللگې وی، په دې کی مې پام شو چې پلار مې پرچوکی ناست یو چاته ورتاو شو؛ ورسره سترې مه شی یې وکړه: ډیره لنډه او داسې ښکاریدل چې هغه دخبرو وخت نه درلود، فقط لکه د شاوخوا خطاطی لیکنو په شان بی حرکته ناست و، ترڅو موږ د ننداراتون ټوله دوره وکړه هغه ته به مې ورکتل همداسې غلی ناست و، لکه سا چې پکې نه وي. کله چې راووتو لا هم د اتشبازی وخت ته څو شیبې پاتې وې. پلار څخه مې وپوښتل : هغه قرقلی یې چې پر سر وه هغه څوک و او ولی هلته ناست و؟

پلار راته وویل دا د افغانستان خطاط هفت قلمی وکیلی پوپلزی و. ودې لیدل چې د خط هر ډول یې په ننداراتون کې د پاچا عکس سره ایښی و، دا خو د خط کمال دی که نه! هغه نري تور بریت او ببرې وروځې لرلې. شاید آتشبازی ته به هم نه وی راوتلی او تر نیمی شپې به همالته ناست و؟!

دوه درې ورځې وروسته مې پلار کلیزه کتله، کله یې چې وکتله مخکی تر دې چې جیب ته یې کړی ماته یی وویل: دا د عزیزالدین وکیلی په قلم لیکل شوی. هک ورته حیران شوم، کله یې چې زما حیرانتیا وکتله، له جیب څخه یې دوه گون را وکیښ، په هغه باندی لیکل شوی کرښې (۲افغنۍ) یې راته وښودې: دا هم د عزیزالدین وکیلی خط دی. نور هم حیران شوم. دا وخت می دافغانیو په لوټونو هم خط او هم میناتوری انځورنو ته پام شو.

زما شوق هم لیک او میناتوری سره زیات شو. کله کله به مې بسم الله الرحمن الرحیم او مبارکه طیبه کلمه لیکله شاخوا به مې (میناتوری !) کوله، خو یوه ورځ پلار راته وویل چې کلمه او بسم الله مه لیکه چې کوم ځای ونه لویږي. وبال لري، خو د حافظ له دیوان څخه یې د شعرونو په لیکلو کې وهڅولم. دغه دیوان ټول په نستعلیق و. دمحصلی پر مهال مې د سیدجمال الدین پرزیارت یوه لیکنه ولوسته ورلاندې لیکل شوی وو:

خطاط: پیرزاده

دا هغه څوک و چې ډیر پخوا کلونه(غالباً له نن څخه شپیته کاله مخکی) یې ده بوری چوک کې د مرمروپه تیږو خطاطی کوله. ورو ورو دغو مسایلو د خط او خطاطی تاریخ ته ځیر کړم. یو وخت مې په دې برخه کی ډیرڅه ولوستل او یوڅه مې ولیکل چې ډیره برخه یې د هرات میناتوری، او څه ناڅه په افغانستان کی خط او د خط هنر و. دا وخت را ته ثابته شوه چې دهرات دمیناتوری مکتب یو ځانګړی سبک او مکتب دی چې ټولی نړی، او له هغی جملی زموږ خپلولیکوالو،د پخوانی شوروی لیکوالو، فرانسویانو، انګریزانو او نورو غربی څیړونکو پوره معرفی کړی و. دوی ټولو د افغانستان دهرات مکتب له نن څخه شپږ پیړۍ دمخه بللی دی.

د دوی له څیړنو څخه ښکاری چې د افغانستان د میناتوری هنر یو ځانګړی سبک و چې په همدې نوم یې نړیوال شهرت موندلی و. اوس هم د دغه سبک شاګردان په افغانستان کی شته او په همدې شیوه کار کوی.

د افغانستان تاریخی تیر مهال ته په کتنی سره په دی باندی پوهیدلای شو چې دغه هیواد په بیلابیلو دورو کی د هنر په پرمختګ کی مهمه برخه درلودله؛ افغانستان په اسلامی دوره کې د بیلابیلو هنرونو رامځته کوونکی او د هنری بیلابیلو سبکونو او ډولونو سرچینه وه.

دچنګیز له تاړاک څخه مخکې، چې زموږ ډیر فرهنګی آثار لا نه وولوټ شوي، مولاناجلال الدین محمد بلخی د ښکلي خط په توصیف کې ویلی و:

جهان چون خط و خال وزلف وابروست

که هر چیزی به جای خویش نیکوست

په تیموری دوره کی د میناتوری هنر خپل لوړ پړاو ته رسیدلی و.له ډیرو لرغونو وختونو څخه تر نن ورځی پوری له ختیځ څخه لویدیځ ته د رسیدلو او د آسیا د بیلابیلو سیمو د سره یو ځای کولو ټکی (نقطه وصل)و.

اوسنی انګریز تاریخ لیکوال توینی دغه مفکوره داسی راسپړلی ده: دغه سیمه د راخپلولو او بیرته خپرولو یوه دایره ده او په دغه خاوره کی مدنیتونه د بهرنیو افاقو (لاملونو) له اغیزی څخه رامنځته شوی دی. د افغانستان جغرافیاوی کیفیت، د هوا او تودوخی اغیزی د مدنیت ښه جوړه کړی ده. له لویدیځ لوری څخه هریرود او د سیستان دښتو افغانستان له ایران څخه راجلا کړی دی. شمال لوری ته د آمو سیند

(اکسوس)[1]افغانستان د مرکزی آسیا له هیوادو راجلا کړی دی چی هلته سیتی قومونه (تورانی) خلک اوسیدل. لږ شمیرترکان هم د میلادی لومړنیو پیړیو په ترڅ کی دغو سیمو ته راغلی دی او بومی خلکو سره یوځای شوي. افغانستان د لوړو غرونو په واسطه ایسار شوی. په افغانستان کی هنر لکه د نورو ښکارندو په شان، د تاریخی ناوړه پیښو له امله له ډیرو بدلونو سره مخامخ شو او ډیر ځله تیری او تاړاک لاندی راغلی دی. تر کلتوری یرغل لاندی راغلی چی د نورو تولنیزو او کلتوری پیښو سره یو ځای پکی نوی مدنیتونه جوړ شوی دی او ځینی وخت بیلابیلو تعصباتو سره مخامخ شوی دی. تاریخ ته په کتلو سره د چنګیز له یرغل سره سم؛ زمونږ د هیواد ډیر زیات هنری آثار او لاسته راوړنی له منځه ولاړی، همداسی هم د سلطان علاوالدین جهانسوز د لتاړ پرمهال د غزنی بشپړ ښار ویجاړ شو. وروسته بیا د شپاړسمی پیړۍ له پیل څخه د اتلسمی پیړۍ تر لومړنی نیمایی پوری یو ځل بیا افغانستان د پردیو تر یرغل لاندی راغی او جګړی او تالان ډیر څه له خاورو سره خاوری کړل. په دغو کلونو کی ملی خپلواکی ډیره محدوده شوه، د بیلګی په توګه د هرات هنری او ادبی مکتب هیر شو او یو شمیر نورې کلتوری سرچینی او مرکزونه هم رنګ شوی وو او ښارونه مخ په نړیدو وو، مدرسی تړل شوی وی او له دی امله چی کومه هڅونه نه وه، نو ډیر لږ هنرمندان مو هم نه درلودل او زیات شمیر یی نورو ګاونډیو هیوادونو ته ولاړل. په دغه ډول اکر کی بیا یو شمیر فرهنګی څیرې لکه کاشفی، علی شیر نوایی، بهزاد، کاظم خان شیدا، دولت لوانی او میرزا خان انصاری او داسی نور راڅرګند شول.

د هرات مکتب په دوو پړاونو کی پرمختګ وکړ او د دواړو پړاوونو مخکښان یی د تیموری کورنۍ هنر پالونکی و چی هنرمندان به یی په ډیر شوق او په پوره مینه پالل او د هغو ملاتړ به یی کاو. هغوی د میناتوری له قواعدو او معیارونو سره سم، د وخت د شرایطو مطابق یو همغږی پرمختګ رامنځته کړی و. دا قواعد له پلرونو او دچنګیز له دوری مخکې دوی ته په میراث پاتې و. د هرات هنری کارګاه د باینقر د زوی شاهرخ پرمهال ډیره اوچته توانایی او ښه پیاوړتیا ترلاسه کړی وه او د هنری هستولو او سنجیدګی په ترکیب کی یی ډیر رغنده رول ترسره کړ او په دغه سیمه کی یی یو بیساری غوړیدلی هنر وزیږاو. په دغه کارګاه کی د نوښتونو د رامنځته کولو لپاره یو شمیر طرحی او نقشی چمتو شوی. د تیموری هنر پالونکو هڅی چی دوی خپله هم په ښکلی خط او انځورګری پوهیدل، په دغو نوښتونو کی ډیری اغیزمنې وې.

د هرات د مکتب په پیل کی په میناتور کی چینی تو مینی د پام وړ عنصر و، خو ورو ورو دغه عناصر مهار شول او نورو تکړه هراتی انځورګرانو په یو شمیر ذهنی تجسماتو او د خپلو بصری لیدنو – کتنو پربنسټ نوی بدلونونه راوستل او د دغی سیمی د میناتور یو واحد طرز یی جوړ کړ.

[1]Ecsos. د هغه سیند نوم دی چی د افغانستان شمال ته بهیږی او افغانستان یی له ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان او تاجیکستان څخه جلا کړی.



***انځورونه:*** *په افغانستان کې په ډېرو اثارو لکه لرګی، لوښي،چینی، کولالی او نورو کی میناتور هنرښکاری.*

د هرات په بل دوهم پړاو کی یو د پام وړ غوره نظم ترلاسه شو او د هرات میناتوری خپل ځانګړی هویت او شخصیت ترلاسه کړ. دا هم باید وویل شی چی په دغه دوره کی د چینی انځورونو په دود کیدو کی د چینی اجناسو (چینی لوښی، رختونه، اوبدل شوی ټوکرونو او نورو) واردیدلو او تجارت ډیر رول درلود. د لومړی پړاو په کتاب لیکلو او د کتابونو په سینګارولو کی په تاریخی مضامینو (جامع التواریخ، مجمع التواریخ او د طبری تاریخ) حماسی آثارو (د فردوسی شهنامه)، غنایی آثارو (شعرونه او د نظامی خمسه) باندی ډیر تاکید وشو چی د هغه مهال د شرایطو یوه غوښتنه وه. داسې ښکاری چې د تیموری شهزادګانو سیالی د میناتوری په پرمختګ کی ډیر خدمت وکړ. د کتاب په سینګارولو له هنر څخه ګټی اخیستلو، د فکر د بیانولو او د سیاسی مفکورو د خپرولو د چارو اغیزی له تیموریانو څخه وروسته دوره کی هم ښکاري. دغه دود تر نولسمی پیړۍ؛ د سراج الاخبار، امان افغان، شمس النهار په ورځپاڼو، لومړنی افغانی بانکنوټ؛ په تیره بیا دهغو په عنوان کی هم ولیدل شواو آن د شلمې پیړۍ د کتابونو په حاشیو کې هم ښکاري.

د هرات د مکتب په خپل وروستی پړاو کی، چی یو مترقی مرحله یی بللای شو د ډیرو بدیع، نویو او پرتمینو لاسته راوړنو لرونکی ده. په دغه پړاو کی ډیر تکړه انځورګرانو د پخوانیو ظوابطو او مضامینو په بدلون کی لاس درلود. په دغه دوره کی د میناتوری موضوعات عرفانی او اخلاقی و. له دی پرته غنایی موضوعات او مضامین هم لیدل کیدل، خو دغو موضوعاتو له عرفانی اړخ سره یې تړاو درلود. تاریخی موضوعات لږ و (لکه ظفرنامه، نما وقدرت، سلسله تیموری) چی په نویو انځورونو سره وړاندی شول چی په هغو کی د تیموریانو لخوا د بالاحصارونو د نیولو، د دوی د واکمنی، د سمر قند د جومات جوړولو او نورو چارو ته پاملرنه شوی وه. په دغه پړاو کی د ژوند ورځنی موضوعات هم د انځورګرانو د پام وړ وګرځیدل او د دربار د ژوند ځینی اړخونه په بی واسطه ډول انځور شول (د کار او کار کولو انځورونه، حمامونه، غیرۍ نیول د ټولنی معمول کسبونه) د میناتوری موضوع وګرځیده او د کوڅی او بازار خلکو هم د دغی دوری په هنری سلیقه کی ځان راڅرګند کړ. په عمومی توګه د دغی دوری د میناتوری په نوښتونو کی دری ټکی: طبیعت پالنه، واقعیت پالنه او سمبول پالنه او په تیره بیا د عرفان موضوع اوچته

ښکاری. دهیواد په ډیرو ولایتونو لکه کندهار، مزار شریف، کابل، مشرقی او نورو کې په جوماتونو کې دا ډول انځورونه اوس هم شته.

د هرات په مکتب کی د میناتوری د هنر یو بل اړخ سره هم مخامخ کیږو چی د لومړی ځل لپاره په دغه دوره کی رامنځته شو. هغه د ښکلی خط او مرقعاتو یو ځای کیدل او په ښکلی خط د شعرونو لیکل و. په دی کار سره به د هنر د مینه والو هنری تنده ماته او د دوی د هنر خوښولو ذوق به وده وموندله او د راتلونکو نسلونو لپاره یوه الګو رامنځته شوه تر څو بل نسل د خپلو پخوانیو نسلونو د لاسته راوړنو پربنسټ خپل کار ته دوام ورکړی او د عنعنی په اډانه کی خپل نوښتونه پلی کړی. دغه بهیر د هنر پالو او هنر خوښونکو د ښکلا خوښونی او ښکلا پیژندنی انګیزه پیاوړی کوله او د نورو نویو آثار د ودی لاره یی هواره کړه او د دود – دستور د ټینګښت او دوام لپاره یی لوی خدمت ترسره کړ .

د دغی دوری د انځورګری یوه ځانګړتیا د بشپړو رنګونو د فضا د یوه نوی مفهوم په علمی او عملی بڼه بیانول دی. همدارنګه د سره رنګ له کورنۍ څخه کار اخیستل کم شول، خو د شنه، ارغوانی، ګلابی رنګونو دود زیات شو او د تور و سپین په پرتله یی استعمال زیات شو، دډیرو اوسنیو جوماتو انځورنه لکه دپل خشتی جومات اومبارکه روضه موږ ته دا ثابتوی.

په هنری تابلوګانو کې د پڼنو په تورلو کی د خوځنده حالاتو په ښودلو کی زیات نوښت ولیدل شو، خو لاسونه او پښی چندان سمی نه دی طراحی شوی، خو هغه واقعیت پالنه چی د ژویو، ونو او ګلانو په ډیزاین کی لیدل کیږی. دغه حالت ځینی وخت د انسانانو د ځیرو په ډیزاین کی هم لیدل کیږی، خو دغه ډول چلند د ثابت او وچ چلند او بی نوښته قواعدو د رامنځته کیدو لامل نه کیږی. د متن او انځور تر منځ د تعادل رعایت کول، د بدلون موندونکو سطوحو په کار وړل او د فطری وحدت ورکوونکو کرښو په کار وړل، د عناصرو ډیر ښه تناسب او انسجام، د طلایی رنګ زیات کارول، د انځور په تشه ځمکه باندی د ګلانو او بوټو انځورول او د سپین رنګ کارول د دی دوری یو څو نوری ځانګړتیاوی دی .

دلته موږ د بهزاد له کمال څخه سترګی نشو پټولای.کمال الدین بهزاد یو بیساری هنرمند دی چی د خپل ژوند پرمهال د ډیر زیات درناوی وړ ځیره وه. دغه حقیقت د تیموریانو په دوران کې د ده د هنری فعالیت او بوختیا له دوام موندلو څخه ځرګندیږی او د ده د کار دوام په دغو دوو بیلابیلو دورو کی د ده نوم نور هم اوچت کړ. زیات شمیر د هنر تاریخ لیکوالو چی زیاتره یی د کمال الدین بهزاد همزولی وو، د ده په هکله په ډیرو درنو کلماتو سره د ده یادونه کړی ده او غوره صفتونه لکه (ثانی مانی)، نادر العصر، (قدوه (سرمشق) المصورین) او (افضل المتاخرین فی التصویر) یی ورکړی دی. شواهد دا هم ځرګندوی چی نوموړی په ۸۷۰ هجری قمری کال کی په هرات کی نړۍ ته سترګی پرانیستی. په ماشومتوب کی یتیم شوی او له میرک انځورګر سره وروزل شو. دغه انځورګر د ده د مور او پلار نژدی خپلوان و. بهزاد د دغه انځورګر تر روزنی لاندی کار وکړ او ډیره موده یی له هغه څخه زده کړه وکړه. ډیر کلونه وروسته په هرات کې د ده خوربیان حیدر علی نقاش، مظفر علی نقاش او رستم علی خطاط یادولای شو چی هر یو یی د هنر خاوندان و . په دې ترتیب دهرات مکتب یو میراثی او محلی جوت اړخ لري.

بهزاد د سلطان حسین له کتابتون څخه چی مدیر یی میرک و ډیره ګټه اوچته کړی ده او له هغو هنرمندانو سره یی اړیکی درلودی چی دغه کتابتون ته تلل راتلل. په هغه مهال کی بهزاد یو څه موده د استاد پیر سید احمد تر نظر لاندی زده کړی وکړی. څومره چی معلومه ده، هغه لومړنی استاد چی بهزاد له هغه څخه د انځور لومړنی مشق او تمرین ترلاسه کړی (آقا میر کهروی) و چی د بهزاد له خپلوانو څخه پیژندل شوی دی.

دوست محمد هروی لیکی امیر روح الله چی په میرک باندی مشهور و په اصل کی د هرات او د کمان ګیر ساداتو له کورنی څخه و، چی په لومړیو کی یی د قرآن شریف په تلاوت او حفظ بوخت و او وروسته یی بیا ښکلی لیک لیکلو باندی ژوند پرمخ بیوه ، خو کله یی چی پلار وفات شو د کتابونو په کتابت بوخت شو وروسته بیا له استاد ولی الله سره شاګرد شو او له هغه څخه یی تذهیب او کتاب لیکل زده کړل او ورپسی د انځورګری د زده کولو لیوالتیا ورته پیدا شوه.

کمال الدین بهزاد له آقا میرک نقاش څخه پرته له یو شمیر نورو استادانو څخه هم زده کړه کړی ده. بهزاد له نوموړو استادانو څخه په زده کړی سره وتوانید چی خپله هنری طبع او بډایه استعداد او قریحه په کار واچوی. بهزاد د میناتوری د هنر باریکی او رموز او د انځورګری بیلابیل طرزونه په ډیره مینه او شوق له خپلو استادانو څخه زده کړلاو هنری کمال ته د رسیدو لامل شوی دی او هغه یی د یوه نامتو انځور ګر په توګه مشهور کړ. پرته له شک څخه چی د امیر شیرعلی نوایی هر اړخیزه روزنه، ملاتړ او هڅونه هم ورسره وه. برسیره په دغو ټولو د بهزاد ځلانده استعداد، کوښښونه، هنر سره زیاته مینه او د میناتوری د باریک او ظریف هنر په زده کولو کی د ده خپله وړتیا هم ډیره د یادونی وړ ده چی د ده پر مهارت یی اغیزه لرله. بهزاد د هغی لیوالتیا له مخی چی هنر سره یی لرله، د هغه مهال په فرهنګی ټولنه کی د نورو هنرمندانو له منځه راوځلید او د نوم خاوند شو او د میناتوری یوه لایق استاد په توګه وپیژندل شو، آن دا چی د امیر شیر علی نوایی نژدی ملګری او د زده کړی ملګری سلطان حسین بایقرا له بهزاد څخه هیله وکړه چی د ده په دربار کی په فرهنګی چارو بوخت شی. بهزاد به په هغو غونډو او مجلسونو کی چی د سلطان حسین بایقرا په دربار کی جوړیدل او هلته به ډیر پوه او لایق شاعران، عالمان، وزیران، خطاطان او سندر غاړی راتلل، ګډون کاو او ځینی وخت به یی له دغو غونډو او مجلسونو انځورونه کښل، نو د ده دغه کار به د سلطان د ډیری خوښی لامل کید.

هغه مهال چی بهزاد بوډا شو، نو خپل هنر یی ورو ورو خپلو هغو شاګردانو ته چی د ده شاوخوا راټول وو وسپار، ده به یواځی د هغوی کارونه ورسمول او اصلاح به یی ورته کوله. د افغانستان دغه نامتو هنرمند په ۹۴۲ هـ ق کال په هرات کی وفات او د مختار د غره په لمن کی خاورو ته وسپارل شو.

دا هم باید ووایو چی اوولسمی میلادی پیړی په بهیر کی، له بهر سره د افغانستان دډیرو اړیکو او بیا د هوتکیانو پرمهال چی دوی له مشهد نیولی تر اصفهان پوری افغانی حاکمیت ټینګ کړ، فرهنګی راکړه ورکړه هم ژوره او ډیره شوه، نو ځکه د هرات د میناتوری مکتب له سیمه ییز او شاوخوا ګاونډیو مدنیتونو او فرهنګونو سره د ټکر له امله یو شمیر اغیزی ومنلی، د بیلګی په توګه: قلم، مرکب چینی، رنګ کول، د یو شمیر افسانوی نورو ژویو په انځورولو کی د کرښو ایستل او ترکیب کول تر سترګو شول او وروسته

بیا ډیر نور بدلونونه هم پکې راغلل. د هوتکیانو د مهال عمرانی او هنری آثار اوس هم دایران بیلابیلو ښارونو کی شته.

**د افغانستان د میناتوری او ښکلی خط سبک**

تیره برخه کې یو څه عمومی معلومات وړاندې شول، له دې امله چې یوه ضمنی اوږده خاطره هم ورسره مل وه، هیله ده دلوستونکو د ستومانی لامل نه وی شوی. له هغی مقدمی څخه موخه دا وه چې افغانستان کې دغې ښکارندې له پخوا ډیر تحول کړی، اوس د یوه ځانګړی افغانی سبک په توګه نړی کې پیژندل شوی، که چیری دا سبک او دغه آثار دبل چا په نوم پیژندل او ثبت کیږی، نه هغوی ته مناسبه ده او نه زموږ لپاره. دې برخه کې پټه خوله کیناستل په کارندی، بلکې دا باید دهغی دواقعی جوهر او طبیعت سره معرفی کړو. په دې برخه کې جناب حامد نوید صاحب یو بیساری فرهنګی خدمت ته ملا تړلې ده، زموږ معنوی شتمنی یې نه یواځې ښه را وپیژنده، بلکې د خوندی کولو تلاش یې هم د قدر او ستاینې وړ دی. همدا رنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا د یو سیمنیار را بلل هم د قدر وړ ګام دی.

خط نوشتم صرف کردم روزګار

من نمانم، خط بمـــــــاند یادګار

***

میناتوری، په تیره بیا د افغانستان د هرات د سبک میناتوری؛ هغه ښکلی انځورونه دی چې په کوچنیو ابعادو کې د ښاخونو، ګلانو، غوټیو، پاڼو، موازی کرښو، خیالی هندسی شکلونو سره رسامی کیږی.
زیاتره دغه پاڼې، نقشونه او کرښې یو بل سره په مهارت سره نښلول کیږي. نن ورځ افغانانو دهنری آثارو ته نه یواځې پر کاغذ، لرګې، لوښو او کلالی کې، بلکې په ښیښه، سمنټو او چونه یی جوړښتونو کې هم انکشاف ورکړی دی. افغان میناتوری یو پیژندل شوی سبک دی.

د میناتور کلمه فرانسوی لغت دی چی د کوچنی ښودنی یا وړوکی کولو په معنا ده او په اصطلاح کی ډیرو ظریفو او ښکلو انځورونو ته ویل کیږی. د میناتور د کلمی استعمالول د ختیځ پیژندونکو، هنر خوښوونکو او هنر پیژندونکو لخوا دود شوی دی. دغه هنر په افغانستان کې له عرفان سره نږدې اړیکی پیدا کړی او زیاتره سپیڅلی ځایونه، کتابونه او زیارتونه ورباندی ښکلی کړل شوی دی. ( mini=miniature) په ټولو اروپایی ژبو کی کوچنی رنګه انځورګری، دکتابونو کوچنی خطاطی او په ټوله کې کوچنی یا ظریف او حساس شی ته اشاره لری. لکه چی دغه هنر هم ډیر باریک اوظریف هنر دی، نوکوچنیو ښکلو تذهیبکاریو ته همدغه نومونه استعمالیږی. په اوولسمه او اتلسمه پیړی کی د میناتوری انځور ګری د میناکاری په بڼه دود شول. په میناتور بڼه د انځور کښل له منځنیو پیړیو راپدیخوا له تذهیب کاری سره ګډ شول او د شپاړسمی پیړی له پیل څخه د نولسمی پیړۍ ترپای پوری رواج وه. انځور توږل او نقاشی کول یو ډیر باریک او ښکلی کار دی چی یواځی یوه څیره په اوبلن رنګ په ډیره کوچنی بڼه رسمیږی. یو وخت دغه اصطلاح فرانسوی ډیرو کوچنیو او ظریفو ټوټو ته هم استعمالیده، دغه ټوټی به له وریښمو څخه اوبدل کیدی چی د بوټو او ګلانو انځورونه به یی لرل. له همدې امله فرنسویان تر اوسه له افغانی میناتور، خط،

تذهیبکاری او منبتکاری سره آشنایی لری اوڅو ځله یی د ننداراتونو د جوړلو اقدام کړی. فرانسویان تر ټولو زیات د هرات د میناتوری سبک سره آشنا دی.

لکه چې مخکنی برخه کی وویل شول، دغه ډول د پاڼو، ګلانو، کربښو او غوټیو انځورول د خطی آثارو، قرآن شریف، شعری دیوان او نوروکتابونو لپاره د تذهیب اصلی ماخذ و. په اوولسمه پیړۍ کی د میناتوری په واسطه د ډیرو انځورول د اوسنی وخت په روغنی رنګ په واسطه رواج شو. په افغانستان کی وروسته تر بهزاد څخه دهغه د سبک پیروانو ته دنقاش اصطلاح کارول کیده. دغه هنر له عرفان سره د نږدې اړیکو له امله د دی لامل شوه چې ګوهرشاد بیګم په هرات کی د دې لپاره ځانګړی مدرسه جوړه کړی. د دغی مدرسی یو شمیر آثار اوس هم هرات کئ شته. د دغی مدرسی د کار طرز دافغانستان نورو برخو او آن ترمزار شریف او پیښور پورې خپور شو. وروسته بیا دغې مدرسی د غلام محمد میمنګی په نوم نور هم انکشاف وکړ. له نن څخه درې دیرش کاله مخکې ما د ننګرهار دسره رود په ولسوالی کې، په یوه کور کې( د مرحوم سید طیب آغا کور کې) یو په لاس لیکل شوی قران شریف ولید چې د هرات دسبک میناتوری یې لرله چې د طلا په اوبو او د نورو رنګونو په ترکیب لیکل شوی و، دغه قران شریف ما په پېښور کې د هغه وخت دمحاذ نشریه کې د یوه تاریخی میراث په توګه معرفی کړ چې د ډیرو لوستونکو د تعجب وړ وګرځید. دغه اثر دغې کورنۍ ته د دوی له غور نیکه څخه پاتی دی، اوس هم ممکن ددوی په کلا کې وي. درې کاله مخکې جناب استاد بختیاری د اطلاعاتو اوفرهنګ وزارت په مالی مرسته یو قران عظیم الشان د میناتوری په هغه سبک بشپړ کړ چې دهرات سبک یی بولو. ددغو آثارو څو بیلګی او ننداراتونونه د فرانسی د هیواد په توجه په هرات کی د اختیارالدین کلا کې ننداری ته وړاندی شول چې ډیرو بهرنیانو یی انځورونه واخیستل.



افغانستان د نړۍ په ټولو اسلامی هیوادو کې هغه هیواد دی چې خپلو دینی شعایرو ته کلک وفادار او په ټول قاطعیت سره ورڅخه دفاع کوی، نو ځکه اسلامی ارزښتونه پکې وپالل شول. په دې کې یو هم اسلامی هنر په خپلواک ډول پکې د یوه ځانګړی مفهوم په توګه له پیریوراهیسي د پام وړ وګرځید. اسلامی هنر د انځوریزو رمزونو او شعرونو یو حیرانوونکی جوړښت دی چې په نه فنا کیدونکی بڼه رامنځته شوی او پرمختګ یی کړی. په دغه هنر کی د انځورونو په جوړولو او بیا دهغو په ساتنه باندی پیښنو او ناوړه حالاتو کومه اغیزه نه ده کړی، بلکی دغه هنری رمزونه دومره راڼه او خالص شوی دی چی زیاتره وخت کوم بهرنی شکل ذهن ته نه راولی.

دغه هنر د یوه عرفانی انځور په یوه رمز او اسلامی عقیده بدل شو چی د وخت په تیریدو سره دغه بدلون له دینی باورونو سره یو ځای پاتی شوی دی. اسلامی هنر یو ډول تشه فضا جوړوی چی دنیوی تمامیت او هوسونه له منځه وړی او د هغو پرځای یو داسی نظام رامنځته کوی چی د سولی او روحی تعادل لپاره لاره هواروی. د دغه هنر ریښه په ژور تفکر او تخیل کی ده، نو ځکه د اسلامی هنر په بشپړتیا کی عرفانی تفکراتو ژوره اغیز لرلی ده او دغه اغیزه د رمز او اشاری په ژبه بیان شوی ده. دا حقیقت موږ عرفانی ادبیاتو(دمولانا مثنوی، د پیرورښان آثار، د مولانا جامی، رحمن بابا، بسطامی،...) او مناقبواو مناجاتو کی هم لیدلای شو. د میناتور ترڅنګ هغه نامتوخطاطان چې باید نومونه یی هیر نشید تیموریانو له وخته تر اوسه دا دي:میرعلی هروی، میرعبدالرحمن هروی، رفیقی هروی، سیدتاج محمد، فیض محمد خان، عزیز الدین وکیلی پوپلزائی، سید محمد داوودحسینی، خرمی، تمیم رها، سید محبوب الله هاشمی، عبدالکریم حلیمی، عمر صدیقی او ډیرنور.

په اسلامی هنر کی له اشیاوو او انځورونو څخه د لمس کیدونکی، ناتورالستی او ریالستی عینی تجربی او واقعیت لری کولو او د رمزی زمینی ایجادولو متعالی حقایقو سره وصل کیدل ممکن کړل چی پایله یی حضور او وصل دی. دا ځکه چی نور نو پرته له انسان او خدای څخه کوم بل عنصر نه پاتی کیږی او ته به وایی چی په دی اړه ټول مخلوقات او عناصر په دغه وصل کی حاضر او شریک شوی دی. په دی بهیر کی په همدی سبک او سیاق سره شکلونه او انځورونه خپل تجربی خاطرات له لاسه ورکوی او په خیالی بڼو سره په یو ځانګړی جوړښت باندی بدلیږی. دغه ځانګړی جوړښت په تصویری عرفان کی د ټولی هستی ډوبیدل دی. دلته بصری عناصر لکه نقطه، خط، سطح، رنګ او د انځورونو کرښی چی تجسمی مادی بڼی دی، د یوه خاص بیان له امله او د غیر مادی لوری موندنی له امله، رمزی کیږی، چی دغه ځانګړی ترکیب بندی او خاص جوړښت د توحید یو نمایش دی، د دغو ټولو مستنداتو په کتنې سره نشی کیدای چې افغانستان کی د دغو آثارو په لرغونتوب شک وکړو، دا ناممکنه ده چې څوک ورباندی د مالکیت ادعا وکړی او د دغو ټولو شواهدو په شتون کې نړیوالو هغه معرفی کړی هم دی.

دو همه مقاله:

## په افغانستان کې هنر پالنه اود هنرونو درناوی



ستر خوشحال بابا فرمایلی دي:

‘‘که هنر او طالع دواړه راته کیږدی، زه خوشحال به پکې خوښ کړم هنر. ‘‘

***

افغانستان د راز راز هنرونو کور دی. یواځې لنډۍ، متلونه، سندرې، ملی ترانې، معماري او اوبدل نه، بلکې تر دې هم زیات، تجسمی ښکلاییز آثار، خط او میناتوري هم همدومره د ستاینې وړ وه او ده. په وړوکوالی کې مې یادیږی چې انا مې د اوړو دختو په کندو څومره ښکلی انځورونه جوړ کړي وو، ټول په نرۍ خټه جوړ شوی وو. زموږ د کلی په کور کې چې زه به د اوړي رخصتیو کی ورتلم، د تناره پر غاړه انځورونه، په برغولی یې ګلان، او پاس په سراچه کی پردیوال کښل شوی میناتور اوس را ته یوه خیالی نړۍ ښکاري چې ساری یې هیڅ ځای نشم موندلای.



*(زما پلرنۍ کلا چې له دریو برخو یې یوه پاتې ده، کیڼ لاسته نړیدلې دیوال باندې دچجې پرسر دمیناتور لړ نښې ښکاري،مخه کې د باغ دیوال. هغه سراچه چې دماني دهنر په کچه، هنرمندانه کتاره یې لرله له خاورو سره خاورې شوې، دغسې یې درواخله ټول وطن )*

همدا اوس هم زموږ د ستالف کاشیکاران د خپل هنری جوهر له مخې داوسنۍ ماشینی تولیداتو په مقایسه بیساری دي، آیا د آقچی د پیغلو د هنرمندو ګوتو انځورونه به دنړۍ تر ټولو دقیق کمپیوتر او ماشین جوړ کړای شي ؟ نه او بیا هم نه! زموږ د کندهاري غاړو ظرافت چې زموږ د خویندو دزړه په وینو د ستنوپه نریو څوکو اوبدل کیږي، کوم کمپیوټر یی ډیزاین جوړ کړی؟ د مبارکې روضې انځورونه په دقت وګورئ. د حسینی درنه کورنۍ د خطاطی د یو مکتب بنسټ ایښودونکی وو، دخطاط هفت قلمی افغانستان د لاس کار ته به ګوته په غاښ شئ، دبهزاد بیساری میناتوری، دزربفتو رجلومې، دخوست اوبدل شوی ټوکرۍ او شکرونه، ... ټول هغه هنری اثار او بیلګې دي، چې د دغه رنځیدلي ولس د پیاوړی ذکاوت، هنرخوښونې، مینې، په ویرجن ماحول کې دنشاط بځرکې اود دوی د روحی تجلی انعکاس یې بللای شو.



زموږ شاعرانو خپلو اشعارو کې خط او خال ستایلی، یو تجسمی هنر په کلامی هنر کې مزج شوی(دخط او خال شاعری). د هر هیواد هنر او تمدن په بیلابیلو دورانونو کی د هغه هیواد د تاریخی شالید ځرګندونه کوي، موږ د هنری ایجادیاتو ځلیدونکی تاریخ لرو چې په واقعیت کې زموږ د ملی آرشیف یوه برخه جوړوی. زموږ د تاریخ د بیلابیلو وختونو بیلابیل هنرونه د اړونده دورې ټولنیز او فرهنګی حالت راښیي چې له راز راز لوړو- ژورو سره مخامخ او ډیره لږ برخه یې موږ ته راپاتې(لکه پورتنۍ کلا). د هری دوری د هنرونو کتنه او څیړنه خپلی خپلی ښیګڼی لری، په دې کې یو یې د هرات دمیناتوری سبک دی چې د دغې مقالې لومړی برخه کی مو ولوست.

د ښکلي خط او انځورګری هنر له ډیر پخوا څخه زمونږ د هیواد د هنرمندانو د پاملرنی وړ و چی ګڼ شمیر انځورګرانو د ځانګړی ذوق او سلیقی په لرلو سره د دغه هنر په پرمخ بیولو کی ونډه اخیستی ده. دغه هنر د ډیر کره ظرافت او ښکلا لرونکی دی چی د هر چا د پاملرنی وړ ګرځي. زموږ ملی میناتوری د خپلو ټولو هغو رموزونو او رازونو سره چی لری یی لکه د یوه خواږه نکل په شان یی د څیړونکو فکر بوخت ساتلی دی، دغه نکل له اوږدې زمانې راروان دی. په افغانستان کی انځورګری د یو پرتمین

فرهنګی او هنری میراث په توګه ډیره د درناوی وړ ده چی د دغه هنر د خوارېکښو هنرمندانو د فکر او خواریو حاصل دی چی اوس یې لړ برخه مونږ ته راپاتی ده. هنر زموږ په اسلامی هیواد کی، د اسلام د مبارک دین له احکامو څخه اغیزمن دی. کله چی د اسلام سپیڅلی دین دلته خپور شو نو زموږ بومي هنر سره ګډ شو او یوه ځانګړی بڼه یی غوره کړه او د دغه ګډ هنر او فرهنګ په پرمختګ سره اوس ورته د اسلامی تمدن نوم ورکړل شو چي د نړۍ ټولو اسلامی هیوادو د دغه تمدن زانګو دغزنی ښار غوره کړ.

په لرغونی افغانستان کې د انځورګرۍ اوبیا دښکلی خط تحول او ځلا ، په تیره بیا په هرات کی د تیموریانو په دوره کی ترسترګو کیږی چی د نهمی هجری پیړۍ د هنرونو له پلوه د تصویری هنر یوه طلایی دوره بلل کیدای شی.

د تیموریانو له پرځیدو وروسته یو ځل بیاافغانستان د بیلابیلو عواملو تر اغیزی لاندی راغی او هنر د اوړدو جګړو د اور خوراک شو. د هرات د میناتوری مکتب له سیمه ییز او شاوخوا ګاونډیو مدنیتونو او فرهنګونو سره د ټکر له امله یو شمیر اغیزی ومنلي، د بیلګی په توګه: قلم، مرکب چینی، رنګ کول، د یو شمیر افسانوی نورو ژویو په انځورولو کی د کرښو ایستل او ترکیب کول.(د هنرونو پوهنځی کې درنګ مضمون اوسنی درسی مواد فقط ترجمه شوی درسی مواد دی، که چیری د هنرونو پوهنځی د اوبلن رنګ هغه ترکیبونه، جوړښت، اغیز اوکیفیت چی لرغونی هرات کی د دغو هنرمندانو په لاس جوړیدل، وڅیړنی دا به یی یوه علمی ملی لاسته راوړنه وي – د درنو استادانو د بري په هیله).

د هرات د مکتب په انځورونو کی بادامی سترګی او سره نښتی وروځی او اوچت غومبوری هغه نښی وی چی د هرات د تیموریانو د دوری په هنر کی له ورایه ځرګندې وی، خو هغه څه چې اوس لازیات زموږ پام را اړوی، هغه د وګړو د څیرو تر منځ ډیر توپیر او لریوالی دی چي یوبل سره توپیر لري.


د هرات د تیموریانو د مهال انځورګرانو لکه د اروپاییانو په شان شاوخوا منظری په پام کی نه نیولی، بلکی دوی منظری د خپل تخیل او د شاخوا نړۍ او موجودوشیانو په هکله د خپلی پوهی له مخی یې انځورولي(سوریالییزم). د هجری نهمی پیړۍ په دوهمه نیمایی کی د انځور ګری هنر خپل لوړ برید پوری اوچت شو، آن دا چی د هرات مکتب چی په انځورګری کی کوم نوی نوښت کړی و، د هغه له امله د خپل مهال له نورو مکتبونو څخه په جلا ډول وپیژندل شو. په دغه ډول انځورګریو کی طبیعی منظری تل پسرلنی منظرې دي او انځور شوې څیرې، دنړۍ له نور تجسمی آثارو سره ځانګړی توپیر لري. یو خصوصیت یې دا دی چې د ښځو او نارینه وو تر منځ هم توپیرونه نه تر سترګو کیږی، یوازې یو شمیر آثارو کی د بهزاد او شیخ زاده او ځوانانو او بوډا ګانو ترمنځ توپیر ترسترګو کیږی. د ښځو او نارینه و ترمنځ توپیر یوازې د دوی په جامو او خولیو کي دی. د طبیعی منظرو انځورول، نه یوازې دا چی حقایق روښانه کړل، بلکی د فطری استعداد له امله د رنګ کولو په وسیله د اشیاوو حالت د پوهیدو وړ ګرځیدلی دی. آن دا چی د بیلابیلو اشیاوو پیژندنه چی په یوه اصل کی سره راټول دی، مجسم کیدای شی. د بهزاد هنر د شاعرانه او عارفانه رمز او رازونو یو عجیب ترکیب دی چی د هغه مهال د لویو شاعرانو له ویناوو سره سم او برابر دی. د دغی سیمی د انځورونو پانی له غوټیو څخه ډک ښاخونه لری چی له لری څخه د سپینو سپینو ټاپیو په شان ښکاری او د ګلانو د لاښکلی کولو لپاره صافه ځمکه او شین آسمان او د سبریو

ونی غوره شوی دی چی عجیبه ښکلی منظره جوړوی په پسرلی کی د کلاګانو، ماڼیو او ښونو منظری او هغو سره د مرجان په ښه د شکلونو رسمول چی د تیرو په ښه څرګند شوی او راز راز رنګونه لری او د دښتو شګی هم طلایی رنګونه لری او ونی د کوچنیو ویالو تر غاړی انځور شوی دی، ښایسته شینلی او په دغو انځورونو کی ښکلی ګلان له ورایه ښکاری چی یو رومانتیک شاعرانه حالت تمثیل او په پای کی یوه زړه وړونکی ښکلا جوړوی. د دغه سبک یو بل خصوصیت دادی چې سیندونه د شنه رنګ پر ځای په ځینو بیلګو کی په نقره یی رنګ انځور شوی، له بهزاد ورسته بیا، په تور رنګ انځور شوی دی. غرونه په سفنجی رنګ انځور شوی دی چی په پری پری شوی مقوایی بڼه لیدل کیږی. همدا د بهزاد د مکتب ځانګړي اسلوب دي.

کله چی پر هرات باندی صفویانو یرغل وکړ، هنرمندان هر یو یوی یوی خواته ولاړل. کمال الدین بهزاد تبریز ته ولاړ او هلته یی د بهزاد د مکتب بنسټ کیښود چی ډیر تکړه شاګردان یی وروزل. استاد محمدی بخارا ته وتښتید او هلته یی د انځورګری مکتب رامنځته کړ او نور هنرمندان او انځورګران ډیر نورو سیمو ته ولاړل او آن تر هندوستان پوری ورسیدل. په دې مقایسه کې صفوی تاړاک او د چنګیز تاړاک یو برابردي. د هرات د انځورګری اغیزی په ماورالنهر او بغداد کی هم تر سترګو کیږی، په دې توګه دغه ټول اسناد او شواهد څرګندوی چی دغه مکتب له ترکیې، تر ماورالنهر(پاردریا) او بیا تر هند پورې غځوني کړي، چې کیدای شی لری او نږدی- ګاونډی او نور هیوادونه یی ښکلا وستایی، خو د مالکیت ادعا یې نشي کولای. د د ې امکان شته چې د ګاونډیو هیوادو نقاشانو له دغه سبک په الهام او تقلید ځینی اثار رامنځته کړی وی. هغه څه چې مهم دی هغه د یوه هنر سبک او ځانګړی مکتب او د هغه د پالنی هنرمند لاسونه دي.

## **افغانستان کې هنر، هنری ایجادیات( میناتور، خطاطی) او ودانۍ**

### خلورمه برخه




هنری تخلیقات، رغنده کار او د ژوند د رنګینیو انځور او د روزګار سرېـ تودې د ملتونو دتاریخ یوه مهمه برخه وي. په تیره بیا هنری آثار د یو ملت د لوړ روح، د تمدن اوهڅوب ویاړ او د دوی د تاریخی دریځ ځرګندونه کوي. دا ټول هغه څه دي چې دوی له نورو بیلوی او ځانګړی هویت وربښي. موږ دقیق او موثق اسناد لرو چې خپل هڅوب ورباندی ثابت کړو. ډیر ځله اروپائیان زموږ بډای تمدن او ویړفرهنګ ته ګوته په غاښ پاتې شوي دي. کله چې د اسلام مبارک دین افغانستان ته راورسید، عربی مورخینو زموږ وطن د نړۍ له نوادرو وشمیر او تجارت، ودانیو، کرنې، صنعت، کاروانسرایونو او نورو اقتصادی، هنری اومدنی ارزښتونو، پرمختګ او طبیعی منظرو ته یې په حیرت کې شول. کلونه کلونه زموږ پیداوارو لکه لاجبرو او زمردو، او وروسته بیا زموږ معنوی میراث او وریېسي مو صنعت زموږ د وطن نوم په نړۍ کې مشهور کړی و، زموږ د صنعتکارو صنعت ته به دچین تجار په لوړه بیه حاضر و چې ترلاسه یې کړي او داسي نور مثالونه. له بده مرغه اوس داسې بده ورځ راغلی چی زموږ تاریخی سیالان غواړی تر هرڅه دمخه زموږ فرهنګی میراث یا له منځه یوسي یا یې په جعل سره خپل کړي. دا هڅې ښکاره رواني دي چې موږ د یوه داسې بدوي او بی احساسه قوم په توګه معرفي کړي چې ګواکې له تمدن، هنر، عواطفو، تساند او نورو سجایاوو سره هیڅ اشنایی نه لرو او ملی تاریخ مو ټول بدویت دی، خو تاریخ د دې سرچپه ثابتوی.

د مقالو د سلسلې په دغه برخه کې به لومړی د هنر او په تیره د افغانی هنر، بیا به زموږ د۷۰۰-۸۰۰کلونو مخکی د خط او میناتوری یو څو بیلګی ذکر شي، البته تردې مخکې مقالوکې د لرغوني دوران مسایل راغلی وو.

**نو هنر څه د ی؟**

هنر (Art) د انساني فعالیتونو هغې مجموعې او آثارو ته ویل کیږي چې د انسانانو پر عواطفو او احساساتو باندې د اغېزې کولو او د ځانګړې معنا او مفهوم د لېږدولو لپاره ترسره کیږي. هنر د یو ملت جمعې- شعوري کار او آګاهانه فعالیت دی، چې د دوی معنوی عروج څرګندوي. هنر ښکلا پنځول، ښکلاخوښول، ښکلا ستایل، ښکلا پالل او ښکلا لاښکلی کول دي. په دې توګه هنر د طبیعت له زېږنده ښکارندو(پدیدو) څخه توپیر لري او د بشر د هستوونکی خلاقانه ځواک څخه رامنځته شوی ابداعات په هنر کې شمېرل کیږي. لکه انځورګري، پړ تورل، ګرافیکي طرحې، ودانۍ جوړول، موسیقي، شعر، تیاتر، سینما او نور. هنر او هنری اثر تر ټولو سخت او ستونزمن کار او د ډیرو معیارونو لرونکی دی.دنړۍ هرهیواد پخ خپلوهنری هستونو او هنرمندانو ویاړي. پرمختللی هیوادونه په ډېر زیار، ډیرو لګښتونو او له بیلابیلو لارو، خپل هنر او هنرمندان نړۍ ته ورپیژنی او د ځان لپاره یې ویاړ بولی او په دې سره ځان متمدن ثابتوي.

دهنر د ځانګړی ارزښت له مخې، ډیرو پوهانو هنر دعلم تر کچې اوچت کړی او هغه یې د ښکلي، ګټور او یا هم ښکلي او ګټور محصول د تولید لپاره پر عمل باندې ***د علم تطبیق کول*** ښودلي دي.

دهنری آثارو ځینی بیلګې د هنریت تر څنګ د یو شمېر اړتیاوو د پوره کولو لپاره هم وي، لکه خط او خطاطی او میناتور او لوښي جوړول او نور. د هغو محصول تکرار کېدونکی او په هماغه یوه بڼه وي چې دې ته هنري صنعت یا صنعتي هنر وایي، خو هغه چې موخه یې یواځې او یواځې د انسان د ښکلا خوښوني د تندې ماتول وي، نو دې ته ښکلي هنرونه وایي. ښکلي هنرونه د دې له مخې چې آیا د هغو اغېزه د انسان په ذهن باندې د کوم حس له لارې واردیږي، یا په بله وینا آیا دا چې د انسان د ښکلا خوښونې احساس په کومه طریقه پوره کوي، په بېلابېلو ډولونو وېشل کیږي لکه: د پلاستیک هنر، فونتیک، بصري هنر، سمعي هنر او داسې نور. پلاستیک یا بصري هنرونه هغه هنرونه دي چې د انسان په ذهن باندې د هنر اغېزې د باصره حس یا سترګو له لارې واردیږي، نو ځکه له مادي او ثابتو عناصرو څخه جوړ شوي دي چې په لاندې توګه دي:

۱.د معماري هنر یا د ښکلو ودانیو د جوړولو هنر چې د ودانۍ جوړولو یوه څانګه بلل کیږي او د ودانیو د جوړولو، دیکوراسیون، ښکلی کول او سینګار هنر دی.



۲. د حجاري هنر یا له جامدو ماودو څخه د ښکلو شکلونو د جوړولو هنر. دې ته ځکه د حجاري هنر وایي چې زیاتره وختونه دغه ډول شکلونه له تیږې څخه جوړېدل نو ځکه ورته پړ تورل هم وایي.

۳. د انځورګري یا د شیانو د تجسم هنر او د فکر او خیال مجسم کول د خط، رنګ او کرښو په واسطه انځورګري بلل کیږي، خو رنګ پکښي ونه کارول شي او یوازې کرښې وي، نو بیا د رسامۍ پرځای نقاشي ورته ویل کیږي. ښکلی لیک هم د نقاشي یوه څانګه ده.سمعي یا فونتیک هنرونه هغه دي چې اغېزه یې د غوږ او اورېدو له لارې په ذهن واردیږي نو ځکه یې عناصر مادي او ثابت نه دي، چې په لاندې برخو ویشل کیږي:

۴.موسیقي یا د غږونو په واسطه د ښکلا رامنځته کولو هنر.




۲. ادبیات یا د الفاظو او کلماتو په واسطه د ښکلا رامنځته کول چې دا هم دوه ډولونه لري:

الف) که چیرې د الفاظو په جوړښت د هغو وزن و آهنګ په پام کې ونیول شي، شعر ورته ویل کیږي.

ب) که چیرې الفاظ بې له وزن څخه یو بل سره ترکیب شي نثر ورته ویل کیږي، چې له نیکه مرغه موږ دا ټول لرو.

زموږ تاریخی آبدات، لندۍ، فوکلور او ولسی ادب او ډیر نور یې مثالونه دی. دمقالو د دغې لړۍ تیروبرخو کې یادونه وشوه چې په لرغونی افغانستان کې به د آبداتو، خط او میناتور څو ریفرنسونه ذکر کړم. دلته غواړم له دغو سرچینو یوه ته یې اشاره وکړم:

نامتو څیرونکی او مورخ Jonathan L.Lee د AFGHANISTAN (A History from 1260 to the Present) په نوم په ۷۸۴مخونو کې له ۱۲۶۰میلادي کال را دېخوا، یعني تقریباً ۷۰۰کاله پخوا څخه دافغانستان د تاریخ مهمي پېښې راالخیستی چې ډیره برخه یې د افغانستان فرهنګی میراث، خط او میناتوری ده، چې دکتاب په آخر کې یې خپل اخځ په ۳۰مخونو کې ښودلی دی. دغه مولف په افغانستان کې میناتوری دهرات له سبک څخه نیولی، بیا تر نورو سیمو او ولایتونو؛ د تاریخی ودانیو،څلیو، زیارتونو، جوماتونو، مدرسو او آن تر دولتی نشان او ملی بیرغ پورې مسایل څیړلي دی.دهرات دمیناتوری سبک یې له یو شمیر بیلګو سره معرفي کړی دی. دهغو جوماتونو، مدرسو او زیارتونو معرفی او عکسونه یې راټول کړي دي، چې یو شمیر یې اوس ندی پاتې، خو له نیکه مرغه ځیني یې لا اوس هم شته. د میناتور یو- دوه بیلګې یې دا دي:




له هراته تر ملتان پورې یې د دې هنر تاریخ څیړلی دی او د احمدشابابا پرمهال یې هلته دهغو اسلامی مدرسو او جوماتونومثالونه راوړي چې په ښکلی خط او میناتوری ښکلی دي. دغه مورخ د سیاسی پېښو تر څنګ د افغانانو کلتوری ځانګړنې او د دوی هنری هستونې معرفي کړي دي.

دغه نامتو لیکوال له هرات څخه تر کندهار، کابل، بامیان، اندخوی، ډیلي، ملتان او کشمیر پورې په زړه پورې شواهد را ټول کړي او ټول یې د لوی افغانستان د فرهنګی میراث په نوم ثبت کړي دي. ده د هغو آثارو نوومونه هم ذکر کړی دی، چې د تاړاکونو او یرغلونو یا طبیعی پېښو له امله یا بشپړ له منځه تللی، یا غلا شوي، یا هم دطبیعی پېښو له امله ویجاړ شوي دي. د دغو ټولو څیړنو له کتنې څخه جوتیږی، چې زموږ د خپلو مولفینو په پرتله، بهرنیو څیړونکو دافغانستان د فرهنګی میراث په هکله زیات کار کړی دی، چې د قدر او درناوی وړ دی.

**یادونه**. *د دغو مقالو پارسي- دري ژباړه به* **هم چمتو** *شي. په دې لړ کې له درانه شاعر ورور، ښاغلی سیدرفعت حسینی څخه مننه کوم چې دمقالو دغه لړی یې په دقت لوستلی ده ، له ښاغلي ع. شریف زاد څخه مننه کوم چې دغه لړی یې په دقت لوستی ده او خپل نظر یې رالیږلی دی. شریف زاد صیب دښکلی خط د لوړې جایزې ګټونکی او د میناتور او ښکلی خط مینه وال دی. دوی ته وعده ورکوم چې د اوسنی وخت خوشنویسان او میناتور هنرمندان به هم معرفي شي، په دغه مقاله کې پرته له دوو عکسونو څخه، نور عکسونه دجاناتن لیی له کتاب څخه اقتباس شوي دي .*

درپیمه مقاله:

**امیر علی شیر نوایی او د هرات دخط او میناتوری د سبک وده او دهغه ځانګړنې**

افغانستان بیلابیلو وختونو کې له بیلابیلو لوړو-ژورو او راز راز تاړاکونو سره مخامخ شوی دی، کله چې د هر تاړاک او ټولنیز کړکیچ او بحران څپې لړڅه په دمه شو ی دی، نو زموږ نیکونو په دغه وقفه کې دخپل مدنی ژوند، داقتصادی شیرازې د جوړولو، د هنراو ادب ودې او د ټولنیزو - دودیزومعیارونو، کښت او کار، اخلاقی او دخپلو ملی او ټولینزوسجایاوو(نامدون قانون: مورالیتی، دود-دستور، فرهنګی ارزشونو،نرخونو او څلیو) بیرته حاکم ګرځولو لپاره کار پیل کړی دی. وروسته د چنګیز له ټکې( چې اروابناد غبار صاعقه ی چنګیز) بللې ده، د عام قتل او لوټ څخه کمه موده کې افغانستان دکرت دملوکو پرمهال لږ دمه نه وه اخیستی چې یوه بله دوره کې بیا د امیر تیمور(ګوډ تیمور) دیرغل پرمهال کړکیچ سره مخامخ شو، خو له نیکه مرغه دوی بیرته خپل ورځنی ژوند سمبال کړای شو.

په څوارلسمه میلادی پیړۍ کې پر افغانستان د تیمور له چپاو او لتاړ ورسته په د ده زوی شاهرخ په هرات کې پر تخیت کیناست. نوموړی د هرات دفرهنګی وضعیت او شهری تمدن څخه اغیزمن شو. له همدې دورې وروسته هرات د شرق دهنر او رنسانس مرکز وګرځید. د دغې دورې دډبرلیکونو بیلګې اوس هم شته. دغه هنر په حقیقیت کی هماغه د ګندهار د هنر او انځور ګری ادامه وه چې دجګړو له امله یې لړۍ پرې شوې وه. د هرات دهنری انځورونو له بیلګو مخکی موږ د بُست دبازار او لشکری بازار نښې پیژنو. دتیموری چارواکی د افغانانو دمعنویت تر اغیز لاندی راغلل او د فرهنګ ودې ته زمینه برابره شوه. د دغې مساعدی فضا دننه یو شمیر استعدادونه لکه آقامیر کهروی، امیرروح الله، ولی الله او نورو د تذهیب او خط هنر ته پاملرنه وکړه. دغه فرصت کې ادباوو هم د ادبی تخلیقاتو فرصت وموند. دا مهال (په نهمه قمري = پنځلسمه میلادي پیړۍ کې)؛ یعنې د سلطان حسین بایقرا پرمهال، امیرشیرعلی نوایی په هرات کې دخپلې هنر پالنې، غوره ادبي تخلیقاتو او د یوه پوه او مدبر وزیر په توګه د غوره اجرااتو له امله شهرت ته ورسید. نوایي د سلطان حسین بایقرا د دربار د وزیر په توګه دخپل درایت او کفایت ډکه اداره په اثبات رسولې ده، ده له خپل همدغه صلاحیت او درایت څخه په استفادې د هنرونو ودې ته لار برابره کړه. هغه هنرونه چې د هرات سبک وبلل شول او وروسته بیا له افغانستان څخه ډیرو نورو سیمو ته دهغو خوشبویه لمن خوره شوه. له بده مرغه کله چې پر هرات دصفویانو تاړاک راغی د افغانستان میناتور او دخط هنرمندان نورو سیمو او ملکونو ( لکه اوسنی ایران، بین النهرین، هند) ته اواره شول، خو بښیګنه یې دا شوه چې دغه هنر ژوندی پاتې شو او د امنیت په راتلو سره بیرته دغه هنر د افغانستان بیلابیلو سیمو او په تیره هرات کی سا واخیسته او تر نن ورځې پورې دخط او میناتور په برخه کې دګڼ شمیر افغانانو هنرمندې ګوتې خپل هماغه کمال نړیوالو ته زباتوی، چې کمال الدین بهزاد زبات او نړیوالو ورته د ځانګړي سبک د خاوند نوم او لقب ورکړی و. د میناتور، بنکلی خط او انځورګري یا د شیانو د تجسم هنر او د فکر او خیال مجسم کول د خط، رنګ او کرښو په واسطه دي، خو که چیرې رنګ پکې ونه

کارول شي او یواځې کرښې وي، نو بیا د رسامی پرځای نقاشي ورته ویل کیږي. ښکلی لیک هم د نقاشي یوه څانگه ده.

دغه هنر یو ځل د نهمې قمری پیړۍ په نیمایی کی د خواجه میرک، بهزاد او یو شمیر نوروپه مهاجر کیدو سره د نړۍ نورو سیمو ته خپور شو، او یووخت هم له هرات څخه دآقا رضا جهانگیری پرمهال ایران ته معرفی شو چې په ایران کې د تبریز او اصفهانی دوومکتبونو اساس وگرځید او یوخت بیا آن تر هند پورې ورسید. د دې معنا دا ده چې نوایی نه یواځې یوه علمی او ادبی ځیره وه، بلکې یو پوخ سیاستوال هم و چې همدغه مهال د هرات د خط، میناتور او تذهیب ځانگړی سبک دخپلو ټولو عناصرو او مشخصاتو سره وپیژندل شو چې په دغو عناصرو او مشخصاتو به لږ وروسته بحث وشي.

دا چې موږ وایو چې هرات د نهمې قمری= پنځلسمې میلادي پیړۍ په ترڅ کې د پنځوسو کلونو لپاره د تمدن، هنر، اقتصاد او تجارت، عرفان او ادب لوی مرکز و، دا د امیرشیرعلی نوایی د پاملرنې او سپارښتنو له برکته و. په دغه مقاله کې د نوموړی پرژوند او پیژندنه بحث نه کیږی، خو د ده د هغو هڅو یادونه به وشی چې له امله یې هرات د خط دهنر اومیناتور مرکز او دسبک خاوند شو.

نوایی په خپله په هرات، بیا یوڅه موده په عراق اوبیا سمرقند کې د زده کړې په بهیر کې له ځانه ډیر اوچت استعداد وښود، دغو ځایونو کې یې نامتو ادیبانو، لیکوالو، عرفانی ځیرو او درياضی او حکمت له مشاهیرو سره لیده – کاته وکړل. د زده کړو په پیل کې د مرزاحسین سره ټولگیوال و، نوځکه کله چې د ده دپاچاهی پرمهال د ده د دربار وزیر شو، سلطان د ده مشورې منلې. کله چې مرزاحسین پاچا شو، نو د ده دپلرونو د وحشت، تیري، جگړو او تاوتریخوالی دوره تیره شوی وه او هرات کې حالات د سولې اوسمون پر لوري روان وو. دعلم. هنر، عرفان او ادب خاوندانو د هوساینې احساس وکړ.

نوایی د دربارد یوه دانشمند او یوه وزیر په توگه په دغو ډگرونو کې ترنورو یو گام مخکې شو، نو ځکه هرات تقریباً تر پنځوسو کلونو پورې د تمدن زانگو وگرځید. یعنی دعلم خپراوي، دهنرونو عالی اغیز، وروسته تر تشدد څخه یوعاطفی چاپیریال، دساینس(ریاضیاتو، حکمت اونجومو) د درناوي، اقتصادی او تجارتی پرمختگ، دکرنې ودې دباغونو، ویالواو کانالونو جوړیدو او تساند او تساهل نتیجه، دهرات نوی تمدن و. نوایی په خپله کښت اوکار، معماری، موسیقی، کتاب خپرولو او صنعت ته توجه وکړه. هنرمندان، صنعتگر او منجمین یی وهڅول. امیر شیرعلی نوایی د هنر په برخه کې دمعماری،خط او میناتور هنر وستایه او هغه یې وهڅاو،د موسیقی برخه کې یې خپله لیکنې وکړې، دشعر او ادب په برخه کې یې په تورکي او دري ژبو خواږه اشعار وویل. هغه نامتو ادبی او هنری ځیرې چې ده یې پالنه او هڅونه وکړه، زیات دي لکه مولانا کمال الدین شاه شاعر، خواجه میرک نقاش او خطاط، کمال الدین بهزاد میناتوریست، خواجه آصفی شاعر، مولانا فصیح الدین منجم او ریاضی پوه، خواجه عمادالدین مولانا زاده دمنطق او دینی علومو دانشمند او داسې نور. په مجموع کې دتیموریانو پرمهال هرات د هنر، فرهنگ او علومو یو لوی مرکز و. سلطان حسین بایقرا او د هغه نامتو وزیر نوایی د ودانیو جوړولو او دینی مدارسو ته هم ډیره پاملرنه کړی وه، چې اثار یې اوس هم شته. نوایی زموږ د هیواد نامتو عرفانی ځیره هم ده. میناتور دهغه وخت دتصوفی اشعارو، مناجاتو، مناقیبو، د قران عظیم الشان د لیکل شویو پاڼو او پوښ تذهیب، تجلید، د

جوماتونو د محرابونو، رواقونو، دروازو او د ډیرو نورو ودانیو په تزئین کې اوچت ارزښت درلود. نوایی په خپله موېک، تذهیب، موسیقی، معماری، ښکلی خط او مجسمې جوړولو کې پوهه لرله او نور یې هم ورته هڅول. ده خپله له خواجه یوسف برهان څخه موسیقی زده کړې وه. د سلطان حسین او نوایی پرمهال درسی نصاب ته توجه وشوه، د تسنن او شیعه اختلافات بیخی کم او ورک شول، نوي جوماتونه او مدرسې جوړې شوې او پر تساند او تساهل ټینګار وشو.

نه یوازې نوایی، بلکې له ده وروسته؛ د لرغونی هرات د ویړ فرهنګ وړانګې نورو وختونو کې هم شاوخوا خورې شوي دي. دبیلګې په توګه وروسته تر ۸۲۳ق. کال څخه دشاهرخ مرزا او د ده د زوی؛ شهزاده بایسنقر مرزا پر مهال چې دوی دواړه د میناتور او خط دهراتی سبک کلک ملاتړی وو، د ګاونډیو هیوادو اتباعو ته ورزده شو. د بایسنقرانو دغه هنری بنسټ چې خط او تذهیب یې مهمه برخه وه د ( دارالصنایع کتاب سازی) په نوم شهرت وموند او د بایسنقر د دورې خپاره شوي کتابونه د میناتوری او ښکلی خط له مخې دنړۍ د هغه وخت بیساری آثار وشمیرل شول. په سیمه کی د اسلامی فرهنګ یومهم جز شو او ډیرو اسلامی هیوادو کی د قران عظیم الشان خطاطانو، د شعری دیوانونو مر تبینو او د جوماتونو او نورو ودانیو جوړوونکو ورڅخه زده کړه وکړه، خو د دې معنا دا نه ده چې دغه هنر له هرات څخه وتلی وي. د بایسنقر له مړینی وروسته (۱۴۳۳م.) بیا هم هرات د ښکلی خط او میناتوری مرکز و او د ده د زوی علاو الدوله (۱۴۴۷م.) پورې خط او میناتوری پالل کیدل. ډیر وروسته بیا، یعنی هغه مهال چې اتلسمه پیړۍ کې هرات لویو سیاسی ستونزو سره مخ شو، د دغه ولایت مُدبر وزیر یارمحمد خان د هرات د ارضی تمامیت او اقتصادی شیرازی د ساتنی او دفاع تر څنګ د دغه ولایت منورین، دینی علما، هنرمندان او هنری ارزښتونه وساتل. له نیکه مرغه تر اوسه پورې هرات کې د میناتوری او خط هنر او د دغه هنر هنرمندان شته.

**د میناتوری دهرات سبک کومې ځانګړنی درلودې؟**

د کمال الدین بهزاد او له هغه وروسته د میناتور او خط اثار دی سوال ته ځواب وایی: دې برخه کی ډیرو لیکوالو لیکنې کړي دي او د دې پوښتنې د ځواب لپاره دهغه وخت هنري آثار او د څیړونکو نظرونه پلټلای شو، چې نچوړ یې دا دی:

د هرات دخطاطی او میناتوری مکتب په دوو پړاونو کی پرمختګ وکړ او د دواړو پړاوونو مخکښان یی د هرات د پنځلسمې میلادي پیړۍ هنر پالونکی چاروکي وو چی هنرمندان به یی په ډیر شوق او په پوره مینه پالل او د هغو ملاتړ به یی کاو. هغوی د میناتوری له قواعدو او معیارونو سره سم، د وخت د شرایطو مطابق یو همغږی پرمختګ رامنځته کړی و. د هرات هنری کارګاه د بایسنقر د زوی شاهرخ پرمهال ډیره اوچته توانایی او ښه پیاوړتیا ترلاسه کړی وه او د هنری هستولو او سنجیدګی په ترکیب کی یی ډیر رغنده رول ترسره کړ او په دغه سیمه کی یی یو بیساری غوړیدلی هنر وزیږاو. په دغه کارګاه کی د نوښتونو د رامنځته کولو لپاره یو شمیر طرحی او نقشی چمتو شوی. د تیموری عصر هنر پالونکو هڅو په ښکلی خط او انځورګری ، ودانی جوړولو، ادب او نورو دغه ډول نوښتونو کی اغیزمنی وی.

په عمومی توګه د دغی دوری د میناتوری په نوښتونو کی دری ټکی: طبیعت پالنه، واقعیت پالنه او سمبول پالنه او په تیره بیا د عرفان موضوع اوچته ښکاری.

د هرات په مکتب کی د میناتوری د هنر یو بل اړخ سره هم مخامخ کیږو چی د لومړی ځل لپاره په دغه دوره کی رامنځته شو. هغه د ښکلی خط او مرقعاتو یو ځای کیدل او په ښکلی خط د شعرونو لیکل و. په دی کار سره د هنر د مینه والو هنری تنده ماته او د دوی د هنر خوښولو ذوق وده وموندله او د راتلونکو نسلونو لپاره یوه الګو رامنځته شوه تر څو بل نسل د خپلو پخوانیو نسلونو د لاسته راوړنو پربنسټ خپل کار ته دوام ورکړی او د یوې میراثي عنعنی په اړانه کی خپل نوښتونه پلی کړی. دغه بهیر د هنر پالو او هنر خوښونکو د ښکلا خوښونی او ښکلا پیژندنی انګیزه پیاوړی کوله او د نورو نویو آثار د ودی لاره یی هواره کړه او د دود – دستور د ټینګښت او دوام لپاره یی لوی خدمت ترسره کړ . موږ د خپل ملی تاریخ په تګلوری کي، تر نن ورځي پورې څو ځله دا ډول پیښي په تکراری توګه وینو. زموږ بحث یواځي د خط او میناتور په هکه دی، نود دغی دوری د انځورګری یوه ځانګړتیا د ښیړو رنګونو د فضا د یوه نوی مفهوم په علمی بڼه بیانول دی. همدارنګه د سره رنګ له کورنۍ څخه کار اخیستل کم شول، خو د شنه، ارغوانی، ګلابی رنګونو دود زیات شو او د تور و سپین په پرتله یی استعمال زیات شو . هغه څو جوت او څرګند خصوصیات چی د هرات د سبک پیژندنه ورباندی کیږی دا دي:

اوسنی افغانستان کي جیدو علماوو په اسلامی ثقافت، فقه او دینی علومو کی پرله پسي زیار ګاللی او د دینی علماوو ترڅنګ دتصوف کړیو هم اسلامی معاریف او عرفان په قوت سره پاللی و. دعرفان دغه معنوي میراث په تیره بیا دمولانا جلال الدین محمد بلخی څخه (ز:۵۸۶-م. ۶۵۲) تر مولاناعبدالرحمن جامی (ز:۸۱۷) پورې؛ د دریو پیړیو په بهیر کي د افغانستان د خلکو په روح او روان کي ریښي لرلې. په تیره بیا چی جامی د تیموریانو پرمهال او په خپله په هرات کي ژوند کاو. نوځکه د هرات د هنری سبک(خط او میناتور) یوه لومړنۍ او مهمه نښه دا وه چي مذهبی او اسلامی معرفت یی ښود. بله ځانګړنه یي دا وه چي له انځورونو سره یې نستعلیق خط درلود. د دی سبک زیاتره آثار هم انځور او هم لیک لري، چي یو تر بل څخه ښکلی، هنرمندانه، ظریف او زړه کښونکی دی، نو ځکه یي دوه هنرونه سره خلط کړی دی، په همدې خاطر دخط او میناتوری دواړه صفات ورته ذکر کوو. بله ځانګړنه یي دا ده چي اثار معمولاً مستطیلی شکل لري، په انځورونو کی سیوری نه ښکاري او تشه فضا بالکل پکي نشته. په دغه سبک کی په انځورونو کی تیږي او آن دغرونو، غونډیو او کمر اړخونه ښکاري، د انځورونو فضا ډیره ډکه او آن دا چي ویلای شو چي تشه فضا پکي بالکل نشته. یوبل سره یي ورته والی هم ډیر لیدل کیږی، خو د میناتور د یو شمیر عناصرو په ترکیب کي انسجام ضعیف ښکاري، خو بیا هم دغه تخنیکی نیمګړتیا د ټولی فضا د عالی ترسیم، ښکلی خط او هنرمندانه رنګ له امله نه تر سترګو کیږی، یا اقلاً پټه ده. له اروایی پلوه او د هنرمندانه دید له مخې؛ د هرات هنری سبک او سیاق سره شکلونه او انځورونه خپل فزیکی - تجربی خاطرات له لاسه ورکوی او په رمزي او خیالی بڼو سره په یو ځانګړی جوړښت باندی بدلیږی. دغه عاطفی – انځوریز ځانګړی جوړښت په تصویری عرفان کی د ټولې هستۍ ډوبیدل دی. دلته بصري عناصر لکه نقطه، خط، سطح، رنګ او د انځورونو کرښی چي تجسمي- مادیشکلونه دي، د یوه خاص بیان له امله او د غیر مادی لوري موندني له امله، رمزي کیږي، چي دغه ځانګړی ترکیب بندي او خاص جوړښت د توحید یو نمایش دی. څومره چي لیدل کیږي، د امیرشیرعلی نوایی په خاصه توجه او په

تیره د بایسنغریانو د دوری په پای کې دادبی آثارو خطاطی او تذهیب ډیر وهڅول شو، نو په کتاب لیکلو او د کتابونو په سینګارولو کی په تاریخی مضامینو (جامع التواریخ، مجمع التواریخ او د طبری تاریخ) حماسی آثارو (د فردوسی شهنامه)، غنایی آثارو (شعرونو او د خواجه دیوان او د نظامی خمسه) باندی ډیر تاکید وشو چی د هغه مهال د شرایطو یوه غوښتنه وه. لږ موده وروسته د هرات تجسمی هنر کې ځینی چینی عناصرو ځان څرګند کړ. د افغانستان د تجارت د تاریخچې د مطالعې له مخې؛ دا مهال په سیمه کې امنیت څه ناڅه ښه و، نو له کاشغر تر کاشانه، د افغانستان له ختیځ تر لویدیز او دافغانستان ټوله اوسنۍ وربوی کې سوداګری، کاروانسرایونه او دتبادلی پروسه ښه په درز کې وه، له دې جملی چینایی اجناس له دې لارې دمدیترانې ترغاړو او تر شام پورې تلل، یو شمیر یې دلته هم پلورل کیدل، نو ځکه په دغه دوره کې د چینی انځورونو په دود کیدو کې د چینی اجناسو (چینی لوښی، رختونو، اوبدل شوی ټوکرونو او نورو) واردیدلو او تجارت رول درلود. مخکې تر دې چې پرافغانستان صفویان یرغل وکړي، دافغانستان تجسمی هنر، خط، میناتوری، پژتوړل، جومات اوکلا جوړول او لوښوسینګارول، یو ځانګړی سبک معرفی شوی و. البته په هنر او ادب کې د سبک تر پړاو رسیدل او د سبک خاوند کیدل ډیر زیات ریاضت او پوخوالی غواړی، خو زموږ دهغه وخت هنرمندانو دریاضت او پوخوالی دغه پړاوونه په بریالیتوب تیر کړي وو، له بده مرغه د صفویانو په یرغل همدغه ظریف او نفیس هنرمندان خواره واره شول. همدا مهال د هرات د مکتب یو مترقی دوران یا مرحله بللای شو چې د ډیرو بدیع، نویو او پرتمینو لاسته راوړنو لرونکې دورهوه. په دغه پړاو کی ډیرو تکړه انځورګرانو د پخوانیو ضوابطو او مضامینو په بدلون کی لاس درلود. په دغه دوره کې د میناتوری موضوعات عرفانی او اخلاقی وو. له دې پرته غنایی موضوعات او مضامین هم لیدل کیدل، خو دغو موضوعاتو له عرفانی اړخ سره تړاو درلود. تاریخی موضوعات لږ و (لکه ظفرنامه، نما وقدرت، سلسله تیموری) چی په نویو انځورونو سره وړاندی شول چی په هغو کی د تیموریانو له خوا د بالاحصارونو د نیولو، د دوی د واکمنی، د سمر قند د جومات جوړولو او نورو چارو ته پاملرنه شوی وه. په دغه پړاو کی د ژوند ورځنې موضوعات هم د انځورګرانو د پام وړ وګرځیدل او د دربار د ژوند ځینې اړخونه په بی واسطه ډول انځور شول (د کار او کار کولو انځورونه، حمامونه، غیږې نیول، د ټولنی معمول کسبونه، کرونده کې کار، دیوال جوړول،...) د میناتوری موضوع وګرځیده او د کوڅې او بازار خلکو هم د دغی دوری په هنری سلیقه کې ځان راڅرګند کړ. په عمومی توګه د دغې دورې د میناتوری په نوښتونو کې درې ټکي: طبیعت پالنه، واقعیت پالنه او سمبول پالنه او په تیره بیا د عرفان موضوع اوچته ښکاري. په دې توګه؛ کله چې دغه هنر او خواصو له مرتبې د عوامو لوړ حد ته پورته شو، نود دغې دورې د انځورګری ځانګړتیا، د بشپړو رنګونو د فضا لرونکې اود یوه نوی مفهوم ښه غوره کړه.

هغو کره کتونکو ته چې په علمی ډول د خواصو او عوامو دهنر په برخه کې علمی څیرنه کوي، دا ټکی ورته په زړه پورې دی . همدارنګه دا وخت د سره رنګ له کورنۍ څخه کار اخیستل کم شول، خو د شنه، ارغوانی، ګلابی رنګونو دود زیات شو او د تور و سپین په پرتله یی استعمال زیات شو.د هرات د هنری سبک د عالی تکامل په دې پړاو کې بهزاد د کرښو په مرسته د پخوانۍ بی حرکته انځورګرۍ سوړ او کرخت وضیعت بدل کړ او یوه خوځنده او پیاوړی ښه یی ورکړه. هغه طبیعت او ودانۍ د خلکو د کار او فعالیت د محل په توګه انځور کړی او په دغسی چاپیریال کی یی هری څیری ته مناسب ځای په پام کی

ونيو. د رنګونو په متقابلو اغيزو سره يې د انځورونو بيلابيلې برخې يو بل سره ونښلولې او په دې توګه يې وکولای شول چې د چاپيريال، وګړو، ونو-بوټو او نوروبيلابيلو شيانو تر منځ اړيکې جوړې کړي او دا په ميناتورۍ کې يوه نوې لاسته راوړنه وه. بهزاد د ونو – بوټو او تيږو په انځورولو کې يو بيساري نوښت کړی و، چې په سړو او يو بل سره د همغږۍ لرونکو رنګونو په واسطه يې انځورول. ده د عادي وګړو انځورولو کې، د دوی د روحي بيانوونکې حالت ته پاملرنه وکړه . د ده دا بيانوونکې حالت، انځورونه په حرکت راولي. لږ وروسته؛ په بل پړاو کې په آثارو کې د يوه وګړنيز رياليستيک هنر څرګونه ښکاره شول. بهزاد چې په خپله يو خواريکښ، په خپل مټ متکی او نوښتګر هنرمند و، نو د انسان پالنې د محتوا ساتنه او انسان پالنه يې د خپل کار د محور په توګه غوره کول.

په مجموع کې دهرات د ميناتور سبک کې د نويو رنګونو په رامنځته کولو کې نوښت ښکاري، ډيرو ځايونو کې له لاجوردي، فيروزه يي، طلايي، نارنجي، سرو او ژيړو رنګونو څخه کار اخيستل شوي دي. د طلايي رنګ زيات کارول، د انځور په تشه ځمکه باندې د ګلانو او بوټو انځورول او د سپين رنګ کارول د دې دورې يو څو نورې ځانګړتياوې دي. په انځورونو کېډير ګڼ شيان ښکاري، لکه ونې، په ونو کې مرغان، په آسمان کې وريځ او الوتونکي، پرزمکه بوټي، تيږې، اوبه او ډير نور شيان، خو اصلي څيرې لويې او رانژدې دي. دغه سبک په هنرمندانه مويک سره تتوالي او روښانتيا ډيره ښه په پام کې نيسي. يوه خبره چې تصادفاً بازيل ګری ورته متوجه شوی، هغه دا ده چې د هرات دميناتورۍ سبک کې د ښځو څيرې ډيرې لږ دي.

د هرات په مکتب کې د ميناتورۍ د هنر يو بل اړخ سره هم مخامخ کيږو چې د لومړی ځل لپاره په دغه دوره کی رامنځته شو. هغه د ښکلي خط او مرقعاتو يو ځای کيدل او په ښکلي خط د شعرونو ليکل و. په دی کار سره به د هنر د مينه والو هنری تنده ماته او د دوی د هنر خوښولو ذوق به وده ومومندله او د راتلونکو نسلونو لپاره يوه الګو رامنځته شوه تر څو بل نسل د خپلو پخوانيو نسلونو د لاسته راوړنو پربنسټ خپل کار ته دوام ورکړی او د عنعنې په اډانه کی خپل نوښتونه پلی کړی. دغه بهير د هنر پالو او هنر خوښونکو د ښکلا خوښونې او ښکلا پيژندنې انګيزه پياوړی کوله او د نورو نويو آثار د ودې لاره يې هواره کړه او د دود – دستور د ټينګښت او دوام لپاره يې لوی خدمت ترسره کړ. موږ نه هيروو چې د دغه هنر په وده کې به سلاطينو(له سلطان حسين بايقرا نيولی، تر علاوالدوله) او په تيره اميرعلي شيرنوايي تشويقي رول درلود، خو بې له شکه چې په اصل کی په خپله دغه هنرمندان وو چې غوښتل يې ذوقي مسايلو سره په بوخت کيدو د پرديو يرغلونو او د بيګانه ځواک حاکميت او ترخه خاطرات او له دی امله بدی ورځې هيرې کړی، نو ځکه يې ورو ورو د کتابونو سينګارول، د ښکلا پالنې اصول او د ميناتورۍ هنر د بشپړتيا تر پړاو پوری ورساو او غوښتل يې چې هنر داسې لوړی پوړۍ ته اوچت کړي چې نه يواځې سترګې، بلکې زړونه هم روښانه کړی. هغه څه چې څرګند دی، هغه دا دی چې ميناتوری، نه لکه د معماری په شان ده او نه هم د صنعتي هنرونو په شان ده چې خلک د ژوند د چارو لپاره ورته اړتيا ولري او ټول يې د لګښت لپاره غاړه کيږدي، بلکې دا هنر فقط د ښکلا خوښونې يوه بيلګه ده، لکه ښکلي ليک چې د علم پالو خلکو له خوا د علم د خپرولو لپاره ورڅخه کار اخيستل کيږی. دا هنر د موسيقی په شان هم نه ده چې په ساده او ارزانه وسايلو باندی پوره شي، بلکې داسې يو هنر دی چې د لوړ عظمت، ډير پيچلتوب، د رنګ او خامو موادو لوړقيمت او زيات دقت او وخت لګولو له امله داسې موادو او توکو

ته اړتیا لری چی هغه پرته له  پیاوړې تمویلوونکی منبع او ډیرې مجهزی  کارگاه  او پوره خامو موادو او وسایلوڅخه یې تخلیق او ایجاد ډیر ستونزمن دی، نو همدا لامل و چی دغه هنرمندان (میناتوران) له ډیرو ستونزو سره مخامخ وو.

هېره دې نه وي چې افغانستان نه یواځې دا چې د خط او میناتوری لرغونی تاریخ لری، ډیر سبکونه یې دلته پیژندل شوي او پوخوالي ته رسیدلي، بلکې د ودانیو او معماری هنر کې هم اوږد تاریخ لرو. په افغانستان کې ودانۍ او معماری له خط او میناتور سره نږدې اړیکې لري، دا ځکه چې د ودانیو پردیوالونو به انځورونه، خط  او میناتور کښل کیدل. په دغه برخه کې د یونانو-باختری ، بودایی-کوشانی دورو له معماری نیولی بیا تر نن پورې راځي. د اسلام له راتگ وروسته هم هنرونه د ودې په حال کې وو، خو معماری، خط، میناتور، سرامیک/ کاشی جوړولو او نورو هنرونو نوې بڼه وموندله. د بیلگې په توگه د غزنویانو په دوره کې چې له  څلورمې میلادی پیړۍ تر شپږمې میلادي پیړۍ یې دوام وکړ، په هغې کې د اسلامی دورې هنری شهکارونه وپنځیدل. د دې دورې ادبیات نوم لري، په دې کې معماری او انځورگري هم راتله(شهرانی،۱۳۹۳). دغوریانو دوره هم نشو هیرولای: غوریانو او غزنویانو په غزنی هرات،غور، بُست، فیروزه کوه، کابل او نورو ښارونو کې دمعماری شهکارونه جوړ کړل چی په دې کې جوماتونه، لوړ څلي او کلاوې راځي.

یوه مهمه پایله چې ترلاسه شوه، هغه  دا ده چې هرات د میناتوری او ښکلي خط یوه زانگو ده او افغانسان حق لري چې میناتوری او ښکلی خط د خپل فرهنگی میراث یوه مهمه برخه وگڼي .

په پای کې دا هم باید ووایو چې له دغې دورې وروسته تر نن پورې؛ په بیلابیلو دورو کې د میناتور او خطاطانو ستونزمن حالات او  دا چې همدا اوس هم زموږ یو شمیر میناتوران له هیواد بهر دي، د اندیښنې وړ دي. اوس د افغانستان دننه او آن د میناتور په کور یعنی هرات کې  د میناتوری د بازار سوړ وضعیت هم خواشینوونکی دی. خو د دې په پرتله گاونډیو هیوادو کی دی برخې ته پاملرنه زموږ د ډیرې دلسردی لامل گرځي. همدا تیره اونۍ( د سلواغې پر لسمه ) په تهران کې د میناتور د هنر یو لوی نندارتون د یونسکو په مرسته او ملاتړ او د ایران، چین، هند، عربو او یو شمیر نورو هیوادو د میناتورانو په گډون دایر شو.  له نیکه مرغه زموږ څو تنو افغانی میناتورانو هم پکې گډون درلود. په تهران کې د افغانستان لوی سفیر دغې لویې غونډې ته د وینا پرمهال په افغانستان کی د میناتور تاریخچې سره تماس ونیو. د نندارتون په زړه پورې برخه د چینایی خط تابلوگانې وې. د افغانی میناتور او خط معاصرې څیرې د دغې سلسلې یوه بله برخه ده.  دغه لړۍ دوام لري.

څلورمه مقاله:

د ګران هیواد په معاصره دوره کې د خط او میناتور نامتو څیرې او د میناتور بازار او وضعیت




افغانسان د خپل لرغوني تاریخ په اوږدو کې؛نه یواځې دا چې د مدنیت څولورلارې او د تجارتی کاروانسرایونو مرکز و، بلکې زموږ نیکونه د کښت، مالداری، صنعت او متداوله علومو په برخه کې هم بیساري وو. زموږ د نیکونو د لاسی صنایعو پر مخ انځورونه، په ګاڼو باندې دغمیو لګول، تذهیب، منبتکاری او نور زیاتره یواځې د صنعت له پلوه کتل شوي، خو هیره دې نهوي چې دهغو هنری اړخ لا زیات د پاملرنې وړ دی. همدا اوس د طلاتپې اثار نړیوالو ته د حیرت وړ دي. د ودانیو پردیوالونو انځورونه، دلرګینو وسایلو پرمخ ګلان او نقشونه، د لوښو سینګار، ګلاباتون، خامک، خټین لوښي او نور ټول د تجسمی هنر بیلګې دي. دا چې زموږ بحث پرخط اومیناتوریدی، دغه هنر له نن څخه شپږ پیړۍ مخکې د خواجه میرک د شاګرد، کمال الین بهزاد او د ده د دوران د نورو هنرمندانو او خطاطانوپه زیار د یو ځانګړی سبک تر برید پورې ورسید. دهنر او ادب په ډګر کې دسبک او مکتب برید ته رسیدل او د یوې سیمې یا یو هنرمند او ادیب ځانګړی طرز، دکار مواد او تخلیق د''سبک '' په توګه پیژندل کیدل، خپله یو لوی کمال اوویاړ دی. دغه ډول سبک د اړوند سیمې او هنرمند په نوم یادیږی.

دميناتور په برخه کې زموږ دهرات ميناتوري په پنځلسمه ميلادي پيړی کې د جلا سبک په توګه وپيژندل شوه، چې وروسته همدغه سبک تر اصفهان ،تبريز، بخارا او هندوستان پورې ورسيد اومشهور شو. (د دغې دورې ميناتور او خط او ځانګړنې يې په جلا برخه ''پنځمه'' کې پخوامعرفی شو).

له هغه وروسته هم په هيواد کې خطاطی او ميناتوری او د دينی کتابونو، شعری ديوانونو او نورو ليکل په ډير عالی – هنری ډول دوام درلود. موږ همدا اوس هم ملی ارشيف، کتابتونو او ګالری کی د دې ډول آثارو بيلګې ګورو. هغه مهال چې په هيواد کې لومړنی مطبوعات پيل شول او دچاپ ماشينونه وارد شول، کليشې او سرليکونه همدغو خطاطانو ليکل او انځورول. له کمپيوتر او نويو چاپی وسايلو مخکی مجلو او اخبارونو، دکابل پوهنتون د نشراتو مديريت، دکرنی وزارت د تبليغ ترويج او اموزش رياست ، دولتی مطبعې،دصکوکو مطبعې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، خصوصی مطبعو ... لنډه دا چې ټولو هغو ادارو چې مجله يا اخبار درلود (له شمس النهار نيولی ترسراج الاخبار، تر امان افغان بيا اصلاح، انيس او نورو پورې) د رسمی، دايمی استخدام شويو، حق الزحمه يی يا قراردادي خطاط او انځورګرانو لرونکی وو، ډير نور بيا اماتوران وو. د حسن خط مسابقې به اعلانيدی او تشويقی جايزی به ورکول کيدی. دغې لړۍ د شازمان او امير شيرعليخان له وخته نوی بڼه ومونده چې هيواد کې له مانوفاکتور څخه دماشينی صنعتپه لورې ګامونه اوچت شول. د زيارتونو، مقدسه اماکنو،جوماتونو، دولتی او عامه مانيو او تکيه خانو له خطاطی او ميناتوری پرته، په لوښو، موټرونو، د کار پروسايلو او ډيرو نورو ځايوونو کی هم د انځورګرۍ غوره بيلګې وې. محمدعظيم خان د اعليحضرت شيرعليخان د دورې نامتو خطاط او تذهيبکار و. د هغه يو غوره او حيرانوونکی يادګار يې هغه تفسير دی چې تقريباً ۵۰۰ مخونو کې په عالی ثلث خط خطاطی شوی دی، اوس هم د کابل موزيم کې شته. ميرزا محمد يعقوب خان، چې په خوشنويسی اوميناتوری کې ډير نامتو او د اميردوست محمد خان په دربار کې يې ډير درناوی کيد، دامير حبيب الله خان تر وخته يې په دغه ډګر کې پوره خدمات ترسره کړي دي.له دې څخه وروسته؛ پهتيره بيا د غازی امان الله خان په دوره کې دې هنر ته ډيره پاملرنه وشوه او په مطابعو کی د لينوګرافی اوزنګوګرافی ماشينونه نصب شول. تر دې دورې پورې دخطاطانو او ميناتور او تذهيب د نامتو استادانو نومونه دا دي: مرزا عبدالعلی، محمدنبی خان واصل کابلی، مرزاعبدالوفاخان يوسفزی او ميرعماد حسينی چې دهغه وخت رسمی ادارو کې يې هم کار کاو. وروسته له دې څخه چې په هيواد کی مطابعو کې خوشنويسی طباعتی صنعت ته داخله شوه، دغه هنر نور هم د لوړ ارزښت او خونديتوب پړاو ته داخل شو. د دې دورې يوشمير خطاطان، خوشنويشان او ميناتوران دا دی: عبدالرحمن هروی، سيدمحمدعطا کندهاری، محمديعقوب خان کابلی، ميرزامحمدناصرکابلی، شيخ محمدرضاهروی، سيدمحمد داود حسينی، سيدمحمد ايشان حسنی الافغانی، مرزا عبدالغفار او نور. دطباعتی صنعت او رسمی ادارو ترڅنګ دغه هنر بازار او خصوصی برخو کې هم رونق وموند، دبيلګې په توګه: په څلويښتمو کلونو کې دارژنګ موسسسه د دې هنر يوه بيلګه وه، چې هم يې فرمايشونه اخيستل او هم يې شاګردان روزل. ارژنګ لوحه ليکونکی په ميوند واټ کې د وخت يوه مشهوره پته وه. سره له دی چې دا د يو خصوصی نوښتګر دوه لويې هټۍ وې، خو هنری ارزښت يې تر يوې ګالري کم نه و. پيرزاده دکابل په ده بوری کې هغه ميناتور او خطاط و چې په تيره به يې خطاطی کوله. داعليحضرت محمد نادرشا او سيدجمالالدين پر قبرونو مرمر ډبرې همده خطاطی کړې وی، چې اوس نشته. لږ وروسته د ستينوفاکس دماشين په راتګ سره په طباعتی چارو کې دا

صنعت نور هم وغوړيد. همدا اوس هم زموږ ګڼ شمیر میناتور هنرمندان په هنری کار بوخت دی، چې دکار ځینی بیلګی یې دلته راوړو. خو ډیره به نامناسبه وی چې د هیواد دمعاصر دور یو شمیر نامتو دخط او میناتور استادان معرفی نشی. په دې لړ کې هغه ستر نوم چې مخې ته راځي، هغه د (شاهنشاه هنرخط افغانستان) عزیزالدین وکیلی پوپلزائی نوم دی. ده ته خطاط هفت قلمی هم وایی او ځینی نور ویاړلی القاب هم ورکړل شوي وو، خو ده ځانته د استقلال بچی وایه. ع.و. پوپلزی ځانته په حقه د استقلال بچی ویلی و، ځکه ده د افغانستان د استقلال دبیا ګټلو پرمهال نړی ته سترګی پرانیستی دي. عزیزالدین وکیلی پوپلزائی د۱۲۹۷ل. کال د وړې پرشپاړسمه دکابل د "قلعه دیوان بیګی" په سیمه کی د هغه وخت یوه مشهوره کورنۍ کې نړۍ ته راغلی دی. ټول عمر یی په فرهنګی خدمت کی تیر شوی ، چې په ۱۳۶۴ کال کې ورته ( کارمند شایسته فرهنګ) ویاړلی لقب ورکړل شو. د ګڼ شمیر تاریخی آثارو تر څنګ یې دخط او میناتور ښکلی آثار اوس هم شته. ده په نستعلیق، نسخ، ثلث، کوفی، توقیع، شکست، ریحان ډیر نایاب او دلوړ ارزښت لرونکی آثار ولیکل او دخط او د تذهیب په هنر کی یې ساری ندرلود. اروابناد خطاط هفت قلمی په ۱۳۷۸ کال د نوي کلونو په عمر وفات شوی دی.

اروابناد سید محمد داؤد الحسینی د اروواښاد سید محمد اسمعیل خطاط زوی زموږ دهیواد دمعاصر دوران له مشهورو خطاطانو څخه دی، چې له خپل مشر ورور، سید محمد ایشان الحسینی سره یی دهیواد یو شمیر ډیرې مهم او تاریخی ډبرلیکونه کاږلي دي، لکه: ، منارعلم وجهل، طاق ظفرپغمان اونور.ویلای شو چې سید محمد داؤد الحسینی د خطاطی په ظریف هنر کې دومره دقیق و چې اثار یې د معجزی تر بریده رسیدلی و، مثلاً د وریجی په دانه باندې یې بسم الله الرحمن الرحیم په ډیر ښکلی خط لیکلی وه، په یوه انچ مربع کې یې ۳۳۳کلمی خطاطی کړی وو.دفاتحې سوره او سورة اخلاص یې هم په همدومره کوچنی ، خو ډیر دقیق خط لیکلی وهچې ورسره یی د لیکلو نیټه هم وه. نوموړی په کلاسیک ادبیاتوکی وارد شخص او د حضرت بیدل په دیوان پوه وچې په دې هکله یې څیړنې هم کړې دي. سید محمد داود حسنی د۱۳۵۸ل.کال دسلواغی په میاشت کی وفات او د بابای خودی د زیارت تر څنګ خاروته سپارل شوی دی. د اروښاد حسینی د هنر او خط په هکله عبدالعلی مستغنی او قاری عبدالله ملک الشعرا شعرونه لیکلی او دده دهنر ستاینه یی پکی کړی ده. سیدمحمد داوود الحسینی په خپله د اشعارو یو دیوان هم درلود.

سید محمد ایشان (د۱۲۶۷ل.کال زوکړی) هم زموږ د هیوا یو ښه خطاط و، نوموړی د سید محمد داود حسینی ورور و. ده نستعلیق، ثلث او نسخ خط لیک. دسراج الاخبار افغانیه او امان افغان د اخبارونو دخپریدو پرمهال یې د کابل په مطبعه کې په خطاطی او خوشنویسی بوخت و. د دوی د کورنۍ نور غړی دا وو: سید محمد قاسم حسینی، سید محمد طاهر حسینی، سیدمحمدسعید حسینی او سید حمایت الله حسینی.

محمد ابراهیم خلیل هم د همدې دورې، یعنی د سراج الاخبار او امان افغان د جریدو د نشر د کلونو نامتو خطاط و. هغه په ۱۲۷۷ل. کال دکابل په زاړه ښار کې د میرزا افضل احمدمنشی په کور کې نړۍ ته سترګې پرانیستی وی، لومړی یې لیک له خپل پلار څخه او بیا د خپل وخت له نورو استادانو څخه زده کړ. دحضرت سنایی غزنوی، خضرت تمیم انصار اوجابرانصار او د امام قتیبه بغلانی د مزاراتو ډبریلکونه د همده په قلم لیکل شوي دي. یو څه موده نوموړی د غازی امان الله خان د زوی سرداررحمت الله استاد هم پاتی شوی و. له بده مرغه د محمدنادرشاه له وژل کیدو سره سم نوموړی هم د شکنو تورنو په ډله کې

ونیول شو او لس کاله بند یی تیر کړل. نوموړی په ۱۳۶۷ل. کال کابل کې وفات او په شهدای صالحین کی خاوروته وسپارل شو. نوموړی ښه فصیح شاعر هم و، چې خپل اشعار یې خپله خطاطی کړي دي. په شکست او نستعلیق کې یې ښکلی خط لیک.

زموږ خویندو هم د میناتور، نقاشی او ښکلی خط په برخه کی ډیر عالی آثار رامنځته کړي دی. په دوی کې یوه یې پروین میرزا ناظم غزنوی ده.

پروین میرزاناظم غزنوی په ۱۳۴۶ل. کال کې د کاپیسا ولایت کې نړۍ ته سترگې پرانیستی دی او د آریانا له لیسې او بیا د ښوونې او روزنی له پوهنځی څخه فارغه شوې ده. دخط هنر یې له خپل پلار محمدافضل ناظم څخه زده کړی دی، چې هغه د دولتی مطبعی خطاط و. پروین ناظم غزنوی له خط پرته په شبکه کاری، انځورگری، کندنکاری او میناتوری هم پوهیده. دتلویزیونی نشراتو په شروع سره یې د تلویزیون د ارټ او گرافیک په څانگه کار کاو. دغی خور ډیر تشویقی جوایز گټلي دي.

د افغانستان ښځینه میناتورانو او خطاطانو کی له میرمن پروین ناظم پرته؛ د مهناز فرهید او زینب شجاعی نومونه هم د یادونې وړ دي.

ضروری ده چې د سید تاج محمد خطاط، سید عطا محمد الحسینیاوهمدا رنگه د خرمی، تمیم رها، سید محبوب الله هاشمی، عبدالکریم حلیمی، عمر صدیقی نومونه هم واخلو. عجیبه دا ده چې د دې ظریف هنر د ډگر نومیالي دفرهنگ په ډیرو نورو برخو کې هم نامتو وو.

زموږ د خط او میناتور دهنر ځلنده ستورو نه یواځې دا چې په خپلو آثاروسره زمو فرهنگی میراث لا بډای کړ، بلکې دغو خوږو هیوادوالو، د ملی ارښتونو اوعلمی مراکزو د پیاوړتیا لپارهم لوی وقف کړی دی، د بیلگې په توگه استاد ا.ا. هنرور خپل هنری آثار دعلومو اکاډمۍ ته وقف کړل، اوس د علومو داکاډمۍ په دریم پوړ کې یو سالون د ده په آثارو ډک او ښکلی دی، چې راقم الحروف یې د نړۍ دنامتو فرهنکستانونو او گالریو څخه اوچت گڼي. دغه ښکلې گالري کې د اروښاد هنرور دښکلی خط بیلگې، آنځورونه او دمیناتور ښکلې پارچې خوندي دي.

غواړم په دې برخه کې د یو بل نه هیریدونکی خطاط او میناتوریست محمد سعید مشعل یادونه وکړم. نوموړی په۱۲۹۲ل. کال د غور د تیورې په ولسوالی کې نړۍ ته سترگی پرانیستی ، خو ډیر عمر یې د میناتور د ځانگړي سبک اصلي ټاټوبي(هرات) کې تیر کړي دي، چې اوس یې هم آثار د دغه ولایت د رسمی غونډو په تالار کې شته. دهرات هنرپالو چارواکو، د ده یو څو آثار د (نگارستان بهزاد ) په گالری کی خوندی کړي دي. نوموړی د میناتوری ترڅنگپه مجسمهسازی، نقاشی، سنگتراشی او گچبُری کې هم د استادی تر کچې رسیدلی او لیکوال او شاعر هم و، دغه د میناتور نامتو استاد په ۱۳۷۶ کال کې له نړۍ سترگې پټې کړي دي.

داچې د یوې هنری- تخلیقی څانگې په توگه په روزنیزه برخه کې ورته کار شوی که نه؟ باید وویل شي چې ورووسته د کابل د صنایعو له مکتب څخه، کابل پوهنتون کی د ښکلوهنرونو د پوهنځی جوړیدو دې پوښتنې ته مناسب ځواب ورکړ. دا هغه مهال و چې افغانستان وکولای شول په اکاډمیک ډول یو شمیر

میناتور اود نورو تجسمی هنرونو خدمتگار استعدادونه وروزي چې یو شمیر یی د علمی لوړی رتبی تر برید رسیدلی لکه استاد اکبر سلام .

اوس موږ له نیکمرغه د گچبُری او میناتور تر څنگ د مرمر او رخام څخه د عالی کیفیت هنری آثارو د تولید بیلگې لرو چې په دې بحث کې یې باید یادونه وشي.

زموږ هغو درنو هنرمندانو چې یا یې دی برخه کی لوړې زده کړې کړي دی او یا یی هم تدریس کړی او شاگردان یې روزلي دي دا دي: عبدالکریم رحیمی میناتوریست، سیدفاروق فریاد، مرتضی پردیس، روح الله نقشبندی، عیسا اسلمی، امین الله پیراده هروی، قمرالدین چشتی،عزیزاحمد هاشمی،زمری شیرزاد، کامران حنیفی، فتانه بکتاش عارفیاو حنیف شبگرد انځورگران، شفیع عظیمی (دموزیک او انځورگری ځلنده استعداد)، حسن پاوند، فرید سلطانی او عظیم نوری خطاطان، خالد نالان، باقی جهانگیر پژتوړونکی او عبدالواسع رهرو عمرزاد، عبدالحی فرهمند، مهتاب الدین او صدیق ژکفر نومونه د یادونې وړ دي. همدا اوس زموږ یو شمیر میناتور او خطاطان د گران هیواد دفرهنگی ترقی او بداینې په لاره کې صادقانه هلې – ځلې کویو چې د دوی کار د ټولو لباره د ویاړ او قدر وړ دی، لکه: محمدحسین ستیز بختیاری چې تراوسه یې څو ځله دخپلو هنری اثارو نندارتونونه دایر کړی دي، د (حمله ی حیدری) کتاب یی په ښکلی خط خطاطی کړی دی او د خط ونگاره ها په نوم یو کتاب یې د خطاطی او تذهیب په اړه لیکلی دی. سلطانعلی ارزگانی نه یواځې دا چې د خط او انځورگری ښکلی اثاریې کښلی، دافغانستان د خطاطانو ټولنه یې هم تاسس کړې ده. دسید محمد اکبر اومحمد اسمعیل صدیقی، نجیب الله انوری، محمد اکبردفتری، علی بابا اورنگ، قربانعلی عطایی، عبدالمالک عسکر زاده، محمد منیر پیکان، عصمت الله سعیدی، داود مرزا غزنوی، عارف غلامی، وحید الله کمانگیرغزنوی اوعبدالصبور عمری ځوانو انځورکرانو او خطاطانو نومونه هم د یادونې وړ دي.

متاسفانه دکورگډو کورنیو جگړوپه کلونو کې دا ډول ډیر آثار وسوځیدل، لوټ، ویجاړ یا ورک شول. د هرات په لوی چوک کې د تیرو توړل شوي زمریاند اویایمی لسیزې په بهیر کی مات شول، په ششدرک کې د افغانستان د هنرمندانو داتحادیې ترمخې د خ.ن. دهیکل تراشی بیلگه چې په سیمه کې یې ساری نه و، په ۱۳۷۱ کال کې ړنکه او وسپنې یې قاچاق شوې. ډیرې تاریخی ودانۍ، لرگین صندوقونه، قدیمی کتابونه، رواقونه، څلي، دروازې او نور آثار هم له لاسه ووتل.


لکه هغسې چې په اروپا او امریکې کې زموږ یوشمیر دتیاتر،موسیقی او سینماتوگرافی هنرمندان شته او هنری ایجادیات لري، دغسې هم په زړه پورې او ښه زیری دا دی چې زموږ دڅو تنو دعالی استعداد لر ونکو هنرمندانو د میناتور او خط هنر هم په بهر کی په ډیر عالی کیفیت او هنری اصالت سره پاتی دی.دبیلگې په توگه؛ په ایران کی ددغو کسانو نومونه د یادونی وړ دي: میرمن مهناز فرهید، میرمن زینب شجاعی، محمدمهدی میرزایی، شکیلا عالمی او گل احمد نوری. دغه وروستی ذوات اوبیبیانې همدا اوس هم په تهران کې خپل دعالی کیفیت لرونکې هنری آثار بازار ته عرضه کوي او په نندارتونو کې یې ننداري ته ږدي.

کله چې ما دتهران (موزه هنر تهران)کې د میناتور داثارو نندارتون کوت، یو یې هم د دوی د آثارو کیفیت او ظرافت ته نه رسید. له نیکه مرغه دوی په دې ډګر کې هلته پوره بوخت دي اوزموږ افغانان هم زیاتره ورته مراجعه کوي.


خواشنیوونکی دا ده چې د هیواد دننه خط او خطاطی او میناتنور د ځو کاله مخکی په شان بازار نلری او د دې ډګر هنرمندان مایوس ښکاری. ځو ورځې مخکی په ده بوری کې (ده بوری ډیکورشن) ته ورغلم. زموږ دغه ورور ځو کاله مخکې په خپل نوښت او پانګه یوه هټی پرانیستی وه، لومړیو وختونوکی یې بازار ښه و ، خو له اوو- اتو کلونو را دېخوا مشتری نلری. حال دا چې په نورو هیوادو، مثلاً همدا زموږ ګاونډیو هیوادو کې دغه ډول هنرمندان د خپلو هنري آثارو له برکته د ډیر ښه ژوند خاوندان دي. وروروسته تر ۱۳۸۲-۸۳ دمیناتور مشتریان زیات و، خصوصاً د نوی ښار د پارک په شمال او جنوب اړخونو کی به ډیر دمیناتوری او خطاطی آثار پلورل کیدل. سره له دی چې دغو پلورونکو یواځې د پلی لارې تر غاړی خپله متاع پلورلو ته ایښوده، خو بیا هم مشتری موجود و او داسې ښکاریده چې لا هم ځینو هیوادوالو سره د هنری آثارو د خوښولو ذوق و، خو له بده مرغه په دې وروستیو کی یی بازار ډیر سوړ دی. اوږدې جګړې نه یواځې دخلکو ذوق شډل کړ، بلکې د هنر ارزښت هیر او هنرمند مایوس شو.

له نیکه مرغه په دې وروستیو کې په ایران کې د افغانستان لوی سفیر پریکړه کړې ده چې د سفارت د ودانی دننه یوه برخه چې کافی ګنجایش لري، د افغانستان کتابتون اونورو آثارو اودافغانستان د فرهنګ دپیژندنی لپاره وقف کړي. دغه کار په سلوکې ۹۸بشپړ دی، ښاغلی سفیر په دې تمه دی چې ډیر ژر دغه فرهنګی خونه رسماً پرانیزی. دا به یو هغه نوښت او لوی خدمت وي چې په ګاونډي هیواد کې دافغانستان دفرهنګ، له هغې جملې د خط او میناتور د معرفی په برخه کې اوچتیري.

*په ایران کې د افغانی میناتوریستانو او خطاطانو د کار بیلګې:*




*د میناتور استاد او خطاط میرزایی؛ د یوې هنری تابلو د لیکلو پر مهال*





*زموږ هنرمند دنړۍ په هرګوټ کې چې وی، خپل هیواد نه هیروی اود وطن د بیا ابادي ارمان زړه کې ساتي.*




*هغه انځورونه چې مهاجرو خویندو؛ مهناز فرهید او زینب شجاعی دمهاجرت په ورځو کی انځور کړی دی/داستقلال اتل*



د مهاجرو هنرمندانو ګوتې د خپل هیواد په یاد ستړې- ستومانه دي /ولسمشر










په ایران کې د ښاغلی لیوال دنوې شعري ټولګې پوښ چې په تهران کې میشتو خطاطانو خطاطی کړی دی.



*په کابل پوهنتون کې د۱۳۹۹ کال د منی د ورځو هغه دردوونکې  چاودنه، چې په هغې ورځ یوه پلار خپلی محصلې لورته شبیه په شبیه په تیلفون کې همدا خبره تکراروله، خو لور یې بیا هیڅکله ځواب ورنکړ. دیوه دردیدلی پلار دخولې دغه خبره تولیزې میډیا په زرګونو ځله تکرار کړه. په ایران کی افغان خطاط هم د خپل دراک اوحساس احسا س له مخې دغه توری په خپلو ګوتو څومره ښایسته انځور کړی دی. همدا دي دیو هنرمند عواطف!*

دا یواځې خطاط او د میناتور هنرنه؛ بلکې نورهنرونه لکه سینماتوګرافی، موسیقي، حکاکي، تیاتر او نور هم مسافر شوي دي، خدای دې راپه کور کړي. له جګړې مخکې هنرمند پر ځان ویسا او متکي، د غروراو هنری شخصیت خاوند، هنری آثار د لوړ دریځ لرونکي، خلک مو هنردوست، ولس مو هنرپال اودهنرمندقدردان وو. جګړو لکه د نورو ډګرونو په شان د هنر ډګر هم دایرو په ډیری بدل کړ. هیله ده یو ځل بیا هیواد کې دهنر او هنرمند قدر وکړو، هنری ذوقونه وروزو، ښکلا پیژندنه ژوندۍ، عواطف تلطیف، مینه او ترحم پیدا او د کرکې، جګړې او نفرت اورونه مړه شي. تر ټولو مهم دا چې نور مو نړیوال دهنری ایجادیاتو، تاریخی ویاړونو اود مدنیت له تاریخ څخه د (افغانستان) نوم حذف نه کړي، خو دا ډیره مهمه ده چې موږ خپله دا وړتیا او استعداد ولرو چې خپله مادی او معنوی شتمنی او فرهنګی استعدادونه اثبات او په خلکو یې ومنو.

**په افغانستان کې دښکلي لیک ډولونه**

سره له دې چې هند، پاکستان، ایران او عربی هیوادو کی په عین الفبا او طریقه لیک(خط) کیږی او په دغو ټولو هیوادو کې د ښکلي خط هنر و او اوس هم شته، خو څومره چې د امیرعلیشیرنوایی پاملرنه او هڅونه په افغانستان کې تذهیب او میناتور، خطاطی، کتابت او تجلید ته وه، هغه مهال نورو هیوادو کی نه وه. له هغه راهیسې افغانستان کې د خط او میناتور یو ځانګړی سبک رامنځته او نورو سیمو ته خپورشو. هېره دې نه وي؛ کله چې موږ د خط او کتابت خبره کوو، نو دې سره میناتور او تذهیب هم یو ځای وي، دا ځکه چې پخوا عموماً دیوانونه، سپیڅلی کتابونه دلیک تر څنګ د داسې حواشیو لرونکي وو، چې په جدول او

میناتور به جلا کیدل. زیاتره پخوانی افساني او د الف لیلة  په شان آثار او له هغو څخه نور جوړ شوی متنونه د ځناورو، ونو، بوټو او ګلانو د انځورونو لرونکی هم وو. زموږ لومړنیو رسمی جرایدو لکه شمس النهار، سراج الاخبار،امان افغان او نورو هم انځور شوې کلیشې او خطاطی شوي سرلیکونه لرل. په دې توګه د انځورګری او میناتور بحث له خط او خطاطی سره شریک دی.

په افغانستان کې د لیک بېلابېل ډولونه وواو دغه ټول ډولونه د لیک بېلابېلو استادانو کارول، چې نورو هیوادو کی یې ساری نه و.  په افغانستان کې د ښکلي خط ترڅنګ میناتور هم له پخوا څخه دود و. البته اوس هم په نوموړو ټولو هیوادو؛ په تیره بیا ایران اودمنځنی آسیا هیوادو کی هم د لیک دغه ډولونه شته. دغو ټولو خطونو اهمیت درلود، یو تر بل یې زیادت او کمښت نه و، خو د تنوع او په هر یوه کې د قلم دازمایلو لپاره به خطاطانو دهغو په لیک سره خپل هنر زباتاو. دا خطونه لکه: کوفی، ثلث،  تعلیق او نستعلیق، شکست، معقلی، ثلث،نسخ، محقق، توقیع، رقاع او مشجر دي. دغه لیکونه زیاتره په سیاهی او نیی قلم کیږی، خو اوس د نیی په شان نور قلمونه او کیمیاوی رنګونه دود شوي دي.

په ملي آرشیف کې د دغو ټولو ډولونو خطي نادرې او کمیابه نسخې شته. همدا اوس هم ددغو لیکنو کښل او دښکلي هنر په توګه یې وده ترسترګو کیږي. په تیره بیا نستعلیق او ثلث ډیر رواج دی، خو د امیرعلی شیر نوايي د دوران نامتو میناتور او خطاط او شاعر سلطانعلی مشدی  دا ټول دبرابر ارزښت او اهمیت وړ بللی  او ویلی یې وو:

جمع میکـن خطـوط استادان

نظری میفګن در این و درآن

د یو شمیر نامتو خطونو ډولونه چې همدا اوس هم خطاطی کیږی، دا دي:

**کوفي**

دا یو ډیر پخوانی لیک دی. لکه هغسې چې دنړی دټولو خطونو په هکله بیلابیل نظریات ورکړل شوي دي، د کوفی لیک په هکله هم نظریات مختلف دي،ځینی یې منشا عبری لیکدود بولی، ځینی نور یې سریانی بولي. دا خط د اسلام مبارک دین له خپریدو مخکې په ټولو اسلامی ، په تیره عربی هیوادو کې تر ټولو زیات مروج خط و. ډیره لرغونی بیلګه یې  د سوریې  په ختیز کې د حران ښار د(انمارې)  د ماڼې پر یوه ډبرلیک لیدل شوی ده. اوس یې یواځې پنځه کرښې  پاتې دي. په پیل کې یې ځینو حروفو لکه ب، ت، ج او نورو تورو ټکی نه لرل، نوځکه یې لوستل ډیر ګران کار و، وروسته بیا ډیرو حروفو ته ټکی کیښودل شول اوپخوانۍ ستونزه حل شوه. په ۱۷۰قمری کال دغه لیک کاملاً بشپړ شو. دقران عظیم الشان لومړنی نسخې هم په همدغه لیک لیکل شوې وې. دافغانستان په ارشیفونو کې د دغه خط تذهیب شوې بیلګې شته.







*دغه بیلګه د افغانستان د خط د شهنشاه( عزیزالدین وکیلی پوپلزی ده. د خطاط هفت قلمی افغانستان د کوفی خط بیلابیل آثار موږ ته د غوره فرهنګی میراث په توګه راپاتې دي.*

**نستعلیق**

دا دلیک یو ډیر ښکلی ډول دی، چې په افغانستان او ایران کې ډیر مینه وال لري. همدا اوس هم زموږ ډیر خطاطان همدا ډول خط کاروي او د ډیروښایسته آثارو بیلګې لرو. زموږ د ډیرو چاپی او بریښنایی خپرونو عنوانونه، کلیشې، د هټیو او اداراتو لوحې، اعلانونه، ترافیکی لارښوونې، بلبوردونه،اسناد او نور په دې خط لیکل کیږي. پخوا هم زموږد کلاسیک دور زیاتره دیوانونه په همدې لیک خطاطی شوي دي.دیو شمیر

ځیرونکو په وینا؛ دغه لیک د میرعلی په نوم یو چا رامنځته کړ، خو وروسته بیا دمیرعلی هروی او سلطان علی مشهدی (چې د امیرعلی شیرنوایی پرمهال یې دکتابونو او دیوانونو کتابت کاو) په لاس پیاوړی او لا پراخ دود یې وموند. یو شمیر دخط ځیرونکی وایی چې دغه لیک د دوو نورو ډولونو یعنی (نسخ ) او (تعلیق) له ترکیب څخه رامنځته شوی، یعنی (نس+ تعلیق) څخه نستعلیق جوړ شوی دی. د دغه خط په رامنځته کیدو، نسخ او تعلیق  هم په خپل حال او اعتبار پاتې و، خو یوائې د خطونو تنوع کی زیاتوالی راغی. د نستعلیق دخط یوه بیلګه به په ایران کی د افغان خطاط او میناتور ښاغلی میرزایی له ښکلی خط څخه غوره کړو:




په افغانستان کې زیاتره تاریخی اثار، پخوانۍ ودانۍ او ماڼۍ د دې لیک بیلګی لري. لکه بابر بڼ کې، د خوړیاڼو د مملې بڼ کې، د امیر عبدالرحمن خان د زیارت ماڼۍ، په هندوستان کې د افغانی امراوو او سلاطینو د مهال ودانۍ، د مولانا جامی زیارت اود بلخ روضه. داعلیحضرت امان الله خان پر زیارت هم پر نستعلیق خط لیکنه شوې ده او ډیر نور آثار. پیښور کې د عبدالرحمن بابا او خوشحالخان ختک او په لاهور کی د اقبال پر قبرونو د افغانستان خطاطانو دغه لیک کړی دی.



*د بلخ د روضی پر دروازه د نستعلیق خط یوه بیلیګه*

**ثلث**


دا ډوول لیک ډیر مینه وال لري، چې ځینو ورته ام الخطوط او ځینو ورته سید الخط ویلی دی. زموږ زیاتره تاریخی ودانیو او زیارتونو باندې همدا ډول لیک شوی دی.د دې لیک لیکل ترنورو ستونزمن دي. د خط یو شمیر نور ډولونه لکه توقیع او رقاع له همدې خط څخه رامنځته شوی دي. دلته یی یوه بیلګه غوره کوو:




**تعلیق**


دخطونو د بیلابیلو ډولونو یو ډیر ښکلی خط تعلیق دی. د غه لیک ډیر زیات لرغونتوب نه لري، ډیر مروج هم ندی، خو بیا هم ځینی آثار، فرامین او سندونه په دې خط موجود دي. د لیک او خطاطی څیړونکی محمد علی عطار هروی وایی چې  دغه لیک د سلطان حسین بایقرا له سطنت وروسته په هرات کې دخواجه تاج هروی له خوا رامنځته شو. منشا یی توقیع خط دی، خو بدلون پکې راوستل شوی دی. زیاتره یی نسخ خط بولی، خو د ښه ښکاره کیدو په خاطر لږ بدلون پکې راوستل شوی دی. دغه خط توقیع ته ډیر ورته والی لري. دعلامه عبدالحی په وینا دې خط ته ترسل هم وایی دا ځکه چې زیاتره به مراسلات او ډاک کی کارول کید. تصادفی  نده چې د مخابراتو وزارت تر ۱۳۷۰ل. کلونو پورې زیاتره پُستي ټکټونه او نور اسناد په همدې لیک خپرول. د خطاط هفت قلمی  استاد پوپلزی په قلم یوه بیلګې یې دا ده:





**نسخ**

دغه لیک ته حجازی خط هم وایی. دې ته ځکه نسخ وایی چی تر دې دمخه یې نور خطونه منسوخ کړل، اوس په کمبیوتر کې هم دا خط داخل شوی دی، ځینې یې پښتو نسخ هم بولي. دلیک څېړونکی وایی چې دا خط له ثلث څخه استخراج شوی دی. بڼه یی زیاتره ثلث او محقق خط ته ورته ده. د قران عظیم الشان خطاطی پخوا په همدې لیک معمول وه او اوس هم په ډیرو اسلامی هیوادو کې، خصوصاً افغانستان کې ډیر معمول دی. دا خط ساده، واضح، معتدل او روان دی او لوستل یې اسانه دی. د استاد پوپلزی له آثارو څخه به د نسخ یوه بیلګه دلته غوره کړو:





**محقق خط**

محقق په عربی ژبه یعنی ثابت شوی او واقعی. دغه ډول لیک له کوفی او ریحان خطونو څخه جوړ شوی دی، یو شمیر نور څېړونکی وایی چې دا لیک معقلی څخه په لږ بدلون را بیل شوی دی. توري پکې زیږه او په یوه سایز لیکل کیږی، دقت پکې زیات دی، هر تکی خپل ځای لري. دحروفو ترمنځ مناسب واټن او نظم لري. د دغه لیک بازار څلور پیړۍ ښه تود و، په خلکو کې ډیر منل شوی و او خطاطانو هم ورسره مینه لرله. په ټولو اسلامی هیوادو کی قران عظیم الشان هم په همدې لیک لیکل کید. دغه لیک له ریحان خط سره ډیرورته والی لري. دغه لیک تر یوې پیړۍ مخکې پورې په ترکیه کی هم ډیر پلویان لرل.

ځیرنې ښيي چې اسلامی هیوادو او له هغې جملې په افغانستان کې دینی عامل هم دخط په وده او پرمختګ کې رول درلود. ادبی آثار، رسمی او شخصی اسناد به د انسان، ژویو او نوروانځورونو لرونکی وو، خو دزیارتونو، جوماتونو اوقبرونو لیکنو کې به یواځې خط او ځینی وخت به د ګلانو او پاڼوانځورونه وو. دغه دواړه هنرونه؛ یعنی هم خط او خطاطی اوهم میناتور د یو تن کار و. یعنی زیاتره خطاطان به دمیناتور په هنر هم لاسبري وو. یوه بیلګه یې دا ده:

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ



لَمُو

**شکست لیک**

دا یو ډیر هنری او ښکلی لیک دی، ځینی ډولونه یی دومره پیچلي دي، چې یو شمیر کسان یي اسانه نشی لوستلای. لوی استاد علامه عبدالحی حبیبی د خط او میناتوری په ځیرنو کې دا موندلی ده، چې دغه لیک د میرزافصیحی انصاری هروی له خوا رامنځته شو. نوموړی په دې لیک کې خپل یوه شاګرد(میرزامحمد شفیع شفیعی هروی ) ته روزنه ورکړه او شفیعی بیا دې برخه کی ډیر پرمختګ وکړ او په بیلابیلو طرزونو یی مروج کړ. ځینی یې یواځې شکست بولي، خو ځینی نور ورته نستعلیق شکست وایی.شکسته نستعلیق خط د وخت په تیریدو سره پرمحتګ وکړ او یو شمیر نور ډولونه هم ورڅخه جوړ شول.

پخوا به زموږ په اداراتو او رسمی چارو کې خلکو دې ډول خط ته (میرزایی پوخ ) خط وایه. هغه چا به چې دا ډول خط درلود، ډیر ماهر او پوخ مدیر به بلل کید. د ښکلي خط مهارت زموږ په رسمیاتو، ټولنه او فرهنګ کې ډیر ددرناوی وړ کمال و. د پوخ او ښکلی خط لرونکو به ټولنه او دخپل کار په ماحول کې ډیرقدر درلود او ټولو به یې درناوی کاو. اصلاً د مرزا، میرزا، میرزاده،میرزازاده او میرزایی اصطلاحات هم په خط او قلموالو پورې اړه لري. دا په افغانی ټولنه کې یو لوی (منصب) شمیرل کید او د ښکلی خط دلرونکو اعتبار ټولنه کې اوچت و. په دې توګه دغه هنر د وګړي له ټولنیز درېځ سره سیده اړیکه لرله او لری یې. ډیره ښه خبره دا وه چې ډیر کلونه میناتور او ښکلی خط دمعیشت ښه وسیله وه او د معنوی ارزښت ترڅنګ یې مادی اړخ هم دپاملرنې وړ و. دا د خط هغه ډولونه و چې ډیر معمول دي، د دې ترڅنګ یو شمیر نور ډولونه هم شته چې یوائې نوم یې اخلو: طومار، خواشی، عهود، موامرات، امانات، دیباج، مدیح، مرصع، ریاس غبار او بیاض. ځینی وخت د یو ټاکلی سند یا دکتاب ډول ته معین خط کارول کید. مثلاً زموږ په هیواد کی معمولاً دکلیز(جنتری) لپاره ځانګړی لیک، دبانکنوټ لپاره ځانګړی لیک، دتذکرې اود اخبارونو د عنوان لپاره جلا لیک، د عرضپاڼې لپاره جلا، د وکالت او نکاح خط او نورو لپاره جلا لیک معمول و. د کمپوتر او دیجیتل تکنالوژی په راتګ سره هغه دود له منځه ولاړ اوس دکمپیوتر خطونه هم خپل نومونه لری لکه نازو، کروړ، او نور.

د افغانستان ډیر اسناد چې دنړۍ سراسر کې خواره شوي، د دغو ټولو خطونو لرونکی دي لکه د پُست ټکټونه، پاسپورت او نور. دافغانستان بانکنوټ د خپل لومړني ځل نشر څخه تر اوسه د ډیر ښکلی خط او میناتور بله بیلګه ده.

**نتیجه:**

۱.د امیرعلی شیرنوایی دوره په هرات کی دسیاست، هنر، اقتصاد، علومو او ادبیاتو یوه روښانه دوره وه،

۲.سره له دې چې نوایی یو لوی سیاسی چارواکی او د سلطنتی دربار وزیرو، خوپه عین وخت کې د ځوژبو شاعر او لیکوال هم و،

۳.نوایی ډیر ادیبان، هنرمندان او عالمان وروزل او وهڅول، د راز راز هنرونو اوصنایعوودې، عمرانی او زراعتی چارو، ویالو او کانالونو جوړولو او د تجارت ښه کیدو ته یې پاملرنه وکړه،

۴.نوایی په دینی مسایلواو ټولینزو ډګرونو کې خلک یو دبل په وړاندې زغم، لورینې، تساند او درناوی ته وبلل او مهمه دا چې عادت یې کړل.

**پایلنیونه او مناقشه**

هنري تخليقات، رغنده كار او د ژوند د رنګينيو انځور او د روزګار سرې- تودې د ملتونو دتاريخ يوه مهمه برخه وي. په تيره بيا هنري آثار د يو ملت د لوړ روح، د تمدن اوهڅوب وياړ او د دوی د تاريخی دريځ څرګندونه كوي. دا ټول هغه څه دي چې دوی له نورو بيلوي او ځانګړی هويت وربښي. موږ دقيق او موثق اسناد لرو چې خپل هڅوب وربانديې ثابت كړو. ډير ځله اروپائيان زموږ بډای تمدن او ويړفرهنګ ته ګوته په غاښ پاتې شوي دي. كله چې د اسلام مبارک دين افغانستان ته راورسيد، عربی مورخينو زموږ وطن د نړۍ له نوادرو وشمير او تجارت، ودانيو، كرنې، صنعت، كاروانسرايونو او نورو اقتصادی، هنری اومدنی ارزښتونو، پرمختګ او طبيعی منظرو ته يې په حيرت كې شول. كلونه كلونه زموږ پيداوارو لكه لاجبرو او زمردو، او وروسته بيا زموږ معنوی ميراث او وريښې مو صنعت زموږ د وطن نوم په نړۍ كې مشهور كړی و، زموږ د صنعتكارو صنعت ته به دچين تجار په لوړه بيه حاضر و چې ترلاسه يې كړي او داسې نور مثالونه .له بده مرغه اوس داسې بده ورځ راغلی چې زموږ تاريخی سيالان غواړی تر هرڅه دمخه زموږ فرهنګی ميراث يا له منځه يوسي يا يې په جعل سره خپل كړي. دا هڅې ښكاره روانې دي چې موږ د يوه داسې بدوي او بی احساسه ملت په توګه معرفي كړي چې ګواكې له تمدن، هنر، عواطفو، تساند او نورو سجاياوو سره هيڅ اشنايی نه لرو او ملی تاريخ مو ټول بدويت دی، خو تاريخ د دې سرچپه ثابتوی.

ميناتور، خطاطی، تابلو جووړول او ښكلې منظرې كښل هغه كاروبارونه دي چې په فردي ډول ياهم په ټولنيز ډولتوليدات او خدمات ارائه كوي، لږې سرمايې ته اړتيا لري او عايدات يې سره له دې چې لږ وي، خو د كار موندنی، محلی منابعو په كارولو، د خامو توكو د ضياع په مخنيوی او د راتلونكی صنعت د اساسګذاری په برخه كې ډير مهم رول لري. په دغو كارونو كې په يوه كارځای كی لږ شمير كار كوونكی بوخت وی، ممكن د يوې كورنۍ يو يا دوه غړی پكی بوخت وي او يا هم شايد د لاسی صنعت په شكل توليدات ولری، چې مالک يې يو تن وي. دې ډول كاروبارونو ته موږ كوچني تجارتونه هم ويلای شو . صنعت هغه پروسه ده چې دهغې په ترڅ كې خام او نيم كاره توكی په صنعتی كارتمامومحصولاتو بدليږی. پدې ډول تجارتونو كې كوچنی پانګوال، د توليد او خدماتو وړاندې كوونكی، صلاحيت او مسؤليت لرونكی او بالاخره ماليه تاديه كوونكی هماغه يو نفر د كاروبار مالک وي .

يا: كوچني كاروبارونهد اقتصادی فعاليت هغه ساحات دی چې كلني عوايد ، توليدات او ماليه يې كمه وي او په كار بوخت كسان هم پكې كم وي چې له پنځلسو زيات نه وي.

**په افغانستان كې د وړو او منځنی كچې كاروبارونو اهميت**

افغانستان غوندې په وروسته پاتې هېوادونو كې د وړو كاروبارونو ايجاد بيخي زيات مهم او د پلي كيدو وړ دی، ځكه د داسې هېوادونو وګړي د سترو كمپنيو د جوړلو وس نه لري، په افغانستان كې د وړو كاروبارونو د ايجاد اړتيا له دې څخه هم قياسوكولای شوچې، ډير افغانان بېكاره ګرځي او كلونه كلونه د دندې پلټنه كوي خو خپله ددې فكر نه كوي چې يو عادي كار وبار را پيل كړي، همدارنګه په نوره نړۍ كې د دولتي دندو سربيره شخصي كمپنۍ او ادارې هم په زيات حجم سره كارمندان استخداموي چې په افغانستان كې دا برخه هم بيخي په نشت حساب ده، نو د بېكارۍ كچې كمولو لپاره لازمه ده چې كوچني كاروبارونه رامنځته شي.له بل پلوه، كه وكتل شي افغانستان يو مصرفي هېواد دی چې خلک يې زياتو خوړو، پوښاک ، روغتيايي خدماتو، علمی څيړنې او باالاخره يو عادي توليدي او خدماتي برخې ته هم

اړتیا لري نو دداسې یوه هېواد لپاره ضرور ده چې ددې اړتیا له مخې باید چې دولت او عام خلک  کوچنیو کاروباري فرصتونه ولټوي هم به وزګار خلک په کار شوي وي او هم به مو تولیدات خپل وي، یو مثال یې دمیناتور او خط دهنری آثارو عرضه کول دي.

د پرمختللی اوتجارتي نړۍ اوسنی فکر دادی چې ،  واړه کاروبارونه همداسې واړه نه پاتې کیږي د سترو کمپنیو لومړنی پل له همداسې وړو او له کمې سرمایه ګذارۍ څخه اخیستل شوی دی. د نړۍ سترې کمپنۍ چې اوس په نړۍ باندې راج چلوي یو وخت کې همداسې کوچنیو سرمایې ، کارمندانو او کم ځای څخه راپیل شوي دي چې اوس د نړۍ په هر کونج کې خپل تولیدات او خدمات خلکو ته رسوي،ځکه خو ورته د ایجاد لپاره اسانه قواعدو ، خام مواد، ځای او په کمښتکتانې قرضه ورکوي او کوچنې کاروبارونو تقویه کوي.

**رسامی، خط او د میناتور د تابلو ګانو ارزښت د کورونو په ډیکور کې:**

رسامی او منظرې او تابلوجوړول  یو له هغو کاروبارونو څخه دی چې کمې سرمایې او وړوکي ځای ته ضرورت لري. دا صنعت ډالیو او د مراسمو په ډیکوریشن کې هم په کار وړل کیږي.رسامی، خط او میناتور ساده او بیخي کمې سرمایې ته ضرورت لري اما ذوقمندان یې په لوړه بیه پیریدول ته حاضر دي. د ظریف احساس خاوندان او هنر خوښوونکی خوښوي  چې د کور او کار ځای ښه ډیکوریشن وکړي، نو که یو څوک پدې برخه کې ښه وړتیا لري او یو څه اندازه وسایل ولري نو کولای شو چې لدې لارې خپله کورنۍ تمویل کړي. په سلګونه نور واړه او متوسط کاروبارونه شته دی چې ، زموږ د ټولنې اړتیا ته په کتو یې را پیل کولای شو خو دا هر څه جرآت ، حوصله او تر ټولو مهمه خبره داده چې د دولت له لورې ملاتړ لپاره باید ددې برخې لپاره ځانګړې بودجه ، ځای او کوچنۍ قرضې زمینه برابره کړي .

د هغو لویو کاروبارونو یا تجارتونو یومثال چې په لومړي سر کې یې له ډیرو کمو امکاناتو پیل کړی دی، د  هندوستان ټاټا (TATA)د موټرو لویه کمپنۍ ده.  د دې موسس په پیل کی د ګوګړو خاشی جوړرولی او خرڅولی یې یو کوچنی دوکان یې درلود وروړ وړو یې کاروبار ته  رونق ورکړ، نن ورځ د موټرو بیلابیل ډولونه تولیدوی. اصلی پیل کوونکی د اوسنی ټاټا د کمپنۍ بابا و.

د کوچنیو کاروبارونو ګټې داسې خلاصه کولای شو:

- ✓ د بیکاري له  منځه وړل او له محلی سرچینو ډیره ښه ګټه اخیستنه،
- ✓ د مالیاتو د ورکړی په اساس د دولت د عوایدو زیاتیدلو سره مرسته،
- ✓ د وارداتو تعویض  او  آن داچې یو شمیر هنری آثار، دمیناتوراو انځورګری تابلوګانې، دښکلی خط اورسامی منظرې او محلی لاسی صنایع بهر ته صادریدای شی،
- ✓ دنوښتونو هڅونه او د نویو اشتغالاتو د فرصتونو  رامنځته کول،
- ✓ د  راتلونکی لپاره د لویې پانګې د جوړیدو امکان برابریدل، فرهنګی وده او د ښکلا خوښونې د ذوق روزنه،
- ✓ د ټولنیزو ناخوالو، بیځایه بوختیاوو، تور او جرمی اقتصاد له منځه وړل،
- ✓ له  دولتی سکتور سره یوځای د خصوصی سکتور پیاوړی کیدل او د مثبت رقابت لپاره د ډګر پرانیستل کیدل او د انحصار له منځه تلل،

- ✓ څرنګه چې زموږ هیواد یو کرنیز هیواد دی، کرنه لاهم عنعنوی شکل لری، نوځکه موسمی بیکاری پکی شته، د دې دمخنیوی لپاره د کوچنیو کاروبارونو زده کړه مهمه ده ،د دې ترڅنګ شوکانې او داسی نوری دبرې لرو چې د حجاری صنعت ته وربانديې وده ورکولای شو.

**وړاندیزونه**

۱.له درنو څیړونکو څخه هیله کیږی، چې دی برخه کی لازیاتی څیړنی وکړي او د دغه ښکلی هنر او صنعت د وودې لارې وپلټي، داسې زمینه دی برابره شی چی د رسامی شویو تابلوګانو، منظرو، خطاطی دړو او ډیکورنو په عوض زموږ د خپلو کور دننه هنرمندانو اثار بازار ته عرضه شی،
۲.د ړنګې شوې پارک سیمنا پرځای د یوړه داسی فرهنګی مرکز جوړول چې یوه برخه یې د میناتور او خط تابلوګانو او یا هم کاملاً د دغه ښکلی او قیمتی هنر هنرمندانو او کاروباریانو ته په واک کې ورکړل شي،
۳.د افغانستان د ملی ګالري پراخول،
۴.د میناتور اوخطاطی ننداتونونه جوړول او دهرات په شان په کابل او نورو ولایتونو کې د خطاطانو او میناتورانو د ټولنی جوړول ،
۵.له هیواد څخه وتلی مهاجر- مسافر خطاطان، میناتور او تذهیب استعدادونه او نور د ښکلو هنرونو او مستظرفه کاروبارونو خاوندان وهڅول شی چې خپل هیواد ته را ستانه شی، تر دې هم مهمه دا چې د ژوند شرایط ورته برابر، ټولنیز ثبات ټینګ او د مهاجرت عوامل رفع شی.

**ماخذ:**

آریانا دایرة المعارف (۱۳۹۶-۹۹) بیلابیل ټوکونه، دوهمه دوره، د افغانستان دعلومو اکاډمی، دنبراسکا د مطبعي چاپ: کابل افغانستان.

انصاری، حمیده (۱۳۹۴)،شناخت و ارزیابی موضوعی میناتور / میناتور در افغانستان. چاپ ونشر مرکز معلومات در پوهنتون کابل ( )، ۱۳۹۵: کابل افغانستان.

راولند، بنجامین. هنر قدیم افغانستان. ترجمهی احمدعلیکهزاد، وزارت اطلاعات و کلتور، با همکاری مؤسسه انتشارات فرانکلن کابل-نیویورک.
جاناتانا، ل.لیی. (۲۰۰۷)، تاریخ افغانستان از ۱۲۰۷تاامروز(به زبان انکلیسی).

.

رحیمی، عبدالکریم. مکتب هنری بهزاد. انتشارات اتحادیه انجمن‌های هنرمندان افغانستان، چاپ اول، کابل.

شهرانی، عنایت الله خوشنویسان(۱۳۶۴)، کابل-افغانستان.
گلزاد. محمد آصف. (۱۳۹۲)، نگاهی به تحول خط وخطاطی در افغانستان . چاپ مرکز معلومات افغانستان در پوهنتون کابل.
گودرزی، مرتضی. در راه تکامل برخی ویژگی‌های مکتب هرات. مجموعه مقالات همایش بین‌المللی کمالالدین بهزاد، سال چاپ ندارد.

عثمانوف، عارف. (۱۳۶۲) استاد کمال‌الدین بهزاد وهنر خطاطی و نقاشی افغانستان.
غبار، میرغلام محمد.(۱۳۹۳). افغانستان د تاریخ په تګګلوری کې(پښتو ژباړه)، میوند خپرندویه ټولنه،
گردیزی، عبدالحی. زین الاخبار(چاپ جدید- کابل) نخستین چاپ این کتاب در کلکته صورت گرفته که اکنون نایاب است.
محمد اکبر سلام(۱۳۹۰) . په افغانستان کی هنر او ښکلی هنرونه. په کابل پوهنتون کی د افغانستان د معلوماتو مرکز:/ د ځواکمن – ایبل د خپرونو لړۍ، ۲۳۵ شمیره.
مهرگان، مجید. (۱۳۷۸)هنر کتاب¬آرایی دوره تیموری- نقش اسطوره¬ی کهن و نقاشی اقوام بومی در زیرساخت نقوش تزئینی و تذهیب.

۱.آریانـــا دیـــره المعـــارف، شـــپږم ( د ص حـــرف) جلـــد(۱۳۹۶)، د افغانســـتان د علومـــو اکـــاډمی، د نبراسکا مطبعه: کابل – افغانستان.
2.دودیـال، محمـد بشـیر. (۱۳۸۲) پـه افغانسـتان کـی صـنایع او پـه ملـی اقتصـاد کـی دهغـو ونـډه. د کابل پوهنتون د معلوماتومرکز، د اریک گرځنده کتابونو خپرونی ، کابل ـ افغانستان
3.دودیـال، محمـد بشـیر. (۱۳۹۶)، صـنعتی اقتصـاد، درسـی کتـاب- یـار خپرندویـه ټولنـه: ننگرهـار – افغانستان.
4.فرهـــاد، محمـــدعالم. (1380)، صـــنایع دســـتی افغانســـتان، انتشـــارات ادارۀ کتابخانـــههای ســـیار اریک، پیښور، 3، 4 او5 مخونه.
5.فرصـــــت هـــــای ســـــرمایگذاری درافغانســـــتان، گـــــزارش وزارت تجـــــارت وصـــــنایع ۲۰۱۴م.(۱۳۹۴ش.)

6.سیار، نیلوفر (۱۳۸۴)، زندگی زنان قالین باف در شمال افغانستان، اداره حمایت و تقویه مهارتهای رابعه بلخی، بلخ ۵ او ۶ مخونه.

7. سیمه ییزو نجارانو، کلالانو او حرفوی کارگرانو سره سیده مرکی.

8. AISA (2012), Research and Policy Department (RPD) data base

9.Frank, R.Bert. (2010), Principles of Economics.McGraw-Hill Irwin. USA.

10. Mankiw,N.(2005) Principles of Economics(6th edition: Harvard University USA .

11.Stewart, W, H. (1978), What is Industrial Economics, MacMillan Education UK.

12. Symeonidis, W.(2011), Industrial Economics, The London school of Economics and Political Sciences (LSE) print. EC3099,2790099

13. www.carpetour.com او یوشمیر سیاتونه لکه

14.په۱۳۹۹/۱۲/۶نیټه د ملی آرشیف کتنه

**ضمیمه**

**دهرات یونلیک**

د۱۳۹۹ل. کال د کب میاشت کې د افغانستان د ولسمشر محترم ډاکتر محمد اشرف غنی د ځانګړی حکم له مخې پریکړه وشوه چې د هیواد دنامتو ادبیځیرې، امیرالکلام امیرعلی شیرنوایی د زیږیدو د ۵۸۰کال په مناسبت دهرات په ښکلی او تاریخی ښار کې ( دامیرعلیشیرنوایی افکارو ته نوې کتنه) تر عنوان لاندې یو نړیوال سیمینار جوړ شي. د دې سیمینار د تدویر په خاطر د جمهوری ریاست د دفتر د لوی رئیس محمد شاکرکارګر تر نظر لاندی یو کمیسیون وټاکل شو. د سیمنار دتدویر دنده د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وسپارل شوه. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د محترم عزیزالله اروال په مشری تدارک کمیسیون موظف کړ د کمیسیون منشی اغلی خور محبوبه بابکر خیل او یو شمیر فرهنګیانو یی دغړو په توګه په کار پیل وکړ. کمیسیون د هیواد پوهانو او لیکوالو څخه د سیمنار لپاره د مقالو غوښتنه وکړه. له دې امله چی امیر علیشیرنوایی د میناتور او خط کلک ملاتړی و او په خپله هم په میناتور او ښکلی خط باندی پوهید، په دواړو هنرونو کې یې اوچت استعداد درلود، له دې پرته نوموړی دهغه وخت میناتوری اود ښکلی خط ډیر ملاتړ کړی و. د ده پر مهال دهرات د میناتوری د سبک بنسټ کیښودل شو، نامتو کمال الدین بهزاد د دې ښکلی اوسترې مانۍ بنسټګرو. د نوایی د وزارت پرمهال یو شمیر وتلی میناتوران، انځورګران او خطاطان وګومارل شول چی هنری آثار وپنځوی، د ودانیو سینګار وکړی او کتابونه خطاطی کړی، همدارنګه د ده پر مهال دپنځوسو شاوخوا شعری دیوانونه، دینی کتابونه او تاریخونه خطاطی شول، نو د نوموړی د دې ستر خدمت د نه هیریدو په نیامت مې یوه مقاله ولیکله . مقاله دکمیسیون له خوا سیمنار ته ومنل شوه. هغه کسان چې مقالې یې منل شوی وی، هرات ته دسفر کولو لپاره وبلل شول. یو شمیر فرهنګیان د بیلابیلو بوختیاوو او نورو دلایلو له امله دغه سفر کی ملګری نه شول. ما دیوشمیر ستونزو سره سره ځان چمتو کړ او د سفر لپاره چمتو شوم.

سیمنار ته د سلو شاوخوا مقالی استول شوی وی، له دې جملې ۲۷ غوره شوی او دیوې مجموعې په توګه چاپ شوی. مقالی په پښتو، دری، ازبکی، ترکی، روسی او انګلیسی ژبو باندې وې. دغه لوی نړیوال علمی سیمنار ته دهیواد له بیلابیلو ولایتونو، ازبکستان،تاجکستان، قزاقستان، ترکیې او یو شمیرنورو هیوادو څخه میلمانه راغلی وو، دهرات ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ دریاست کار کوونکی او د دغه ولایت لیکوالان هم بلل شوی وو. په هرات ولایت کی میشت د کنسلګریو دیپلوماتان هم رابلل شوي وو. دغه علمی سیمینار او دهغه پرانیستل ډیر شانداره وو، دهغه په ترڅ کې ډیرو فرهنګی دوستانو سره دلیدو فرصت برابر شو.



*دسیمنار دپرنیستو یوه ځنده*

موږ له کابل څخه د دوشنبې په ورځ چې د ۱۴۰۰ل. کال د وري له ۱۶مې سره برابره وه د کابل له هوایی ډګر څخه دسهار لس بجی د هرات په لوری روان شولو. یوولس نیمی بجی د هرات هوایی ډګر کی کوز شولو. د هرات د ولایت مقام، په هوایی ډګر کې د میلمنو ډیر ښه استقبال وکړ. منظم ترانسپورت، دځښلو اوبه، لارښوونکی او دبهرنیانو لپاره ژباړونکی توظیف شوی وو. غرمه موږ هغو هوټلونو ته ورسیدو چې د میلمنو لپاره ریزرف شوی وو. ډوډۍ مو په ګډه وخوړه اود ماسپښین لمونځ مو وکړ. له لمانځه وروسته هر څوک د یو ساعت دمې لپاره اتاقونو ته ولاړل ، کله چی د میلمنو دمه جوه شوه، ټول د هوټل انګړ ته راکوز او له هوټل څخه بهر ښار ته ووتلو. دا وخت دهرات هوا ډیره ښکلی او د کابل په پرتله لږ څه توده وه. بڼونه شنه او ډیر ښایسته وو. جادی او سړکونه منظم او د ښار وضعیت ډیر عالی و. په ډیرو ځایونو کی د امیرعلیشیرنوایی انځورونه، د ده دشعر څو بیتونه، د مشهورو ویناوو ځینی برخی او هرات ته د میلمنو د راتګ له امله د دغه علمی سیمنار بیلبوردونه، ملی بیرغونه او دښه راغلاست لوحې لګیدلې وی. په هغه سبا، یعنی د سی شنبی په ورځ د سهار اته بجی د مولانا تالار ته ولاړو. دغه تالار لویه ودانۍ، د کنفرانسونو لپاره لوی هال، یو څو کوچنی هالونه او د غونډو ځایونه، شین بڼ ، لوی انګړ، پارکینګ او د ګرځیدو ساحه لری.

د کنفرانس اجندا او په دې مناسبت چاپ شوی بولتونونه، ځانګړی کتابچی او دوسیې ګډونوالو ته وویشل شول. په تالار کې له مرکز او نورو ولایتونو څخه راغلیو میلمنو ته ځایونه ریزرف شوی وو. موږ خپلو ځایونو کی کیناستو. ماسره یوځای عموماً د بیلابیلو پوهنتونو استادان او د افغانستان د علومو داکاډمی غړي وو. د لومړی ورځې غونډه د قران عظیم الشان په څومبارکو آیتونو پیل او ورپسې ملی سرود خپور شو. دې پسې وروسته ولسمشر خپل پیغام د ویډیو کنفرانس په بڼه واوراو چې د ګډونوالو له خوا ډیر تاوده هرکلی سره مخامخ شو. په پام کې وه چې دوکتور اشرف غنی به دغه کنفرانس کی ګډون کړی و، خو تصادفاً چې په دغه ورځ له بهر څخه یو هیئات را ورسید او د ډیرو تدابیرو سره سره یې سفر هرات ته ونشو.ولسمشر ډاکتر غنی په خپل پیغام کی د امیر علیشیر نوایی د ادبی خلاقیتونو، هغه پروژې چی ده هغه وخت پلی کړی وی، دجوړونی فکر او د منطقوی اتصال نظریې باندی ډیر ټینګار وکړ. دا چې

ولسمشر د دغه کنفرانس لپاره (د امیر علیشیر نوایی افکارو ته نوې کتنه) ټاکلی و، تصادفی نه و، بلکې موخه یی له همدغو ټکیوڅخه وه چې پورته ذکر شوه. ولسمشر په پریکړو کې ډیر دقت او له مسئولینو ډیرې پوښتنې کوي. دغې شیوې ته په معاصر مدیریت کې د( queuing theory) نظریې په اساس درول شوی طریقه وایی چې په هغې کې له ارقامو( data) ډیر کار اخیستل کیږی، ځینی ورته کمی تګلاره هم وايي. د ولسمشر پیغام کې علمی اوتخنیکی لاربښودونه هم و. د وینا کلمات کم، خو محتوا یې ډیره زیاته وه. ولسمشر دغه سیمینار ته د یوې فرهنګی نمانځنې ترڅنګ، ډیر نور لوی مسئولیتونه هم مخې ته کیښودل. اوس چې خپلو هغویاداشتونو ته ګورم چې ما له دغې وینا څخه ډیر ژر ژر لیکلی و، فکر کوم چې د محتوا د تحقق لپاره یې یوې ستراتیژی جوړولو ته اړتیا ده چې د اقتصادی او کلتوری پالیسی ګډ ترکیب پکې رعایت اوبویه چې د ( system approach) په طریقه پلی شي.

په رېښتیا هم؛ افغانستان اوسنی وخت کې یو ځل بیا دعامه پروژو تطبیق، خلاقیت، د جوړونې فکر او منطقوی اتصال ته اړ دی او د دغو آرمانو وخت را رسیدلی دی.

د ولسمشر په پیغام پسې وروسته، د هرات ولایت د معارف دتراني ټیم چې نجونی او هلکان پکې وو، یوه ملی سندره وویله. ترانه د ګډونوالو له خوا دلاسونو په پړکولو او تودو احساساتو بدرګه شوه.



*دمعارف د شاګردانو د ترانې د اوریدو شیبې*

دې پسې د اطلاعاتو او کلتور وزیر خپله وینا واورله او بیا یوه دمه او د چای وقفه وه. نورو برخو کی د څو وزارتونو پیغامونه د معینانو او نورو استازیو له خوا واورل شول. د کنفرانس د لومړی ورځې دوهمه برخه ورسته تر غرمی د ماسپښین تر لمانځه وروسته دوام وموند چې د ترکمنستان د ولسمشر پیغام او د ازبکستان د دولت دوستانه پیغامونه هم په دې برخه کی وو. څلور بجی دلومړی ورځې غونډه پای ته ورسیده. په دې توګه د علمی مقالو وار په دوهمه ورځ و. دوهمه ورځ د چهار شنبی ورځ وه. غونډه اته بجی پیل شوه. او ګډونوالو په ترتیب سره خپلی مقالی ولوستی. زیاترو لیکوالو د علیشیر نوایی دافکارو، د هغه د ادبی کارونو، سیاسی او اجتماعی فعالیتونه او خدماتو یادونه کړه او د سلطان حسین بایقرا د مدبر وزیر په توګه یې د هغه رول وښود. د ده د څلورو دیوانونو معرفی شوه چې په یوه مجلد کې د خزاین المعانی په نوم هغه وخت خپور کړی و. په دری، عربی او ازبکی ژبو یی نور آثار هم معرفی او کرکتنی

وربانډی وشوی. دهغه وخت عمرانی چاری وستایل شوی او د ده د وزارت دوره د هرات د ریسانس دوره وبلل شوه.

هغه څه چې د وقفی او تفریح په ترڅ کې یې زه ډېر بوخت کړم، هغه د تالار دووخواووته د افغانستان د مشاهیرو انځورونه وو. د تالار دوو اړخونو ته د خوشحال بابا، غلام محمد میمنګی، مرزاالغ بیک، رحمان بابا، البیرونی، مخدوم قلی فراغی، مولانا جامی، ګلبدن بیګم، صلاح الدین سلجوقی، لطفی هروی، محجوبه هروی، سلطان حسین بایقرا، کاشفی، عبدالرحمن جامی، خواجه عبدالله انصاری، ګوهر شادبیګم او کمال الدین بهزاد انځورونه په ډېرې عالی سلیقې سره په ښکلیو میناتورونو کی ایښودل شوی وو.دځینو انځورنو لاندې نقل قولونه هم و چې هر یو یې د کاڼي کرښې او د یوکتاب معناګانو لرونکي وو. ترڅو د انځورونواو یوشمیر ویناوو له کتلو اولوستلو وزګاریدم، دچای وقفه پای ته رسیدلی وه او زه له چای څخه محروم شوم( معلمان تل همداسې وي!). له غرمی ورسته یو ساعت وخت د لوستل شویو مقالو ارزونی ته پریښودل شوی وو. د دغی ورځې ارزونې تر ټاکلی یو ساعت څخه زیات وخت ونیو، خو ټولې خبرې د عالی محتوا لرونکی او په زړه پورې وی. په دې توګه موږ د څلورو بجو پر ځای شپږ نیمی بجی له تالار څخه ووتو، خو هوټل ته تر تګ مخکې مو د ماښام لمونځونه همدلته ادا کړل.

د پنج شنبی ورځ وروستی ورځ وه چی میلمنو ته سوغاتونه، یادګاری عکسونه اخیستل، د چاپ شویو کتابونو ویش او د دوستو هیوادو ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او قزاقستان هیاتونو خپلی خبری واورلی او وعده یی وکړه چی راتلونکی کی به په کلتوری برخو کی افغانستان سره په ګډه نور کار هم کوی. د دغه کنفرانس دمقالو مجموعه په ۲۹۹+۳۷۶=۶۷۵مخونو کې (۳۷۶مخونه زموږ په کورنیو ژبو او ۲۹۹مخونه په بهرنیو ژبو و)په ډېر عالی صحافت چاپ شوی وه، د نوي کال له کلیز سره یوځای ګډونوالو ته وویشل شوه. په کابل کې د مقالو دغه مجموعه، چې د یوه پنډ کتاب بڼه یې لرله، دهیواد پوهنتونواو عامه کتابتونو ته واستول شوه. دپنج شنبې په ماښام د هرات ولایت مقام، د اختیارالدین کلا کې میلمستیا کړی وه. په دی کی دغه تاریخی کلا میلمنو وکتله او دشپې له ډوډۍ وروسته دازبکی ژبی مشاعری سره یوځای د ازبک ځوانانو سید کبیر کمال، خیرمحمد چاوش اوعبدالمجید اندخویی له خوا یو په زړه پورې کنسرت هم ورکړل شو. په هغه سبا دجمعی په ورځ میلمانه یو نندارتون اود هرات تاریخی ابداتو کتنی ته وبلل شول. میلمنو د لرغوني هرات ابدات لکه دهرات اختیارالدین کلا، څلی(مصلی)، دهرات جامع جومات، دامیر علیشیرنوایی زیارت اود ملکې ګوهرشادبیګم زیارت وکتل. په همدې ورځ د هرات ولایت د اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست کې یو لوی نندارتون هم پرانیستل شوی و. په دې نندارتون کې د خطاطی او میناتوری ډېرې ښکلې بیلګې چې د هرات خطاطانو او میناتورانو او د هرات د پوهنتون د ښکلوهنرونو د پوهنځي محصلانو راالیړلی وې، ایښي وی.دهرات د لاسی صنعت بیلګې، د هرات د ورېښمو او زېران دتولیداتو بیلګې، دهرات د ځانګړی سبک لرونکی کاشی او سرامیک، په هرات کی جوړ شوی د موسیقی آلات لکه رباب او دمبوره، سونډی ټوکر، ګلیمونه او هراتی غالی، جاینمازونه، کلالی لوښي، له بیلابیلونرسریو څخه د زینتی ګلانو بیلګې، په هرات کی چاپ شوی نوی کتابونه، هراتی خامک او مُهره دوزی، دخرمن تولیدات، مسی لوښي، لرګین صنایعاو یوشمیر محلی تولیدات هم ننداري ته ایښودل شوي وو. په دغه نندارتون کې مو له یو شمیر طبیعی بوټو او تیږو څخه د رنګ د تولید پروسه هم ولیدله. دغه نندارتون ماته د کلتوری اړخ ترڅنګ، له اقتصادی پلوه هم ډېر مهم او په زړه پورې ښکاره

شو. د هرات دصنايعو د مسلکی انستيتيوت د نجونو لاسی صنعت ترټولو غوره او دستاينې وړ برخه وه. د دغی ليسې پيغلو په خپلو نازکو ګوتو راز راز اوبدل شوی خامکونه، مهره دوزی، دسمالونه او د رسامی او د خط بيلګی ننداړتون ته راوړې وې.

ما له کابل څخه يو ناچيزه سوغات ''برګ سبز تحفه ی درويش'' (داقتصاد پوهنځيو ته زما څوتاليف شوی درسی کتابونه) وړی وو، د سيمنار په دوهمه ورځ د انانسر له خوا دهغو اعلان وشو او د هرات پوهنتون ته يې ډالۍ کړل. د چای په وقفه کې د هرات دپوهنتون رييس صاحب چی د چايو پياله يی لاس کی وه، ماته راغی، زه چی د علومو اکاډمی له څو تنو استادانو سره په خبرو وم، له هغوی مې ښننه وغوښته رييس صاحب سره په خبروشوم. دهرات پوهنتون رئيس صاحب، پوهندوی دوکتور عبدالله فايز سره می څو ځله پخوا هم د لوړو زده کړو وزارت کی په ځينو رسمی غونډو او کنفرانسونو کی ليدلی و، ډير دروند عالم، مخلص دوست، خواريکښ استاد او ښه بريالی مدير دی . د کتابونو له املې يی مننه وکړه، په دغو کتابو کی يو يې (منطقوی اقتصاد) و . دغه مضمون تر څلور –پنځو کلونو مخکی زموږ د اقتصاد پوهنځيو په نصاب کې نهو، يعنی يو نوی مضمون دی. ويې غوښتل چې د سيمنار له پای ته رسيدو وروسته يوه ورځ پوهنتون ته ورشم او د منطقوی اقتصاد او د خواف لويې لارې د اقتصادی اهميت او نورو موضوعاتو په اړه محصلانو ته يو لکچر ورکړم.د خواف نوې لاره همدې وروستيو کی له ايرن څخه هرات ته رارسيدلی وه، په دې هکله د تهران راديو زمايوه مرکه هم نشر کړی وه. د دغی لنډې تفريح او مرکې په ترڅ کی می رييس صاحب ته د ښکليو هنرونو او مستطرفه صنعت او د طبيعی رنګ خبره وکړه، رييس صاحب وويل چی د هنرونو د پوهنځی محصلانو ته به په دې هکله هم خبرې وکړی، خو دا کارونه يو هم ونشول، ځکه چی د سيمنار په پايته رسيدو سره سم موږ هوايی ډګر ته راغلو او الوتکه کابل ته د راتګ لپاره چمتو وه. دهرات د پوهنتون رييس صاحب د ځان ارزونی د پروسې او دغه پوهنتون کی د نويو لاسته راوړنو خبره را ته وکړه. زه تر دې مخکی څلور ځله په رسمی توګه د هرات پوهنتون ته تللی وم، دا دی اوس له هغه وخته تر اوسه دغه پوهنتون کی ډير زيات پر مختګ شوی و، چې زما لپاره ډير دخوښی خبرو، خو يوځل بيا هلته ورتللو؛ په تيره د يوه لکچر د ورکولو ارمان مو په زړه پاتې شو. که زموږ سفر يوه ورځ بل وخت لرلای، ممکن د هرات د پوهنتون داقتصاد پوهنځی کی مو د خواف ريل پټلی څخه برعلاوه د آقينی او تور غونډۍ دبندر او د تاپی پروژې په هکله هم خبری کړی وای. دا ځکه چی نن ورځ څلورم صنعت په معاصر اقتصاد کې مهم دريځ لري او بايد افغانستان دې پراو ته ننوځي.

په وروستی ورځ يو ښايسته اوبااستعداده ځوان زما خواته راغی، نوموړی سيدکبيرکمال و چی تيره شپه يې ازبکی سندره وويله، د ده سندره د کنسرت د ټولو ليدونکو(په تيره زما) ډيره خوښه شوه. پرون شپه د پرکنده تيزو رڼا ګانو په ځلا کې له ازبکی ښايسته چپنی او سرې ټوپی سره يو څه بل ډول ښکاريد، خو اوس راته نږدی مخامخ ولاړ و. ځان يی راته معرفی کړ، ډير خوښ شوم. ده وويل چی د اقتصاد پوهنځي څخه فارغ يم او تاسو مو ليدلی ياست. ماته يی د اقتصاد پوهنځی کی د پوهاند نذيراحمد شهيدی په نوم د اقتصاد د پوهنځی د اديتوريم د نومولو ورځ را ياده کړه. ډيره خوږه مرکه يی کوله ، په پښتو يې ډيرې خوږې او روانی خبرې کولې. په لنډ ډول يی خپله کورنې را وپيژنده او د خپلو هنری کارونو يادونه يی وکړه . ده وويل چی کمال زما نيکه و او هغه هم سندری ويلای شوی. له دغه ځوان سره می خبرو د درې ورځو ستومانی را څخه هيره کړه. کومه سندره چی پرون شپه ده ويله، ما ته يې د څلويښت –پنځه

 څولیښت کاله مخکې د راډیو افغانستان د کرنی او مالداری پروګرام رایاد کړ. په دغه پروګرام کې د سپین زر شرکت او د پومبې د ترویج هڅې کیدی، په شمال ولایتونو؛ په تیره کندز کې د پومبې دکښت ترویج دهغه وخت یوه مهمه پروژه وه، نو رادیو په دې مناسبت دغه برنامه کی یوه محلی ازبکی سندره نشروله، دغه سندره ایله درې دقیقې وه. سیدکبیر کمال د دغې سندرې طرز او نوم را ته تشریح کړ. ده وویل چې دغه سندره ما له خپل بابا څخه په کوچنیوالی زده کړی ده. کمال راته دخپل تیلفون شمیره هم راکړه او د خپلو سندرو یوتیوب او دانلود او آپلود یې هم وویل، خو زه د پنجصدوسی د ټیپ او د پلاستیکی کسټونو د دوران سړی یم! ما وخت ونه موند چې په نیټ کی یې ومومم. له ده څخه د دوی د ډلی د یوه بل ځوان پوښتنه وکړه، چې پرون شپه یې موږ.ته (فرزند من) سندره واورله، ده ډیر وخندل، ویې ویل: استاد؛ او مجید جان نام دارد، در همین هوتل در دهلیز شما اتاق دارد از جوزجان آمده. ماته را یاد شو. ریښتیا هم پرون می یو ځوان د هوټل دهلیز کې ولید، چې دموسیقی وسایل ورسره وو، همدا عبدالمجید اندخویی و. ما ویل چې هوټل ته ورسیدم ده سره به یو څو شیبې کینم، خو دا فرصت برابر نشو. په هغه شپه له ښاغلی خلیل زاده سره په خبرو شوم. هغه دفاریاب یو معزز مشر دی اوس کابل کې اوسي. په دې توګه له اندخویي ځوان سره د بنډار فرصت هم له لاسه ووت.د ولسمشری د مانۍ د دفتر کارکوونکی ښاغلی فرهمند چې موږ سره له کابله د یوه هیئت په مشرۍ، ددغه سیمنار د سمبالښت لپاره تللی و، خلیل زاده ته زښت ډیر درناوی کاو او د ډیرې بوختیا سره سره یې ده ته ځان رساو . خلیل زاده راته وویل چې د فرهمند پلار زما برادرخوانده دی، دوی اصلاً د فاریاب دی اوس کابل کې اوسي.

د نندارتون د کتنې پر مهال نیم میلمانه نه و راغلی، دا ځکه چې یو شمیر یې د جمعې د ورځې له رخصتی په استفادې، د سوغاتونو د اخیستو په موخه بازار ته وتلیوو. باید هیر نه کړم چې د خط او میناتوری په ننداراتون کې د هرات پوهنتون د ښکلیو هنرونو د پوهنځی د دوو تنو محصلانو (میرولی احمد هروی او محمدابراهیم حبیبی) کار بیساری جذاب، هنری او ښکلی و. دبسم الله فرامرزی سروری، نجیب الله انوری او عبدالحیکم کریم زاده هنری استعداد او کار دستاینی وړ وګرځید. د ننداتون په جریان کې می د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس صاحب سره خبرې وکړی او په ګډه مو دهغه فرصت له لاسه وتل یاد کړل چې یونسکو باید هرات او دهرات سبک دفرهنګی میراث په توګه نه وای هیر کړی. رییس صاحب وویل چې موږ دا موضوع هماغه وخت د رسمی لیک په ذریعه مرکز ته استولی وه، خو وخت ضایع شو او خبره پاتې شوه. دا دی اوس همدا نن چې د فرهنګی میراث د ثبت ښه زیری واوریدل شو ټولو هیوادوالو ته یې د دغه یونیلیک په ترځ کې مبارکی وایم. ما ته د هرات سفر او د امیر علی شیرنوایی دعلمی سیمینار خاطرات ډیر خواږه او نه هیریدونکی وو. موږ د هفتې په ورځ چې د ورې د میاشتې له یوویشتمې سره برابره وه مازیګر بیرته کابل ته راورسیدو.